

Ketabton.com
Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم


د ا کتاب

نوم یې : د هجر اوښکې

لیکوال : زاهدالله ځلاند

اړیکه : 0764116713

ایمیل ادرس : Zahidullah.zaland24@gmail.com

خپرندوی : حیدرخېل ادبي بهیر (خوست)

خپرنلړ : (۳۱) یو دېرشم

چاپ شمېر : (۱۰۰۰) زر ټوکه

چاپ ځای : میرویس کاروان مطبعه (خوست)

چاپ کال : ۱۳۹۶ هـ ش / 2017

پښتي، کمپوز او ډیزاین صابر ګل زیار

د موندنې ځایونه:

- ✓ اریانا کتاب پلورنځی
- ✓ لیوال کتاب پلورنځی.
- ✓ خیرالناس کتاب پلورنځی.
- ✓ شاهین کتاب پلورنځی.
- ✓ فیصل کتاب پلورنځی.
- ✓ انور شهاب کتاب پلورنځی دوسره که بازارکوټي (حیدرخېل).
- ✓ علمي کتاب پلورنځی (ګردیز).




Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپلې ګرانې او مهربانې مورجانې ته، چې زما په
پالنه او روزنه کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې
کړې دي، په پوره نړۍ مینه ډالۍ کوم.

زاهد ځلاند



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپرندوی بهیر یادښت

د پښتو ادب او فرهنګ او مورنۍ خوږې ژبې (پښتو) د ښه چوپړ او خدمت په موخه حیدرخېل ادبي بهیر تل هڅه کړې او کوي یې، چې ادبي بنډارونه، شاعرانه راټولېدنې، د کره کتنې محفلونه او علمي سیمنارونه جوړ او هېوادوالو په ځانګړې ډول خوست مېشتو فرهنګپالو ته دا ثابته کړي چې دغه بهیر یو هڅیالی او زیار ایستونکی بهیر دی.

نوموړي بهیر د خپل زیار او هڅو په نتیجه کې ډېر زلمي شاعران او لیکوالان له دې بهیر سره په ګډ یون له ځانه سره د بریا او ښې غوړېدنې د ستر او ښېرازه کلي په لور روان کړي او رهبري کړې دي. حیدرخېل ادبي بهیر تل له دې پښتانه ارمان او پښتنې هیلې سره مخ په وړاندې ځي، چې د هغو زلمکیو شاعرانو شعرونه، ناولونه، ژباړې.... چې د پښتو د ادب په زرین اسمان کې یې د ځلېدونکو ستورو په څېر ځای نیولی دی له ورکاوي څخه وژغوري او کتابي بڼه ورکړي.

یاد بهیر دا ځل د کتابونو د چاپ د لړۍ یو ډېر شم ګام د زاهدالله ځلاند ناول (د هجر اوښکې) د چاپ په بڼه سمبال کړی دی. په ناول کې په قاچاقي بهرنیو هېوادونو د سفر او د هغې د ستونزو په اړه واضح معلومات وړاندې شوي دي، هیله ده په مینه یې ولولئ.

مونږ په خپل وار د دغې ناول مبارکي زاهدالله ځلاند ته، ټولو خوست مېشتو فرهنګیانو، شاعرانو، لیکوالانو، د پښتنې فرهنګ خواخوږو او په تېره بیا ناول لوستونکو ته وړاندې کوو.

ځلاند ته د زیاتو بریاوو په هیله.

شاکرالله شاکر

د حیدرخېل ادبي بهیر مشر



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د حيدرخېل ادبي بهير لخوا چاپ شوي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال/ شاعر | چاپ کال |
|---|---|---|---|
| ۱ | حيدرخېل ادبي ستوري | ببلابېل شاعران | ۱۳۸۸ |
| ۲ | تاخو ويل چې زه به ننبه درکړم | نورشاه نوران | ۱۳۸۹ |
| ۳ | ملي مبارز علامه محمود طرزی | نصراحمد روښان | ۱۳۸۹ |
| ۴ | منګي او تږي | نواب صديقي | ۱۳۸۹ |
| ۵ | درد (ناول) | لاهور جان همت | ۱۳۸۹ |
| ۶ | کول ايډيټ | نظيف ساحل | ۱۳۸۹ |
| ۷ | د هوسۍ اوښکې | نواب صديقي | ۱۳۹۰ |
| ۸ | يبره (د هايکو ټولګه) | محمد الله مقبل | ۱۳۹۰ |
| ۹ | يوه شيبه مې له زړه نه ووځې | زاهدالله عاطف | ۱۳۹۰ |
| ۱۰ | ظهور ګرامر | شاکرالله شاکر | ۱۳۹۱ |
| ۱۱ | خوست کې ګرمي د ه ماته کيږده چنارونه | ببلابېل شاعران | ۱۳۹۱ |
| ۱۲ | سيند په اوښکه کې | نظيف الله نظيف | ۱۳۹۱ |
| ۱۳ | د نړيوالو سازمانونو د رامنځته کېدو تاريخي بهير | پوهنيار محمدالله مندوزی | ۱۳۹۱ |
| ۱۴ | حرارت فزيک | مولاخان زيارمل | ۱۳۹۲ |
| ۱۵ | د نهکمرغۍ او برياليتوب راز | ژ-نصيراحمد روښان | ۱۳۹۲ |
| ۱۶ | چې په سهار کې مې لمانځه ته بولې | جلال خپلواک | ۱۳۹۲ |
| ۱۷ | طالبه زړه دې رانه يوړو (ټپيزې) | مازديګرګل تکر | ۱۳۹۳ |



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۸ | ما مه پرېږده یوازې (ناول) | محمدخان ریحان | ۱۳۹۳ |
| ۱۹ | ظهور ګرامر (دویم چاپ) | شاکرالله شاکر | ۱۳۹۳ |
| ۲۰ | چې روانېږې لاس دې راکه (تپیزې) | مازدیګر ګل تکر | ۱۳۹۳ |
| ۲۱ | د نړیوالو سازمانونو د رامنځته کېدو تاریخي بهیر (دویم چاپ) | پوهنمل محمد الله مندوزی | ۱۳۹۴ |
| ۲۲ | اساسي حقوق او سیاسي مؤسسې | ژ-پوهنمل محمد الله مندوزی | ۱۳۹۴ |
| ۲۳ | زلزله (ادبي توټې) | نسیم لېوال | ۱۳۹۴ |
| ۲۴ | طالبه زړه دې رانه یوړو (تپیزې) دویم چاپ | مازدیګر ګل تکر | ۱۳۹۴ |
| ۲۵ | زما د مینې ډیوه | رحمن الله تنی | ۱۳۹۵ |
| ۲۶ | د مازدیګر سترګه ډوبیږي | مازدیګر ګل | ۱۳۹۵ |
| ۲۷ | یو د شیبه مې له زړه نه ووځې | زاهدالله عاطف | ۱۳۹۵ |
| ۲۸ | د شهید لېوانګل حبیبي یاد | ببلابېل لیکوالان | ۱۳۹۵ |
| ۲۹ | د عمومي نړیوالو حقوقو د شخصیتونو پېژندنه | پوهندوی محمد الله مندوی | ۱۳۹۶ |
| ۳۰ | خوست کې ګرمي ده ماته کېږده چنارونه (دویم چاپ) | ببلابېل شاعران | ۱۳۹۶ |
| ۳۱ | د هجر اوښکې | زاهدالله خلاند | ۱۳۹۶ |



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه وټکېده، بوډۍ سلام وکړځاوه، وټوخیده، دروازې ته یې وکتل، چې ترنیمايي لرې شوې وه. پر ملنګ یې سترګې ولګېدې، خدای (جل جلاله) ته یې لاسونه پورته کړل، لنډه دعا یې وکړه، له سترګو یې اوښکې وبهیدې.

پورته شوه ملنګ ته یې سترګې وروا وښتې، ملنګ ځوان ښکاریدو، ښایسته او ډنګه ځواني یې درلوده. د ږیرې او د سر ویښتان یې دومره لوی شوي وو چې له ورایه د لیونی غوندې ښکارېده.

بوډۍ په ځیر، ځیرور وکتل، لکه چې ویې پیژانده، شاید پخوانی دعا یې هم د هغې په حق کې کوله، له سترګو یې اوښکې بهیدې او د ګریوان لاره یې خپله کړې وه، بوډۍ د دروازې په طرف په حرکت کې وه او خپله لاره یې لنډوله.

د ملنګ هم زړه وار ونه کړ، هیجاني ښکاریده، د دروازې پر درشل یې پښه کېښوده او کورته دننه شو، په سترګو کې یې د خوښۍ اوښکې وځلیدې داسې ښکاریده، لکه په لمړي ځل یې چې دا دنیا لیدلې وي، د بوډۍ له خولې ورو، ورو دا غږ راوتو چې زویه! زویه! دا ته یې؟ زه خو خوب نه وینم؟ او د ملنګ له غاړې یې لاسونه تاو کړل.

په چیغو چیغو یې وژړل، یوه نه انځوریدونکې صحنه وه، دواړو داسې د زړه له خلاصه ژړل چې تا به ویل؛ زړه به یې وچوي، خو داسې ونه شول، دا د خوښۍ اوښکې وې او د خوشحالي ژړا وه، بوډۍ ملنګ پر تندي ښکل کړ، له



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسـه یې ونیوه او کوټې ته یې دننه کړ، ملنګ پر زاړه پوزي کېناستو، یوې اوبلې خوا ته یې سترګې واړولې.

دا یوه کوچنۍ کوټه وه، دیوالونه یې له ختیو څخه جوړ وو، د پاسه پرې لرګي ایښودل شوي وو، مخامخ دېوال ته یو ښکاري ټوپک او یوه توره ځوړنده وه، ځوان په سوچونو کې داسې ډوب و، چې د بوډۍ یوه خبره یې هم نه اوریده.

بوډۍ د ملنګ پر سر لاس ور تېر کړ، ګډ وډ ویښتان یې ورته سم کړل، ملنګ مخ ور واړوه او له سترګو یې اوښکې روانې شوې، بوډۍ د زاړه پړوني پرڅنډه اوښکې ور پاکې کړې او زیاته یې کړه: زویه! شکر چې ته راغلې، خدای (جل جلاله) ماته بېرته نوی ژوند راکړ، ماته یې خوشحالي راکړه، سترګې مې روښانه شوې، زه پوهېدم چې ته به خامخا راځې، هر څوک ما پرېښودی شي، خو ته ما یوازې نه شې پرېښودی، اخ! زما ښکلیه زویه! زما نازولیه زویه! دا په څه حال شوی یې، زه پوهېږم چې څومره تکلیفونه به در باندې تېر شوي وي، مسافري د سړي عمر کموي، خو په دې حال هم ډېر شکر چې ته راغلې.

دا زما لپاره هر څه دي، ستا په لېدو مې ټولې ګیلې ختمې شوې، د ژوند ټول تکلیفونه مې له یاده ووتل، شکر خدایه ډېر شکر چې زما زوی دې ماته راوستو، زویه! ته کېنه، زه چای راوړم.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینب او ښکلا ته به هم زیری ورکړم، خدای (جل جلاله) خبر دی، څومره به درته خوشحاله شي، بوډۍ پورته شوه، له کوټې بهر ووته، ملنګ په سوچونو کې ډوب شو، له ځان سره یې وویل: یه خدایه! مور مې څه وایي، کومه زینب او کومه ښکلا یادوي؟ دی لا په دې سوچو نو کې و، چې د کور د لویې دروازې درز شو او څوک په بېړه ترې راتېر شول، په لوړ اواز یې د وروره! وروره! نارې وهلې. دواړه غبرګې د کوټې له دروازې دننه شوې، په حیرانۍ یې د ملنګ غوندې سرې ته ور وکتل، په سوې غړیې په یوه اواز د وروره نارې کړې او د خپل ورور په غېږه کې ورپرېوتې.

د زړه له خلاصه یې په چیغو، چیغو وژړل او د څو شېبو لپاره یې له سترګو د خوشحالۍ اوښکې وبهېدې، ملنګ دواړه پر خپل ځان پورې کلکې ونیولې، هیجاني ښکاریده، یو داسې څوک یې په غېږه کې پراته وو چې ده هیڅ نه پیژندل او تر تولو نږدې اړیکه یې ورسره درلوده، په یو او بل مخ یې دواړه خویندې ښکل کړې، مور یې له دروازې را ننوته، چای یې د ملنګ مخې ته کېښود.

ښکلا چې له زینب څخه مشره ښکاریده، پیالې یې ډکې کړې، څوان د مور پر طرف ور وکتل، مور یې مخې ته کېناسته، ځوان په بنده، بنده ژبه وویل: مو... مورې هغه... هغه زما پلار ماما... د ماما ناوې او... او.... هغه.... هغه سیما هغوی چېرته دي؟ مور یې خپلې اوښلنې سترګې د پړوني پر څنډه پاکې کړې او زیاته یې کړه: زویه! کلونه تېر شوي دي، د چا قسمتونه چېرته او د چا



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمتونه چېرته دي او د چا روزي ختمې شوې دي، مور يې همداسې خبرې پسې وغزولې، خو ملنګ رړ رړ ور کتل.

د بوډا کليوال کيسې يې ذهن ته راغلې او خبرې يې يوه، يوه ورته رښتيا ښکارېده، تياره په خوارېدو وه، ورځې خپله واکمني شپې ته ور سپارله، پر اسمان وريځې را خوارې شوې، تا به ويل؛ لکه چې اسمان هم د دغې غمجنې کورنۍ پر دې غمجنه صحنه زړه را ډک شوی دی او د خپلو اوښکو تويېدو لپاره يې وريځې لا پسې پخې کړې، څو شېبې وروسته په شرک سره باران شروع شو، بوډۍ ملنګ له متو ونيوو، و يې ښوراوه، وې ويل: زويه! ته خو ښه يې کنه؟

ملنګ سلګۍ وکړه، لکه له خوبه دې چې را ويښ کړی وي، د مور لاسونه يې پر خپل وجود باندې احساس کړل، خواړه ور ولګېدل، کلک يې پر خپله سينه ونيول، پر خپلو سترګو يې ومو ښل او ښکل يې کړل، دا چې پياله ور څخه سره شوې وه، زينب ورته مخته پياله ونيوه.

ملنګ يو څو غړپه ترې وکړل، د کوټې له چت د باران څاڅکي راتويېدل او پر څمکه له لګېدو سره يې ټکا پورته کېده، څو ځايه کوټه راڅڅېده او ښکلا به په څاڅکو پسې ګرځېده او لوښي به يې ورته کېښودل، ترڅو کوټه لمده نه شي، خو ملنګ بيا له ټک، ټک ډېر خوند اخيسته

لسګونه او سلګونه خاطرې يې ورته يادولې، زينب د شاه له طرفه پر ورور لاسونه را تاو کړل، ده د جينۍ سر پر خپل زنګون کېښود، بوډۍ وويل:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به د خوراک لپاره یو څه راوړم، بوډۍ له کوټې ووته، ملنګ له خپلو خویندو سره په ډېره مېنه خبرې کولې، دوی ډېرې خوشحاله معلومېدې

زینب وویل: وروره! ته خو به بیا چېرته نه ځې کنه؟ او همداسې یې خبرې پسې وغزولې، ورور جانه! زما باور و چې ته به خامخا راځې، هغه د کونډې لور به هر وخت پیغورونه راکول، چې تاسو خو هیڅوک هم نه لرئ، خو ما به ستاسو یادونه هر وخت ورته کوله، ویل به مې زما ورور به راشي بیا به زه تاته وښیم چې زمونږ څوک شته کنه؟

زینب غلې شوه، ښکلا وویل: د اختر په لومړۍ ورځ دې خان صاحب لور نوې جامې اغوستې وې، ماته یې وویل چې ته خو پلار هم نه لرې او ورور دې هم ورک دی، زه ډېره خفه شوم او ډېر د بې کسۍ احساس مې وکړ، ښکلا غلې شوه، څو شیبې وروسته بوډۍ کوټې ته راغله، د ملنګ مخې ته یې ډوډۍ کېښوده، د څو ورځو سره ډوډۍ یې په دومره خوند سره وخوړه، چې تا به ویل د نړۍ تر ټولو لوی لوی نعمتونه یې مخې ته ایښودلي دي.

ملنګ ډوډۍ په ډېر خوند سره وخوړه، مور یې په اوږدو دعا وکړه او خدای (جل جلاله) ته یې په څو، څو وارې د شکرانې لاسونه پورته کړل، ښکلا دسترخوان ټول کړ، مور یې وویل: زویه! اوس دا راته ووایه چې دا څو کلونه دې څنګه تېر کړل او څنګه دې مونږ پیدا کړو؟ ملنګ وویل بس! مورې پرېږده ترخه وختونه وو تېر شول. زینب وویل: نه وروره مونږ اوس له ترخو سره بلد شوي یو، ته به دې د ژوند کیسه خامخا مونږ ته کوې کنه مورې! بوډۍ مور یې د (هو) په مانا سر وخوځاوه.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملنګ وویل: بسه نو بیا غوږ شئ: کله چې له دې ځایه روانېدم، تقریباً ځوارلس کلن به وم، مور یې هم د (هو) په معنا سر و خوځاوه، ملنګ بیا خپله کیسه پیل کړه، سهار وختي وو په سپینه وا وره لمر خپل زیړ رنګ ښکاره کړ، سخت ساړه وو، چې د کابل اډې ته ورسیدم.

یو لوی (ششپای) موټر ولاړ و، موټروان د کابل! کابل! ناري وهلې، ډېر خلک ولاړ وو، زه هم ورسره ودرېدم، موټروان وویل: کابل ته ځې؟ ما د (هو) سر ورته وخوځاوه، بالاخره موټر ډک شو، ټول په موټر کې کېناستو. د موټر پر سر تور ترپل تړل شوی و، موټر حرکت وکړ، لاره ډېره خرابه وه، موټروان ډېر په احتیاط سره تګ کاوه، وا وره ډېره زیاته شوې وه، موټر کرار کرار مزل کاوه، غرمه شوه ټولو د ځان سره له کوره دومره څه را اخیستي وو، چې په لاره کې یې وخوري، خو یو زه بدقسمته وم، چې هیڅ راسره نه وو. ډېر وږی وم خو چاره نه وه، وایي: ناکام پهلوان دی، (تېرا) ته ورسیدو، ټولو دعاګانې کولې، ترڅو په خیر ور څخه تېر شو، له یوې کولایې موټر تېر شو، خو نور یې حرکت نه شو کولای، وا وره ډېره زیاته وه، اسمان شین و، سوړ باد لګېده، موټروان وویل: ټول را کوز شئ، ټول له موټره رابښکته شو، موټر بیا حرکت وکړ، د (تېرا) تر سر پورې مونږ پیاده لاړو ډېر زیات ساړه مې کېدو او سخت وږی شوی هم وم، بیا موټر ته ور پورته شوو، مازدیګر و د شپې ناوخته لوګر ته ورسېدو او شپه مو په هوټل کې وکړه.

سهار د هوټل شاګرد غږ وکړ، لمانځه ته پورته شئ! لمانځه مو اداء کړل، چای مو وڅښلو او بیا مو د کابل پر لور حرکت پیل کړ، کابل ته



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسېدو، شپه مو په کابل کې وکړه، په لومړي ځل مې کابل ولید، ډېر ښایسته راته ښکاره شو، هرې خوا ته مې کتل، زه خو په لومړي ځل له کوره وتلی وم، د شپې تیاره په خوریدو وه، د نیمروز د موټرو تم ځای ته په پوښتنو، پوښتنو ور ورسېدم، همدلته په یوه هوټل کې مې ډوډۍ وخوړه، نور هم زیات خلک ناست وو، څوک چېرته او څوک چېرته په سفر روانېدل، د شپې په دوو بجو موټر ته پورته شوو او موټر د غزني پر طرف حرکت پیل کړ.

د غزني پر لاره ډېره واوره پرته وه، له ساړه مې طاقت نه کیده، د وجود ټول اندامونه مې رېږدیدل، په موټر کې یو ځوان څو ځله په ځیر، ځیر را وکتل، بیا را پورته شو له ځان تاو کړې څادر یې ماته ونیوه، ما وویل: نه بیا به ستا ساړه وشي، هغه مې تر ځنګ کېناست څادر یې زما پر اوږه را واچوه، ډېر مهربانه ښکارېدو، ویې ویل: کله چې وړۍ کیږې، بیا ماته وایه، له همدې خبرې سره پورته شو او پر خپله څوکۍ کېناست.

له ځنګ ملګري سره یې خه وویل او د افسوس په مانا یې سر وخوځاوه، څادر مې پر ځان باندې راسم کړ، موټر به کله د واورې له املهٔ یوې او کله بلې خواته ښوییده، له زابل او قندهار ور تېر شوو، هرات ته په رسېدو ډېر ستومانه شوي وو، په لاره کې دوه کسان نور هم راسره ملګري شول، چې ټول څلوېښت کسان شوو.

ترڅو سبا سهار ایران ته روان شو، پر سبا مو ځانونه څلورو قاچاقبرانو ته وسپارل، پیسې یې له اوله را څخه واخیستې او وعده یې راسره وکړه، چې مونږ به دوی د ایران مرکز تهران ته رسوي، ټولو په پټه خوله ورسره ومنله،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول يې يو لوی موټر ته ور دننه کړو، څلور کسه قاچاقبران وو، هر يو لس لس کسان سره وو پښل.

لومړی خو په ما لانجه وه، هيڅ يو قاچاقبر ورسره نه پرېښودم، ما ورته وويل نو بيا مو ولې دې ځای ته راوستم او پيسې مو را څخه واخيستې؟ په دې وخت کې همغه مهربانه ښکلي او ځواکمن ځوان وويل: چوپ شئ دا فکر مو ولې له اوله نه کولو، چې يو ځل مو راوستو، نو اوس به له مونږ سره ځي، په دې وخت کې د ايران پولې ته نږدې شوې وو.

قاچاقبر وويل: دلته ځای، ځای پوستې وي، خو پوليس پکې کم، کم وي نه شي مو را نيولی، زما پر خبرو به عمل کوئ، ټولو خبره ورسره تاييد کړه، په پښو روان شوو، موټر را څخه وګرځېده، په يوه دره کې مو مزل پيل کړ، له نيم ساعت مزل وروسته د پوليسو پوستې وليدل شوې، ټول سره بېل شوو، په څلورو لارو روان شوو.

له لږ مزل وروسته پوليسو شپيلک راباندې شروع کړل، چې و مو ليدل ورته ودريدو اشارې يې راته کولې، ترڅو چې ومو دروي قاچاقبر وويل: منډه!

مونږ ټولو منډه کړه، قاچاقبر مخته او مونږ شاته له څو غونډيو څخه په منډه واوښتو، زه ډېر ستړی شوی وم، له هغه ځوان سره دې خدای (جل جلاله) ډېر ښه وکړي، ډېر کومک يې راسره وکړ، زما لاس يې کلک په لاس کې نېولی و، د ماښام تياره په خوريدو وه، ناڅاپه نورو پوليس را باندې غږ کړ: چېرته روان



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

يئ، ودرېږئ! ټول ډېر ويريدلي ښکارېدل، پښې مې شلېدې شوې وې، حرکت مو نه شو کولای، درې پوليس مخامخ راته ولاړ وو.

قاچاقبر منډه کړه، مونږ هم ټولو منډه کړه، قاچاقبر را څخه د ماښام په تياره کې ځان ورک کړ او نور ټول ملګري هم را څخه په تياره کې پناه شول، زه او ځوان سره پاتې شوو، د غره په ډډه کې يو کور ته ور ننه شوو، په کور کې يوازې يوه ځوانه نجلۍ وه، مونږ سخت پښېمانه شوو، ځکه چې بې اجازې راننوتلي وو، خو بله چاره نه وه، د پوليسو له ويرې مو دا کار کړی و، نجلۍ په دري ژبه له ځوان سره څه وويل او کوټې ته يې ننه کړو، ما خپل ملګري ته وويل: څه يې وويل؟ هغه وويل: ويل يې چې دلته تاسو ته هيڅ خطر نشته او تاسو کينئ، زه درته ډوډۍ راوړم.

ځوان را څخه وپوښتل: ستا نوم؟ ما وويل عابد او ستا نوم؟ زما نوم حبيب الله بيا يې وويل: د کوم ځای او سېدونکی يې؟ ما وويل: لويه پکتيا خوست، ده وويل زه د غزني او سېدونکی يم، مونږ په خبرو سره بوخت وو، چې يو ځوان کوټې ته راننوت او ټوپک يې په لاس کې نيولی و، مونږ سخت وويريدو، ځوان را نږدې شو او سلام يې راباندې واچاوه، مونږ هم ورته (عليکم السلام) وويل، ځوان ټوپک د ديوال ته ودراوه او دواړو ته يې لاس ورکړ، مونږ هم لږ ډاډه شوو.

ځوان وويل: څنګه ښه خو يئ؟ حبيب الله ځواب ورکړ: هو! ښه يو، خو ښښنه غواړو مونږ ستا بې اجازې راغلي يو، ځوان وويل نه، نه هيڅ خبره هم نه ده، مونږ او ستاسو خو وطن داران يو، زه هم د افغانستان يم ما وويل په



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کې د کوم ځای یې؟ ځوان وخندل بیا یې وویل: د کابل یم او زیاته یې کړه: موټر دلته د یو کال راهیسې او سپړو، تاسو یې چپ کوټې ته راوستې وئ، هغه زما مېرمن ده (ګل مکی) نومېږي، تاسو ته ډېره زیاته خوشحاله ده، وايي ورونه مې راغلي دي.

زه ډېر حیران شوم، بیا مې په تعجب ترې وپوښتل: بیا دلته څنګه راغلي یئ او په دغو غرو کې ولې اوسېږئ؟ و یې خندل د پښتو سختو رواجونو د غرو کړي یو.

دروازه ټک، ټک شوه، ځوان ور باندې غږ وکړ! ګل مکی ډوډۍ تیاره شوه؟ ځواب راغی هو. ځوان وویل: نو څه ته انتظار کوئ راوړه یې. جینۍ راغله او زمونږ مخې ته یې دسترخوان هوار کړ، ډول، ډول خوراکونه یې تیار کړي وو او زیاته خوشحاله معلومېده، حبیب الله وویل: نور هم څوک راځي؟ ځوان وخندل، نه؛ نور څوک راځي؟ حبیب الله بیا وویل: نو دا دومره شیانو ته څه ضرورت و؟ ځوان وویل: ولې موټر درته پښتانه نه ښکارو او که له تاسو ښه میلمانه غواړم او بیا رښتیا هېر مې شول، اخېر میلمانه د چا یئ!؟ په هر حال ډوډۍ مو سره وخوړه، ډېره خوندوره تیاره شوې وه. له ډوډۍ وروسته مو چای وڅښلو او لمانځونه مو هم اداء کړل.

حبیب الله له ځوان پوښتنه وکړه: ښښنه غواړم لومړی مې له یاده ووتل، زما نوم حبیب الله او زما د ملګري نوم عابد دی، د خوست ولایت اوسېدونکی دی او زه د غزني اوسېدونکی یم او تاسو؟ ځوان وویل: زما نوم عارف دی، د کابل یم او په ما ګرانه ګل مکی بیا د ننګرهار اوسېدونکې ده، د کابل په



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنتون کې مو سره ليدلي وو او قسمت تردې ځايه را ورسولو، ډېرې خبرې مو سره وکړې، بيا حبيب الله وويل: که مونږ ته اجازه وي، نو مونږ به له تياري ځخه ګټه پورته کړو او لاړ به شو، ځوان وويل: نه! شپه له مونږ سره تېره کړئ، مونږ زيات درته خوشحاله يو او بله دا چې هسې نه لاره غلطه کړئ.

په دې خبرو سره بوخت وو، چې يو ناڅاپه د پښو ترپه هار شو او بيا چيغې پورته شوې، عارف وويل: دغه سخت ظالمان دي، لکه چې بيا يې څوک راګېر کړي دي، ما وويل: نور به څوک وي، خو زمونږ ملګري به يې راګير کړي وي.

ډېرې سختې نارې يې وهلې، ډېر زړه مې وربانديې بد شو، خو هيڅ مو له لاسه نه وو پوره، ورو په ورو يې چغې کمېدې، عارف وويل: لکه چې پوستې ته يې بوتلل، حبيب الله بيا د تلو وويل: عارف ډېر ټينګار وکړ، خو حبيب الله له پريکړې نه واوښتو.

وروسته عارف وويل: چې ځئ، نو بيا همدغه شپه وخت دی، دوی به همغه پوستې ته بيولي وي او له دې وروسته خو هسې هم خپلو، خپلو ځايونو ته ځي، له عارف مو چې رخصت را اخيستو، ويې ويل: نه لړ درسره ځم چې لارې ته مو برابر کړم، له کوره د راوتو په حال کې وو، چې وروسته مې د يو چا شتون احساس کړ، مخ مې ور واړوه، زما پر اوږه يې لاس کېښود، همغه پېغله وه، په دسمال کې يې يو څه ګنډه کړې وو، هغه يې راکړل، ويې ويل: هيله ده چې د يوې خور په غريبانه تحفه خفه نه شئ او په ډېر څه يې ومنئ.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماوویل نه خوري !دا ته څه وایې، ستا احسان به مونږ هیڅ کله هم هېر نه کړو او تل به یې یادوو، نجلۍ وویل: دغه کور ستاسو خپل کور دی، هر وخت چې په دغه لار تیرېږئ، نو د خور پوښتنه مو خامخا کوئ، ما وویل ما پخوا د خور مینه نه وه لېدلې، ځکه چې نه مې درلوده او س مې چې خور پیدا شوه، د خور سره مې بې کچې مینه هم پیدا شوه.

هغه وخت چې له نجلۍ څخه رخصتېدو، په سترګو کې یې اوښکې راغلې، لاس یې راکړ، اوښکو یې زما په زړه کې لارې جوړې کړې، زړه مې وژړل او سترګو مې اوښکې توی کړې او ترې روان شوم، له عارف سره روان شوو، لږ مزل یې راسره وکړ، په یوه دره یې ور برابر کړو، رخصت مو سره واخیست او روان شوو.

دغه دره له زیاتو ونو ډکه وه، ساړه زیات وو، خو د مزل کولو له امله ګرم وو، تقریباً نیم ساعت مزل مو وکړ، یوه پراخه ځای ته ووتو، دوه لارې مو مخې ته راغلې، حبیب الله وویل: په دغه لار به روان شو، توکل په الله روان شوو، ډېر مزل مو وکړ نیمه شپه وه، په کمه اندازه کې مو هم څه نه لیدل، کله له یوې ډبرې او یا ونې سره او کله له بلې سره لګېدو، له شاه را باندې غږ وشو، په رګونو کې مو د یوې شېبې لپاره وینه وچه شوه.

حبیب الله ماته وکتل، پولیس را غږ کړ، په خبرو یې نه پوهېدو حبیب الله وویل: راځه د پولیسو خواته ورغلو، یوې خواته یې د کېناستو راته وویل، چې ومې کتل درې کسان نور هم ناست وو، همغه کسان وو، چې له مونږ سره یو ځای راغلي وو، تقریباً یو ساعت یې کېنولو او بیا یې په یو



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامعلوم لوري روان کړو، له څو غونډیو تېر شوو اخیر پوستې ته ورسیدو، پوستې ته یې دننه کړو، په پوسته کې درې تیارې کوټې بنکاریدې، له کوټو یې هغې خواته ور تېر کړو، هلته یې په تشناب کې واچولو او دروازه یې راپسې بنده کړه.

په تشناب کې ډېر بد بوی و، پوزې مو کلکې پټې کړې وې، خو اخېر په دې ستړې شوو، تشناب ډېر تنګ و، پنځه واړه پکې ولاړ وو، مونږ خو ویل چې را وبه مو باسي، خو شپه یې را باندې هملته تېره کړه، سهار یې دروازه را خلاصه کړه، د راوتو یې راته وویل، خو مونږ ساړه دومره خراب کړې وو، چې د پاڅېدلو توان مو هم نه درلود، په ارام ارام سره مو پښې او لاسونه سره وښورول، پولیسو د قومندان کوټې ته بوتلو، قومندان تحقیقات را څخه پیل کړل، تقریباً نیم ساعت تحقیقات یې را څخه وکړل، بېلا بېلې پوښتنې یې را څخه وکړې

مثلاً: د کوم ځای یئ، څوک یئ او چېرته ځئ؟

په اخیر کې یې له کوټې را وباسلو او زېر زمینیو ته یې واچولو، هر سهار او هر ماښام به یې دومره وهلو، چې بې خوده به شوو او په نیمه خېټه ډوډۍ به یې راکوله، یوه میاشت مو په دغه حالت کې تېره کړه او له دې وروسته یې له زېر زمنیې را وباسلو، بهر مو چې کله ځانونو ته وکتل، نو له ساړه مو لاسونه او پښې شنه شوې وو او زیات کمزوري شوې وو، له لمر مو سترګې نه شوې غړولی، په سختۍ مې ځانته کتل، کله چې مې سترګې له لمر



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره بلدې شوې، نو حبیب الله ته مې وکتل، بیخي بدل شوی وو، هتکړیو یې په لاسونو او پښو کې لارې جوړې کړې وې.

دده د حالت په لیدو مې په سترګو کې اوښکې راغلې، حبیب الله وویل: څنګه یې؟ ما وویل زه ښه یم، له ځانه راته وایه، سوړ اسویلی یې وباسلو او ویې ویل: ګوزاره ده، رنګ ته دې چې ګورم، پخوانی عابد نه یې، ما وویل: همغه یم خو حالاتو را څخه کوم بل څوک جوړ کړی دی.

زه او زندان؟! په ژوند کې مې ترخه کیسه هم له چا نه وه اوریدلې، مور به له ځانه یوه شپه هم لرې نه پریښودم، بس قسمتونه دي، څه ګیله به ترې کوو. حبیب الله وویل: حوصله وکړه، خدای (جل جلاله) به دغه وختونه هم تیر کړي، له لږ تفریح وروسته پولیس بیا راغلل او زندان ته یې واچولو، بیا هم خوشحاله وم، څکه چې زه او حبیب الله یې په یوه زیر زمینۍ کې واچولو او له هغه نورو درو کسانو خبر نه وم.

شپه او ورځ به مې ذهن خپل کور، کلي، ملګري، مور، پلار او نورو خپلو خپلوانو کې مشغول و، خو ملګری مې ډیر هوښیار وو، هر وخت به یې مصروف ساتلم، ډول، ډول کیسې به یې راته کولې او خوشالولم به یې، دوی لویه کورنۍ وه، اکثریت سړیو یې په ایران کې خوارۍ او مزدورۍ کولې، حبیب الله هم درې کاله په ایران کې تیر کړي وو او یوه خور یې هم په ایران کې واده کړې وه.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب‌الله د خپل ژوند ډېرې خاطرې راته بیان کړې، خو واقعیت چې ډېرې ترخې وې، وخت تېرېدو، څو میاشتې وروسته یې یو ځل بیا را وباسلو، نیمه شپه وه، کمه، کمه ګرمي هم وه، د میاشتې څوارلسم یا پنځه‌لسم به وو، سپوږمۍ په اسمان کې سپینه ځلیدله، ستورو هم ځلا کوله، زه خوشاله وم، زما په فکر ټول خوشحاله وو او ولې به خوشحاله نه وو، له زندان را وتلي وو.

پنځه واړه یې سره یوځای کړو، قومندان یې له دفتر را ووت، له پوستې یې را وباسلو، ګوته یې د افغانستان پر لور ونېوله او ویې ویل: له هغه ځایه راغلي یئ، همغلته ولاړ شئ، که بیا مو هڅه وکړه چې ایران ته ننوځئ، نو جزا به مو مرګ وي، پوه شوئ او کنه؟ نور تاسو تلی شئ! که څه هم ډېر کمزوري شوي وو، خو بیا مو هم په ډېرې چټکۍ مزل شروع کړ.

زه خو له خوښۍ نه په جامو کې نه ځایېدم، له لږ مزل وروسته مو د اوبو شنهار تر غوږ شو، د اوبو پر طرف ورغلو، ښې زیاتې اوبه مو وڅښلې، پوره ازادي مو احساسوله، لږه دمه مو وکړه، حبیب الله وویل: اوس چېرته ځو، ایا بېرته افغانستان ته ځو او که د ایران پر لور حرکت کوو؟ زه غلی شوم، هغه دریو نورو وویل چې له لوږې مرو هم، مونږ خو ایران ته نه ځو، حبیب‌الله ماته سترګې را واړولې، ما وویل: ستا چې څنګه خوښه وي!؟ زما هم زړه وو چې بېرته راشم، خو زه له حبیب الله یوازې نه راتلم، حبیب الله وویل: زه خو ایران ته ځامخا ځم، ځکه چې تش لاس تګ نه غواړم، کلیوال به څه وایي چې د ښځې (ولور) نه شي پوره کولی، دغه دی د مزدورۍ هم نه دی او را وتښتېدو.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته هم خپله غریبي او د پلار ناروغي را یاده شوه او هوډ مې وکړ، چې خامخا به ایران ته ځم، راپورته شوو، مونږ د ایران او هغوی د افغانستان لاره خپله کړه، سهار شو لمانځونه مو اداء کړل، ډېر ستړي شوي وو، لږه دمه مو وکړه او روان شوو. حبیب الله وویل: ډېر ښه ځای ته راووتو، نوره لاره ماته معلومه ده، دلته په یوه نږدې کلي کې زمونږ خور هم اوسي، همغې ته به ورشو، زه هم دومره خوشاله شوم لکه خپل کور ته چې روان وم، په تلو، تلو کې د حبیب الله د خور تر کوره ورسېدو، حبیب الله دروازه وټکوله، یو ماشوم راووتو، لومړی یې ما او بیا حبیب الله ته وکتل، زه خو یې نه پېژندم خو حبیب الله یې هم ونه پېژاند، ځکه چې د سر او ږیرې ویښتان یې دومره لوی شوي وو، چې سم صحرایي ترې جوړ و.

حبیب الله ورته وویل: الیاسه! ما نه پېژنې ماما دې یم؟ الیاس یې په پښو باندې کلکه غېږه بدله کړه او ویې ویل: ماما دا په تا څه شوي دي، دا ولې!؟ حبیب الله وویل: پوښتنه مه کوه، ښه دا ووایه چې په کور کې څوک شته؟ الیاس وویل: هو! مور مې په کور کې ده، ښه ورته ووایه چې ورور دې راغلی او میلمه هم ورسره دی.

الیاس په منډه کور ته لاړ او بیا راغی، ویې ویل مور مې وایي دواړه دې راځي، کور ته دننه شو، کور نسبتاً کوچنی و، دیوالونه یې له تیږو جوړ وو، په کور کې دوه کوټې وې، یوه یې د مېلمانو لپاره بېله کړې وه، کوټې ته دننه شو، یوه ځوانه ښځه کوټې ته راغله، زمونږ په لیدو حیرانه شوه، که څه هم د دوی په اجازه راغلي وو، حبیب الله ورته پورته شوو، خور یې وویل:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروره ! دا ولې دا په څه حال يې، بې اختياره به يې خبرې په خوله راتلې، ناڅاپه يې ورور کلک په غېږ کې ونيو او سخت، سخت يې وژړل، حبيب الله هم په ژړا شو او ماته هم بهانه جوړه شوه، زړه مې ډېر ډک شوی و، ښه پرېمان مو سره وژړل، د حبيب الله خور په ژړغوني غږ ماته وويل: وروركيه ! لکه چې ته هم ورسره وې، ماته پته ده، چې د سرحد په جېلخانه کې به په دې حال شوي وئ.

بيا يې زمونږ لاسونو او پښو ته سوچ شو، چې د هتکړيو له امله ور څخه سرې وينې بهيدې، له يوې خوا زخمي شوي وو، له بلې خوا مو پښې او لاسونه د مزل له امله په وينو سره شوي وو، زمونږ په حال ډېره خفه شوه، لومړی يې حمام ته اوبه راته يوړې، دواړه ولمبېدو، چې ځانونه مو صفا کړل، نو جامې يې هم نورې راکړې، ما وويل: ځان مه په تکليفوه، د الياس مور وويل: توبه، توبه تنکي ځوانان او ظالم ايران !؟ الله دې ورحميږي، ځان مې لږ سره برابر کړ، وجود مې سخت درد کاوه، له لږ ځنډ وروسته د الياس مور د ډوډۍ د بندو بست سره، سره؛ د کلي ډاکټر هم راوستو او د ډوډۍ مخکې ډاکټر زمونږ د لاسونو او پښو پنسومان وکړ، لازم هدايات يې راته وکړل، څه دوا يې هم راکړه او لاړ.

ډوډۍ مو سره وخوړه، په ارامۍ سره مې ساه وباسله، پوره، پوره مې د ازادۍ احساس کولو، مونږ ډېر ستومانه شوي وو، حبيب الله وويل: خورې ! مونږ استراحت کوو، خو رښتيا هغه اسد چېرې دی؟ خور يې وويل:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ښار ته تللی دی را به شي، ځایونه یې راته تیار کړل، خوب یوړم، خوب مې لیدو چې په کلي کې له مور، پلار، ملګرو او نرګس سره وم له ورځو نه یوه ورځ وي، زه او نرګس دواړه په بڼ کې یو ځای ګرځو، یو او بل ته ښکلي، ښکلي ګلان ډالۍ کوو، نرګس وویل: زه او ته اوس په باغچه کې یو، دلته هر ډول ګلان شته، خو یو ازماینښت کوو، دواړه سترګې پټوو، چا که سپین ګل را پرې کړ، هغه به ډېر رښتینی وي او که چېرته چاسور ګل، هغه به ډېر مئین او داسې نور... همداسې مو وکړل، سترګې مو پټې کړې، ګلان مو را وشکول او بیا مو په پټو سترګو یو بل ته ډالۍ کړل، نرګس وویل: سترګې وغړوه، دواړو سترګې وغړولې، چې ومو کتل حیران شوو، زمونږ د تمې برعکس زمونږ د دواړو په لاسونو کې زېړ ګلونه وو.

دواړه ډېر ووېرېدو، لکه څوک مو چې همدا اوس په زور له یوه او بله بېلوي، نرګس رانه کلک لاسونه چاپېره کړل او ویې ویل: نه، نه، د دنیا هیڅ طاقت هم مونږ سره نه شي بېلولی، په بنده، بنده ژبه یې وویل: زه، زه... زه دا نه شم زغملی، ما وویل:

حوصله مه بایله، همداسې بیا کوو، سترګې مو پټې کړې، ګلان مو را پرې کړل، ډالۍ هم ورسېدې، سترګې مو هم خلاصې کړې، بیا د دواړو په لاسونو کې سپین ګلونه وو، نرګس لکه ترهیدلې هوسۍ ولاړه وه او زه هم لکه یو بې روحه انسان، یواځې مو یو او بل ته کتل، دواړه چوپ وو، بیا مو سترګې پټې کړې، خبرې مو په زړو کې سره کولې، ګلونه مو را پرې کړل، یو بل ته مو ډالۍ ورکړې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې مو وغړولې د دوارو په لاسو کې سره د ګلاب ګلونه وو، نرګس بې اختیاره وویل: لومړۍ جدايي، بیا رښتینولی او بیا مینه، ماته یې وکتل، په اننګو کې یې سورخي وه، له سترګو یې معصومیت وریدو، مونږ دوارو د څو شیبو لپاره دا جهان پرېښودو او په یوه بله دنیا کې مو سره کتل، په هغه دنیا کې چې هلته لیلا او مجنون او سپدل، هلته ادم خان او درخانۍ او هلته مؤمن خان او شېربانو اوسېدل، د زړه ګل اغزي مې ګوته خوږ کړه، بیا دې دنیا ته راغلم، نرګس زما پر اوږه سر ایښی و او زما پر ګرېوان یې د اوښکو قطارونه جوړ کړي و.

نرګس څه ویل، خو نه پوهېدم چې څه به یې ویل، پر تورو ښاماري ویښتانو مې ورته لاس تېر کړ، نرګس په یوه داسې خوب ویده وه، چې شاید بیا داسې خوب په ټول ژوند کې هم ونه کړي، له اوږې مې ونیوه، و مې ښوروله، کله یې چې ځان ته پام شو، سلګۍ یې ووهلې، سترګې یې ښکته ونیوې، ځمکې ته یې کتل، په ورخطا غږ یې وویل:

زه، زه... زه ډېره بخښنه غواړم، تیکری یې پر سر ورسم کړ، یوه داسې معنا لرونکې خندا یې راته وکړه چې په سلګونه خبرې، هیلې او ارزوګانې پکې پرتې وې او په منډه له باغچې ووته، پر لټ واوښتم، تېوتو مې درد وکړ را ویښ شوم، یو خوږ خوب و، ماته مې خوب داسې ښکاریده، لکه یو خوږ حقیقت چې وي او ما په رښتیا خپله نرګس لیدلې وي، خبرې مې ورسره کړې وي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـر مې راپورته کړ، حبيب الله ته مې وکتل، خوبولی و او په خوب کې کونېده، سـوچ پر مخه کړم، کلې ته يې راوسـتم، يوه صـحنه يې را ياده کړه، هغه هم د ډېر ماشومتوب، زه ډېر ماشوم وم، ما مينه نه پېژنده، نه پوهېدم چې دا څه دي !؟ کله به چې نرگس راسره وه، نو زړه به مې ډېر خوشـحاله و، خو کله به چې سـره جدا وو د زړه جونگړه به مې بيا ورانه وه او قبرسـتان به ترېنه جوړ و، له ورځو نه يوه ورځ وه، اوړی و، تکنده غرمه وه، نرگس راته وويل:

عابد جانه ! راځه چې باغ ته لاړ شـو او انگور به وخورو، ما کله هم د نرگس خبره نه ماتوله، روان شـوو، کله چې باغ ته نږدې شـوو، نرگس وويل: دغه انگور وينې؟ دغه ډېر خوږ دی، ما وويل زه به ور پورته شم، نرگس وويل: خو په ځان دې ډېر پام کوه، ما وويل: سمه ده گرانې.

انگور په يو لوی او دنگ توت پورې را گرځېدلی وو، ور پورته شـوم نرگس په بار، بار راته ويل: گوره را و نه غورځې، ما ويل: نه، نه. نه به غورځم، د توت يوې څانگې تـه چې د انگور زيات گونگې پکې وو، ورغلم، يو څو گونگې مې ترې را بېل کړل، لاندې مې چې وکتل، نرگس ما ته حيران، حيران را کتل، زه يې هم په ننداره شـوم، ځان را څخه هېر شـو، د نرگس په غږ را په خود شوم، چې د عابد ناره يې راته وکړه، ځان مې کنټرول نه شو کړای، په ځان پوه نه شـوم، کله چې را په خود شـوم، نرگس چيغې وهلې او ژړل يې، مور او پلار يې هم را خبر شوي وو.

نرگس زما سـر ته ناسـته وه او غټې، غټې اوښـکې يې پر گلابي مخ را ماتې وې او تر گريوانه يې لارې جوړې کړې وې، کله چې مې سـترگې خلاصې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې او زه يې روغ ولیدم، ويې ویل: یاالله! ډېر شکر دی، چې زما عابد دې راته روغ کړ، په ماشومو او معصومو سترګو يې د شکرانې د اوښکو قافلې روانې وې، اخ! څومره خوږ ماشوم توب و.

حبیب الله په اړخ واوښت او را ویښ شو، غږ يې راته وکړ: عابده ویده يې! ما وویل نه بابا پخوا را ویښ شوی یم، حبیب الله وخندل، و يې ویل شکر چې ستا په خوله تو که راغله، ته خو ما هیڅکله هم خوشاله نه وې لیدلی، ما ورته وویل ته څه خبر يې چې زه څېرته تللی وم، ويې ویل: هو! خبر یم په ارامه دې خوب وکړ او کلي ته هم پکې تللی وې. ما وخندل، څه عجیبه سړی يې هر وخت زما په زړه خبرې کوې، لکه زما له زړه چې خبر وې، را پورته شوم، ومې ویل بندونه مې زیات درد کوي.

الیاس راننوتو، ويې ویل: د لمانځو وخت دی، پورته شو، اودسونه مو وکړل، د ماسپښین لمونځونه مو هم اداء کړل، د الیاس مور راغله ويې ویل: څنګه خوب مو وکړ، حبیب الله وویل: هو! له شپږو میاشتو وروسته مو په ارام خوب وکړ، بیا يې ډوډۍ او چای په یو ځای راوړل، ځانونه مو ماړه کړل، د الیاس مور وویل وروړ کیه! ستا نوم؟ ما وویل عابد، هغې وویل څومره ښه عابده! دغه کور خپل کور وګڼه او ما خپله خور، زه پوهېږم چې د غریبۍ له امله به دې کور پرېښودلی وي او په مزدورۍ پسې به راغلی وې، خو ترڅو پورې چې دلته وې دا احساس ونه کړې چې په پردي کور کې يې.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب الله وویل: د مازدیگر د لمانځه وخت دی، لمانځونه مو همله په کوټه کې وکړل، اسد راغی، ستړې مه شې مو سره وکړه، ډېر ښه میلمه پاله او دلوی زړه خاوند معلومېده، لږ سره کېناستو، پوښتنه مو سره وکړه، بیا اسد وویل: راځئ بهر به لږ چکر ووهو او تاسو به زه سلمانۍ ته هم بوځم، ترڅو ویښتان مو در جوړ کړي، ورسره پورته شوو، لږ چکر مو هم وواهه او ویښتان مو هم جوړ کړل

د حبیب الله خور او همدا شان اسد ډېر مېلمه پال خلک وو، تقریباً یوه اونۍ مو ورسره تېره کړه، ډېر عزتونه یې راکړل، هغه یوه چا ریښتیا ویلي دي چېرته چې پښتانه وي، هلته به مېلمه پالنه وي، له اونۍ تېرولو وروسته مو لاسونه او پښې لږ سره را جوړ شوي وو او کمزوري مو هم تر ډېره بریده ختمه شوې وه.

اسد ما او حبیب الله ته یوه، یوه دریشي هم راوړې وه، ترڅو بیا څوک دا سوچ هم ونه کړي چې مونږ له کوم بله ځایه راغلي یو، سهار مو حمام وکړ، دریشۍ مو بدلې کړې، ځان ته مې په هینداره کې وکتل، پخوانی عابد نه وم، ځان ته مې خندا راغله، زه، مسافري، زندان، ایران او دریشۍ، خو بس قسمتونه دي، رخصت مو سره واخېست، بهر راووتو، زه ډېر خفه وم، ځکه چې د لارې د کرایې روپۍ هم راسره نه وې، خو خیر روان شوو، سرک لږ څه لرې وو، حبیب الله ته مې وویل: څه پیسې چې راسره وې هغه خو را څخه پولیسو یوړې، اوس به څه کوو؟ حبیب الله وویل: غم مه کوه، چې سرونه وي،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خولې ډېرې دي، چې موټر وو پیسې زیاتې پیدا کېږي او د کرایې غم ما کړی دی، سرک ته ورسېدو.

موټر مو ودراوه، ور پورته شوو، موټروان پښتون و، ویې ویل: چېرته ځئ؟ حبیب الله وویل: که صفا درته ووایم مشهد ته روان یو، ډرایور وخندل او زیاته یې کړه: ښه نو هدف مو یو دی، زه هم مشهد ته ځم، د لارې ملګري مې پیدا شول، حبیب الله وویل: ډېر ښه! خو یوه خبره ده چې موږ هیڅ کوم اسناد نه لرو او مشهد ته هم نابلده روان یو، چې پولیس مو و نه دروي ډرایور وویل: دوی که پولیس دي، خو موږ بیا افغانان یو، چې هر ډول وي ځانونه یې رسوو، دوی دواړه سره په خندا شول، ما وویل: استاد! دا د څه بوی ځي په موټر کې؟ ویې ویل: پوښتنه مه کوه، د هیڅ شي کمی نشته، چرس، پوډر، شراب او هر ډول نشه یې توکي، ما وویل:

نو تـه قاچاقبر یې؟ ده وویل: ولې دومره زر دې له یاده ووتم؟ هغه هیڅ هم چې له ځانه سره نه پرېښودې، ما وویل: هو! را یاد شوې همغه یې چې موږ دې پرېښودو او تا را څخه منډه کړه!؟ ده وویل: نو څنګه ما هم ځان په پولیسو نیولی وای او بیا غلطي خو تاسو وکړه، چې په ما پیسې و نه رسیدې او لاره مو غلطه کړه، خو خیر دا ځل مو رسوم او بله خبره دا چې ستا تر څنګ بکس خلاص کړه، هر څومره پیسې چې دې په کار وي، ترې وایې خله او کله مو چې په (پاټک) باندې پولیس دروي، هر څومره دې چې پرې لوریدې ورکوه یې او بس، موټر ګړندی روان و، (پاټک) ته ورسېدو، پولیس تلاشۍ ته ولاړ وو.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر هم ورته ودرېدو، د کوزېدو یې راته وویل، زړه مې ولړزېدو، ډرایور په غوسه وویل: خوله یې خوږه کړه، څه پیسې مې ورکړې، سپېره خندا یې وکړه، د بخښنې په غوښتو یې اجازه راکړه، ترې تېر شوو، حبیب الله وویل: عابده! دومره پیسې دې کله په خوا لیدلې وې، ما د (نه) په مانا سر وخوځاوه، له څو نورو (پاټکونو) هم تېر شوو، اوس د پخوا په څېر له پولیسو نه وېرېدم، ډېر مزل مو وکړ، اخېر مشهد ته ورسېدو.

ډرایور وویل: که پیسې ګټئ نو راځئ زما سره، حبیب الله وویل: پیسې خو ګټو، خو... ډرایور وویل: خو بیا څه؟ خو دغه پیسې حرامې دي، له موټر راښکته شوو، په بکس کې ډېرې پیسې وې، ډرایور په دواړو لاسونو ترې را واخېستې او موټر ته یې راکړې نور لاړ.

زه او حبیب الله روان شوو، ما هیڅکله هم دومره یو ښکلی او لوی ښار نه و لیدلی، هر څه ته مې په بېلابېل نظر کتل، ښکلي مارکیټونه، پارکونه، سړکونه، موټرونه او دومره ازادي چې ښځې په ښار کې ازادې او بې چادریو ګرځېدې او ځینو خو یې له سر زړوکي (ټیکري) هم غورځولي وو او پر اوږو یې اچولي وو، ښکلې، ښکلې جینۍ مې ولیدلې او د کلیوالي ښکلا په سوچونو کې ډوب شوم، هغه به اوس چېرته وي، څه به کوي، څنګه به وي، ما به یادوي او که نه، زما لپاره به دعاګانې کوي او که نه!؟ د موټر هارنونه شول، ځانته مې پام شو، د سړک په منځ کې ولاړ وم او یو غټ موټر په چټکۍ را نږدې کېږي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سترګو مې توره شپه راغله، پښې مې له حرکته ووتې، پر ځان پوه نه شوم، کله مې چې سترګې وغړولې، د شفاخانې پر بستر پروت وم او دوه ډاکټران مې سر ته ولاړ وو، په سترګو مې توره شپه راتله، ذهن مې سم کار نه کولو، لاسونه او پښې مې نه شول ښورولی، ډاکټر را وړاندې شو، له خولې یې اکسیجن را څخه لرې کړ، او به مې وغوښتلې، را یې کړې، یو ډاکټر بهر ووانه، بیا درې پولیس راغلل، حبیب الله هم ورسره و، زما حالت یې وکتل، پوښتنه یې رانه وکړه، د مهاجر کارت لرې؟ ما رد، رد ورته کتل، ډاکټر وویل: سخت تپي دی، دده لپاره خبرې ښې نه دي، پولیس وویل:

ډاکټر صاحب دوی باید مونږ نظر بند وساتو، ځکه چې دغه د قانون مجرمان دي او دغه ډول خلکو ته د اعدام حکم شوی دی، حبیب الله ته یې ګوته ور ونیوله، ویې ویل: دغه ځوان به را سره بوځو او د دغه بل د ښه کېدو پورې به د ده دوسیه هم وځنډوو، تر ښه کېدو به انتظار وباسو، ډاکټر د حبیب الله په اړه څه ورسره وویل: په خبرو یې سم نه پوهېدم، دوی په فارسي ژبه غږېدل، د پولیس خبره مې په دماغو کې ثبت شوه، چې ویل یې دغه ډول خلک به اعدام شي او قانون ورته سخته جزا ټاکلې ده، خو په دې نه پوهېدم چې ګناه مو څه ده، چې د دومره سختې جزا قابل یو !؟

پولیس لاړل او حبیب الله یې پرېښود، ماته را نږدې شو، وې ویل: عابده ! اوس څنګه یې؟ په سختۍ مې وویل: ښه یم، خو پولیس؟ هغه وویل: ته هیڅ غم مه کوه، الله (جل جلاله) ډېر مهربانه ذات دی، دوهم ډاکټر هم راغلو او بیا لاړ، حبیب الله د ډاکټر سره د پیسو په بدل کې د تېښتې لاره برابروله،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب الله وویل: هغه پیسې درسره دي او جیبونه یې راته وپلټل، پیسې یې را څخه واخیستې او ډاکټر ته یې ورکړې، په خبرو سره بوخت وو، حبیب الله خوشاله معلومېده، ماته یې وویل: مه خفه کیږه، انشاء الله ښه کېږې، بهر ووتو او ډاکټر پیسې په جیبونو ننباسلې او لاړ.

له لږ څنډ وروسته ډاکټر او حبیب الله کوټې ته راغلل، زما حال یې وپوښتو، ما وویل: ښه یم او دوی د تېښتې په پلان جوړولو کار پیل کړ، اخېر دوی په دې فیصله وکړه، چې ډاکټر به زما حالت نازک وښیي، په بیړه به مې یو امبولانس ته ور پورته کړي او وبه وایي چې بل روغتون ته یې انتقالوو، نور به مو ډرایور یوه کور ته ورسوي، د کور خاوند هم افغان دی او ډېر ښه سړی دی.

په دې خو مو خبرې سره ونه کړې، چې تاسو ته که څه مشکل جوړ شي، ډاکټر وویل: ډرایور خپل سړی دی، ما ور سره خبره کړېده، کله چې راشي، و به وایي چې څو وسله وال کسان را مخې ته شول، وسلې یې زمونږ په خوا ونیولې، د دریدو یې وویل، مونږ ودریدو دوی یې را څخه کوز کړل او په یوه موټر کې لاړل، شپه شوه ډاکټر راغی، حبیب الله ته یې وویل: شروع به یې کړو.

ډاکټر په منډه راووتو لږ وروسته دوه نرسان راغلل، په تذکره کې یې کېښودم، له ښکه مرغه پولیس هم بهر ته تللي وو، امبولانس ته یې پورته کړم، حبیب الله هم را سره کېناستو، حبیب الله وویل: شکر خدایه! له دوو ساعتو شا او خوا مزل به مو کړی وي، چې امبولانس ودریدو، د کور دروازه لرې کړای شوه، کور ته دننه شو، له موټره یې ښکته کړم، یوه پراخې او ښکلې کوټې ته



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې یوړم، حبیب الله پر کټ څملولم، په فکر کې ډوب شوم، یاخدایه! دا څه دي!؟ د نامعلومې ګناه له امله د اعدام سزا، د روغتون څخه تېښته او د دغه خلکو دومره ښه رویه، حیران شوم، حبیب الله وخندل او زیاته یې کړه: څنګه یې؟ ماوویل: ښه یم او ومې پوښتل: هغه پولیسو څه وویل؟ حبیب الله وویل:

هغه قاچاقبر نه و؟ هغه نیول شوی دی، په موټر کې یې کیمره نصب شوې وه، زموږ تصویرونه یې هم اخیستي وو، کله چې پولیسو ته په لاس ورغلي و، نو موږ یې هم د قاچاقبرانو په لېست کې اچولي وو، دروازه لرې شوه، حبیب الله غلی شو، یو تنکی ځوان د د سترخوان او پتنوس سره یوځای را دننه شو. حبیب الله ترې وپوښتل، ایا دغه کور ستاسو دی؟

ځوان وویل: هو ! تاسو ډوډۍ وخورئ، پلار مې وویل: زه یې پوښتنې ته ورځم، موږ د دوی میلمستیا ته حیران شوو، ځکه چې د هیڅ شي خواري په پتنوس کې نه وه، ما ډوډۍ نه شوه خوړلی، خو حبیب الله هم یو څو ګولې ترې وکړې او له ډوډۍ وګرځېدو بیا دروازه خلاصه شوه یو په عمر پوخ سړی رانننوتو، غټه ږیره، سپینې جامې، توره لونګۍ، له څېرې ډېر هوښیار او د لویو شتو خاوند معلومېده.

ما ورته د پورته کېدو هڅه وکړه، چېرته پورته کېدی شوم، ده مې په لاس باندې لاس کېښود او بل لاس یې زما پر تندي کېښود، زیاته یې کړه: بچیه! څنګه یې؟ ماوویل: ښه یم ستاسو له دومره مهربانۍ مننه کوم.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده وویل: ډاکټر صاحب راته زنګ وهلی و او ستاسو کیسه یې راته وکړه ډېر خفه شوم، خو خیر چې دلته را ورسیدې نو هر څه به سم شي، خو تاسو ډوډۍ وخوړه؟ حبیب الله وویل: هو ! خو د کور خاوند ډوډۍ ته وکتل او زیاته یې کړه، دا خو ډوډۍ نه شي خوړلی، زه درته شیدې راوړم، ما وویل: نه، نه خیر دی، ده وویل: مونږ هم پښتانه یو، بیا خو په پښتو کې فرق راځي، شیدې یې په هلک را ولیږلې او بیا راغی د نوم پوښتنه یې رانه وکړه، ما وویل: عابد.

په پوښتونکي نظر یې حبیب الله ته وکتل، هغه وویل صاحب نوم مې حبیب الله او د غزني اوسېدونکی یم، د کور خاوند وویل: زما نوم کریم، اصلاً د کندهار یو، خو اوس مو دلته په ایران کې ځمکې او کورونه اخیستي او د قالینو جوړولو فابریکه لرم، ډېر شمېر افغانان په کار را سره بوخت دي، تاسو هم هیڅ غم مه کوئ، کله چې مو زړه غوښتل، نو زه حاضر یم چې کار درته پیدا کړم او یا له ما سره کار وکړئ.

خو د عابد تر روغیدو پورې تاسو زما میلمانه یاست او رښتیا دغه کوټه ستاسو سره مناسبه نه ده، ځکه چې لمر ته مخامخ ده او ګرمه ده، زوی ته یې وویل: هغه دوهم منزل کې اطاق ته یې بوځه ځکه چې هغه ټول اسانتیاوې لري.

حبیب الله ورته وویل: مالک صاحب ستاسو سره دې الله (جل جلاله) ډېر ښه وکړي، دغه احسانونه به مو هیڅکله هم هېر نه کړو او پاتې شوه د کار خبره، مونږ ستا څخه کوم بل ښه ځای نه وینو، هر څه چې ته وایې په سر سترګو به یې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

منو ، مالک کریم وویل: له څېرو مو معلومېږي چې ډېر تکلیفونه درباندې تېر شوي دي، تاسو استراحت وکړئ او له نن ورځې مو معاش شروع شو. ما ته یې مخ را واړوه او راته یې وویل:

عابده زویه ! هر څه چې غواړې تا ته به کوټې ته درځي او هر سهار به ډاکټر هم د پانسومان لپاره راځي، زه نور څم ډېر ستومانه شوی یم، احمد شاه به را ولیږم، چې پاس کوټې ته مو پورته کړي، ښه شپه ولرئ ! حبیب الله هم وویل: مننه مالک صاحب ښه شپه درته غواړم.

مالک کریم لاړ، یو ځوان یې راولیږه او پاس کوټې ته یې زه په دوو نفرو په کټ کې پورته کړم، کوټه کوچنۍ وه، ښکلي او قیمتي قالینې پکې هوارې شوې وې، کړکیو ته یې سور رنګه پردې ځړېدې، یوه لویه الماري هم پکې ځای پر ځای شوې وه، چې له کتابونو ډکه وه، برق یې هم درلود او باد پکه هم پکې را ځوړنده وه.

لنډه دا چې د څه شي ضرورت پکې پاتې نه و، احمد شاه وویل: زه ځم که څه ته ضرورت کېدو، نو بیا دغه بټن ته زور ورکوئ، شپه په خیر یې وویل او لاړ. شپه تېره شوه هر سهار به ډاکټر راتلو او زمونږ پوښتنه به یې کوله، یوه ورځ حبیب الله وویل: زه هم نور د بې کارۍ ستړی شوی یم، مالک صاحب ته به ووایم او ته خو هسې هم ان شاءالله په ښه کېدو یې ما هم د کار غوښتلو مشوره ورکړه، ماښام چې مالک صاحب راغی، حبیب الله ورته خبره وکړه، لومړی خو مالک صاحب وویل:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبيب الله ته د عابد خدمت کوه، دا هر څه دي خو ما هم ورته وويل: نه مالک صاحب زه اوس ښه يم او ګرځېدای هم شم، لنډه دا چې حبيب الله يې د کور موټر چلونکی مقرر کړ، دوه مياشتې وروسته زه هم روغ او جوړ شوم او د مالک کريم څخه مې د کار غوښتنه وکړه.

مالک صاحب وويل: ښه ده، زه يې د قالينو په کارخانه کې په کار وګمارلم، کار څه کار و، خو دومره وه چې تنخوا يې ور باندې را کوله، هر سهار به له مالک صاحب سره په موټر کې تلم او ماښام به راتلم، مالک صاحب زيات عزت راکولو، بچيان يې نه درلودل، ماته به يې زوی ويل، د دوی کور مې داسې و لکه خپل کور او مېرمنې به يې چې عايشه نوميده، د زوی په شان زما قدر کاوه او وروسته خو به يې په خپله کوټه کې هم ډوډۍ ته نه پرېښودم او ويل به يې زمونږ سره به يو ځای ډوډۍ خورې او بنډار به راسره کوې، ځکه چې زمونږ هم ساعت نه تېرېږي، درې په درې سره ناست وو، خو ما ور سره نه منله ځکه چې د رحمان بابا بيت به را ياد شو چې وايي:

نه شي د خانانو ملنګانو سره کلي
چېرته عزيز خان چېرته ملنګ عبدالرحمان

خو خير مجبور يې کړم، کله، کله به مې چې په کوټه کې ناوخت کړو، نو لور به يې را پسې را ولېږله، ترڅو ورشم، مالک صاحب يوه لور درلوده او دوه دوی وو، نور يې بچيان نه درلودل د لور نوم يې سيما و، ډېره ښه نجلۍ وه، ډېرې خبرې به يې نه کولې په اووم ټولګي کې يې زده کړې کولې او اول نمره وه، حبيب الله به هر سهار مکتب ته په موټر کې رسوله او غرمه مهال به



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې بېرته راوړه، وخت تېرېدو، ټول کارونه سم روان وو، د جمعې ورځ وه، رخصتي مې درلوده، د مالک صاحب د کور په باغچه کې ګرځېدم، سپرلی و، ګلانو رنګا رنګ غوټۍ باسلې وې او د ځينو ګلان هم ډېر ښايسته ښکارېدل، سوچ پر مخه کړم.

کلي ته راغلم، خپلې نرګس ته مې د مينې او خلوص څخه ډک ګلونه ډالۍ کول او نرګس هم په مينه، مينه اخيستل او مننه يې را څخه کوله، ځان را څخه هېر شوی و، نه پوهېږم څه، څه به مې ويل، خو يو خواږه او نرم غږ چې کټ مټ د نرګس په څېر و، په حال کړم. ځانته مې فکر شو لاسونه مې له ګلونو او غوټيو ډک وو، غږ د سيما و، را مخې ته شوه، په دومره ګلونو څه کوې؟ زه وارخطا شوم او هيڅ ځواب مې ورنه کړ، ځکه چې ځواب مې نه درلود، سيما راته حيران، حيران کتل او اخېر دومره رانږدې شوه، چې د زړونو درزا به مو سره اوريدله، ګلونه يې رانه واخيستل، په شا لاړه راته ويې خندل او په منډه له باغچې ووته، زه ډېر خفه وم، سخته غصه راغله او له خپل وجدان ډېر وشرمېدم، له ځان سره مې فکر وکړ، چې خيانت مې وکړ، هسې مې ور پرېښودل، هغه خو د کوم بل چا امانت و، عصباني شوی وم، نه پوهېدم چې څه وکړم، له باغچې راووتم او له کوره هم، د کور مخې ته مې قدم شروع کړ.

حبيب الله هم راپسې را ووتو او ويې ويل: رنګ دې ډېر زيړ معلوميږي لکه د کومې پيښې سره چې مخامخ شوی وې، زه وارخطا شوم، ومې ويل: نه،نه هيڅ خبره هم نه ده، هسې سر مې لږ درد کوي، غېږ يې را باندې بدله کړه او زياته يې کړه، خو زه فکر کوم چې له ما کوم څه پټوې، ما وويل: څه مطلب،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې یې درنه پټ کړم !؟ زما له تا بغیر څوک شته؟ حبیب الله رانه خبره ونیوله او ویې ویل: هو ! یو څوک شته چې له ماهم ورته ګران یې او ستا په اړه رانه ډېرې پوښتنې کوي او ماته وایي: ته خو زما ورور یې، یوه خوربه له ورور کومه خبره پټه کړي، ما وویل: ته پخوا په هرڅه پوه وې، خو زه نن نه پوهیږم چې څه وکړم، خو زه باید ژر تر ژره له دغه ځایه لاړ شم، حبیب الله وویل:

نه عابده ! داسې مه کوه، د ځان غوښه نیسه او نور هم همداسې خورېږې، ته له نرګس سره څومره مینه کوې او له ځانه هم درباندې ګرانه ده، خو په سیما باندې ته له ځانه هم ګران یې، ته اوس ارام شه، وخت ته به ګورو چې څه فیصله کوي، خبرې یې پسې وغځولې، ما د هغې د پښېمانتیا لپاره ډېرې خبرې ورته وکړې، ترڅو زړه یې درنه تور شي، او حتا نرګس مې هم ورته یاده کړه، خو سیما ونه منله او د نرګس په اړه یې هم پوښتنې را څخه وکړې او د هغې په سترګو کې هیڅ پښېماني پیدا نه شوه، ما وویل: نو زه اوس څه وکړم؟ حبیب الله وویل: ته اوس را څه ستا کوټې ته به لاړ شو، زه در سره نورې خبرې هم لرم، کوټې ته لاړو دروازه مې بنده کړه، مېز ته مې وکتل، یوه ګیلۍ سره او سپین ګلان اېښودل شوي وو، ګلان مې را واخیستل د ګلانو لاندې مې کاغذ ولید، را پورته مې کړو، لیک د سیما و، لیکلي یې وو:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! وروسته له سلامه په ما ګرانه، محترمه او قدرمنه عابد جانه ! له کومې ورځې مې چې لیدلی یې خوب را باندې حرام شوی دی، قسم خورم چې پخوا مې کوم هلک ته نه دي کتلي، په لومړي نظر دې زړه رانه یوړ، خو داسې وخت مې ولیدې چې ته سخت ناروغ



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وې، پر کټ پروت وې، رنګ دې زېړ او زېښــلی معلومېدو او په درانه خوب ویده وې، ستا لپاره دغه زما لومړنی او وروستنی لیک دی، په غور سره یې واوره او په سړو دماغو فیصله وکړه.

هســې نه چې د کوم چا له ژوند سـره لوبې وکړې، د نرګس په هکله هم پوهېږم، زیاته مینه مې ورسـره پیدا شـوې ده او د لیدو په هیله یې یم، زما عابد جانه ادومره مینه ورسره لرم چې د ویلو لپاره یې الفاظ نه لرم، ته خو زما روح یې، زما زړه یې او زما لپاره هرڅه یې، ته خو بادشاه یې او زه ستا په لویه بادشــاهۍ کې په یوه نوم ورکي زندان کې یو نوم ورکي زنداني، که مه وژنې، که ما دار ته خېژوې، که له ما وینځه جوړوې او که په دغه نوم ورکي او لوی زندان کې مې څېرې کوونکو څناورو ته پرېږدې، خوښــه ستا ده، ځکه چې له سـکندر هم لوی پاچا او له فرغون هم هیله ده، چې خپل مجرم ته د خپل جرم په اساس ژر تر ژره جزا تعین کړي.

والسلام
ستا سیما

ســتا زنداني ســتا حکم ته انتظار لیک مې ولوســت، خپل حالت مې نشوای کنترولولی، سر را باندې وګرځېدو او پرځان پوه نه شوم، سترګې مې چې وغړولې حبیب الله او سیما مې سرته ولاړ وو سیما غټې، غټې اوښـکې تویولې، شربت یې راته ونیو ما ترې واخیست او پر سر مې واړوه، لږ را سمبال شوم، سـیما لاړه حبیب الله وویل: د دروازې شـاته ولاړه وه او سـتا پر لویدو سمدلاسه رانـنوته او دغه بکس کې یې هم ور سره یوڅه راوړي دي، بکس مې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه کتو پورته شوم، تشناب ته لاړم، ولمبیدم چې راووتم، نوې جامې پر کټ پرتې وې، حبیب الله وویل:

جامې په بکس کې وې وایې اغونده، ما وویل: نه! حبیب الله وویل: (نه) به راته نه وایې، خیر دی ستا لپاره یې جامې برابرې کړې دي، حبیب الله هر څه له بکس څخه راویستل جرابې، څادر، بوټونه، واسکټ او هرڅه یې راباندې واغوستل، عطر یې هم را باندې ووهلو او ویې ویل: د جمعې ورځ ده، ځه د جمعې لمانځه ته ځو، په پټه خوله ورسره روان شوم، له سیما سره واوښتم، ډېره خوشحاله شوه، مبارکي یې راته وویله، خو ما هیڅ ځواب ور نه کړ او همداسې ورنه تېر شوم، د جمعې لمانځونه مو اداء کړل او بېرته کورته راغلو.

حبیب الله راته وویل: ما ورته ډېر نصیحتونه وکړل، خو زړه یې ونه منله او ویې ویل: هر څنګه چې وي، په هر قیمت چې وي آن له سره هم ورته تېره یم، ما ورته وویل: زړه یو ځل مینه کوي، زه یو ځل مین شوی یم، اخېر اوس څنګه وکړم او څنګه ترې ځان خلاص کړم.

ډېره غصه به مې ورته راغله، خو کله به یې چې معصومیت سپېڅلتیا، ښکلا او لیاقت را یاد شو، نو (نرګس) به راته پکې ښکاره شوه او له کرکې به یې را وګرځولم، غصه به مې سړه شوه، نفرت به مې له زړه لرې شو، زړه به مې ور باندې بد شو، نور به کوټې ته ډېر نه ورتلم، ډوډۍ به مې په خپله کوټه کې خوړله، څو ځله سیما را پسې راغله چې پلار مې وایې ډوډۍ ته دې راشي، خو ما به ورته وویل: نه زه همدلته ډوډۍ خورم، سر مې درد کوي او ستړی یم



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ورځې مې همدا پلمې ورته وکړې، خو بل ماخوستن مالک صاحب کوټې ته راپسې راغلو، زه ورته پورته شوم، په کټ کې را سره کيناستو، راته ويې ويل: عابده زويه!

ايا تـه له ما خفه يې او که کوم بل چا درته څه ويلي دي؟ نو هغه هم ماته ووايه، ما ورتـه وويـل: نه مالک صـاحب ولې به خفه کېږم، و يې ويل: نو بيا دودې تـه ولـې نـه راځې او دا څـه وخت کېږي چې څېره دې هم راتـه نيولې معلومېږي، ماورته وويل: نه مالک صاحب هيڅ خبره هم نه ده، مالک صاحب پورته شو او ويې ويل: ښه زه پوه شوم چې ته ستړی شوی يې او په کمپنۍ کې کار درباندې زيات دی، ما وويل: نه مالک صاحب کار زيات نه دی.

مالک صـاحب لاړ سـهار شـو، چای مې ورسـره په ګډه وڅښـلو، مالک صاحب وويل: د موټر کلياني راکړه، ورمې کړې سيما ته يې وويل: ستا د موټر کلياني عـابد تـه ورکړه، نور بـه عـابد تا پـه موټر کې مکتب ته وړي او راوړي سيما ډېره خوشـحاله شوه، مور يې هم خبره ور سره تائيد کړه او زياته يې کړه عـابده! ته په کمپنۍ کې سـتړی کېږې، سـيما پـه موټر کې تر مکتبه وړه او راوړه، مـاوويـل: نـه مورې، زه پـه کمپنۍ کې پـه کـار خوشـالـه يم، نه پـه موټر چلولو کې، مالک صـاحب وويل: ښـه نو يو کـار هم مه کوه، همدلته په کور کې اوسه او کله چې ميلمانه راځي ناسته پاسته ورسره کوه.

مالک صـاحب په پريکړه کې جدي و، زه غلی شوم مالک صاحب لاړ او حبيب الله يې ورسـره بوتلو، کوټې تـه پورته شـوم سـيما را پسـې راغله، د مکتب کالي يې اغوسـتي وو او پـه لاس کې يې بکس و، زه پـه کټ کې ناسـت



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وم، مخې ته مې ودریده او ویې ویل: کالي دې بدل کړه. حبیب الله له بابا سره لاړو او زما تګ هم مکتب ته ډېر اړین دی، ځکه چې امتحانونه مو دي، زه هم داسې ناست وم، را نږدې شوه او ویې ویل ښه ده، ته چې له ما دومره کرکه کوې، نو زه هم باید له ځانه کرکه وکړم او ځانته جزا ورکړم، زما ژوند هیڅ ته هم ارزښت نه لري او هیڅوک هم زما پر درد نه پوهیږي، په غصه شوه او د دروازې پر طرف روانه شوه، ما ور باندې غږ وکړ سیما ! ودریږه.

بیا مې وویل: د چا په درد هغه څوک نه پوهیږي، چې درد یې نه وي لیدلی، ما خو ټول عمر پر دردونو او تکلیفونو کې تېر کړی دی، نو څنګه به دې پر درد نه پوهیږم، مخ یې را وګرځولو، په سترګو کې یې اوښکې ډنډ وې، ویې ویل: نو بیا کومه مجبوري ده چې ځان رانه لرې ساتې !؟ پخوا به ډوډۍ ته راتلې او اوس دې پښه نیولې ده او حتی په موټر کې مې هم تر ښوونځي نه رسوې

ما ورته وویل: (موږ د وږي له حاله نه دی خبر او وږی د ماړه له حاله). نور به درته څه ووایم، ته هلته درځه زه هم در پسې یم د موټر د ګراج پر لور لاړم، موټر مې را وباسلو سیما هم را پورته شوه او د مکتب پر لور روان شو، ایینې ته مې وکتل سیما ماته حیران، حیران کتل، زما په ور پام کېدو یې هم سترګې ټیټې نه کړې

ویې ویل عابده ! ما په ژوند هم دروغ نه وو ویلي، خو نن مې دروغ هم وویل، هغه داسې چې مونږ امتحان نه لرو، بلکې نن ورځ رخصتي ده، ما ورته وویل: نو بیا د څه لپاره راغلو سیما وویل اوس ماته له هر استاد ستا خبرې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګراني دي او له هر کتاب څخه ستا د ژوند خاطرې اوس هسې هم له غمونو سره بلده شوې یم، له حبیب الله مې ستا په هکله ډېرې پوښتنې کړې دي، خو اوس غواړم هر څه ستا له خولې واورم، موټر ورو، ورو روان و، ما ورته وویل: خو زه نه غواړم. سیما وویل: ولې په ما اعتماد نه لرې؟ ما ورته وویل نه دا خبره نه ده، اخېر مجبوریې کړم چې د کورنۍ او نرګس په اړه څه ورته ووایم.

سیما وویل: په دغه لار څه له مکتب هم تېر شه، زه بیا د ودرېدو درته وایم هلته یوې ملګرې ته ورځم، موټر غلی، غلی روان وو، کیسه مې ورته داسې پیل کړه، زه یوه مور او یو پلار لرم، د خپلوانو له جملې څخه مې یو هم ماما دی، چې یوه مېرمن، یوه لور او یو زوی یې درلودل، څنګ پر څنګ مو کورونه وو او یو د بل سره مو ډېره ښه ګذاره درلوده. ماما مې قدرت الله نومېده، د ماما ناوې مې زرینه نومېده، زوی یې احمد او لور یې نرګس.

سیما! زه په یوه غریبه کورنۍ کې را لوی شوی یم، مکتب مې هم نه دی لوستی، د جماعت له ملا مې دیني زده کړې کړې دي او لیک لوست مې هم ور څخه زده کړي دي، پلار مې دهقاني کوله، نور د پیسو درک نه و، د یوه او بل فصل را رسېدو ته به مو سترګې غړولې، پلار مې ډېر مهربانه سړی و. کارونه به یې په خپله کول او ماته به یې ویل: زویه! یوازې له مولا صاحب څخه درس وایه، کار زه کوم، وخت تېریدو او داسې ورځ هم را ورسېده چې زه یې پر سهار ایران ته را روانېدم، تیاره سهار و، مور غږ را باندې وکړ، زویه! پورته شه د لمانځه وخت دی، پورته شوم، مور مې ژړل، مخ لاسونه مې ومینځل، لمونځ مې اداء کړ، مور مې چای راته راوړ نرګس هم راغله، د ماما ښځه مې هم ورسره وه.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې په دوو پیالو کې چای راته سره ولو نرګس ماته کتل چای مې وڅښلو پورته شوم د سفر وسایل مې را واخیستل لکه جامې او داسې نور ماما مې، د ماما ښځه، مور او پلار مې ټولو ژړل خو نرګس داسې ژړل، چې ته به ویل یو لوی غم یې پر زړه تېرېږي ټول را تر غاړې وتل، مور مې را پسې ډېره خفه وه او اوښکو یې د ګریوان پر لور لار خپله کړې وه، په وروستیو کې نرګس لاس راکړ او دسمال یې زما سترګو ته ونیولو او ویې ویل:

دا واخله خولې به پرې پاکوې، دا خبره ډېره درنده را باندې پرېوته، ما فکر وکړ چې بیا لکه چې په ژوند کې هم سره نه وینو، غیږ مې خلاصه کړه، په سترګو کې مې د هجر اوښکو ډنډونه جوړ کړي و، نرګس غېږې ته را ولویده، دا وخت ما هیڅوک هم نه لیدل او ځان مې په یوه بل جهان کې احساسوه، د زړونو په درزا کې مو یوه بل ته خبرې کولې او د ټول عمر انتظار وعدې مو سره کولې، لږ را په هوش شوم، لکه خوب چې وینم، نرګس مې له غیږې څخه لرې کړه، ګریوان مې د نرګس په اوښکو لوند و، روان شوم مور اوبه را پسې توی کړې، په بار، بار مې د کور په طرف مخ راګرځاوه، له کوره، ډېر لرې شوی وم مخ مې را واړولو، د بام پر سر یو څوک ښکارېدل تر هغه پورې ولاړ و، چې له سترګو مې پناه شول.

د موټر په ائینه کې مې سیما ته وکتل، غبرګې غبرګې اوښکې یې پر سپین مخ را روانې وې زه چپ شوم، سیما سترګې له اوښکو پاکې کړې وې، ویې ویل د موټر مخ را وګرځاوه، کومه بله ورځ به ورشو اوس به کور ته لاړ شو، ځکه چې زما حالت ښه نه دی، د موټر مخ مې را وګرځولو او د کور پر لور مو حرکت پیل کړ، سیما وویل: واقعیت چې له درد ډک داستان و، د ستا پر



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشکلاتو زه پوهېږم، خو ته باید زما مشکلات هم له پامه ونه غورځوې، ځکه چې زه وخت ته اړتیا لرم، ترڅو تا هېر کړم، د نرګس لپاره هغه زما خور ده او ته زما د یوې پاکې، سپېڅلې او معصومې پښتنې خور امانت.. ددغه خبرو په ویلو سره سیما چوپ شوه او په یوه ځنګ کړه شوه، زه ور خطا شوم، موټر مې ودراوه، په چټکۍ یوه دوکان ته ورغلم اوبه مې ترې را واخیستې او د سیما پر مخ مې وشیندلې، سیما سلګۍ وکړې، سترګې یې وغړولې، په یوه دردناک او له غم ځخه په ډک نظر یې راته وکتل، چې زما زړه یې سوری کړ او د ځان لپاره یې پکې جونګړه جوړه کړه.

سیما وویل: زه بخښنه غواړم ځان یې را سمبال کړ، ما موټر ته حرکت ورکړ سیما وویل: څه چې وشول باید داسې نه وای شوي، ما ډېر وځورولې، زه به بیا هیڅکله هم ستا مخې ته نه درځم او بیا به ستا زړه ازار نه کړم.

سیما که اوس هر څه ویل، خو سترګو یې خپل کار کړی وو، خبرې یې کولې ما نه اورېدې. خدای خبر څه به یې ویلي وي، خو زه نه پوهېدم چې ولې ور ځخه متاثره شوم، خبرې مې ورسره پیل کړې او داسې مې ورته وویل: سیما ته یوه ډېره ښکلې نجلۍ یې او له علم ادب هم برخمنه یې. دا ټولې هغه ځانګړتیاوې دي، چې زما کلیوالۍ نرګس یې هم لري، زه ستا په احساساتو پوهېږم او ستا درد محسوسولای شم، خو زه یو مزدور یم او ته د یوه خان لور!؟

ته پوهېږې که چېرې ستا پلار خبر شي، نو څه به وشي !؟ مړه به دې کړي او زما مرګ خو ورته هیڅ هم نه دی او بله دا چې زه له خپلې نرګس سره



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره مېنه کوم، چې... ما همداسې خبرې کولې خپل روحیات مې بایللي وو، ما داسې فکر کولو چې زه له نرګس سره خبرې کوم، کور ته ورسېدو، پهره دار دروازه خلاصه کړه او کور ته دننه شو، سیما زما پر خبرو حیرانه معلومېده، د موټر دروازه مې خلاصه کړه، سیما همداسې په موټر کې ناسته وه، د کوزېدو توان یې نه درلود، په موټر پورې مېخ شوې وه، دروازه مې ورته خلاصه کړه، سیما ښکته شوه او په ځنګېدلو قدمونو د کوټې پر لور روانه شوه.

کتابونه هم ور څخه پاتې شول، کتابونه مې را واخیستل او د سیما د کوټې پر لورې ورغلم، لږ پښه نیولې شوم او بیا بې اختیاره کوټې ته ورننوتم، زما په ورتګ سره سیما له ځایه پورته شوه او حیران، حیران یې راکتل او له لاسه یې کوچنی بکس ولوېد، د بکس په لوېدلو له بکس عکسونه وغورځېدل.

ډېر عکسونه وو، زه ور ټیټ شوم، عکسونه مې ټول ول، سیما هم د عکسونو په ټولولو پیل وکړ، عکسونه ټول زما وو، عکسونه مو سره ټول کړل، سیما ورخطا ودریده، ویې ویل بخښنه غواړم، ستا بې اجازې مې ستا عکسونه اخیستي دي او اوس غواړم چې دا ټول زما خور نرګس ته ولېږم، زه ترې راووتم سیما په کوټه کې پاتې شوه، د غرمې ډوډۍ مې وخوړه، د سیما مور کوټې ته راغله، ویې ویل: زویه! د سیما سخته ګرمه تبه ده، ډاکټر ته یې بوځه، ما وویل: لږ ساعت مخکې یې تبه نه وه، هغه خو ښه وه، مور یې وویل: نه پوهېږم دا څو میاشتې کېږي، چې یوه ورځ روغه او بله ورځ ناروغه وي



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کوټې راووتم، سیما ته ورغلم ورته مې وویل: څنګه یې؟ سیما وویل: ښه یم، بیا مې ورته وویل: مور دې ویل چې ډاکټر ته یې بوځه، سیما وویل: کوم ډاکټر ته؟ زه د کوم بل ډاکټر تګ نه یم، ځکه چې ډاکټر مې مخې ته ولاړ دی، زما لپاره له ټولو ډاکټرانو لوی ډاکټر.... په کټ کې را کېناسته، ویې ویل: دغه ده زه روغه شوم، ما ورته وخندل، نه پوهېږم څه وکړم.

سیما وویل: ورځه خپلې کوټې ته ترې راغلم، د سیما مور ته مې وویل: مورجانې سیما وایي روغه یم او ډاکټر ته د تلو حاجت نشته، مور یې وویل: ښه ده. ورځې تېریدې او د سیما مینه زیاتېده، هره ورځ به مې ښوونځي ته بېوه او راوسته، یوه ورځ ښوونځي ته په لاره وو، سیما وویل: ما د نرګس لپاره یوه تحفه تیاره کړې ده، چې یو داسې څوک پیدا شي چې ورته ویې رسوي، ما وویل: زه هم چې یو ځل له کوره راوتلی یم، پوښتنه مې نه ده کړې خدای خبر مور او پلار نرګس او د نرګس مور او پلار به څنګه وي، خو خیر څه چاره به جوړه کړو.

حبیب الله ته به ووایو، ترڅو په چا به یې راته واستوي. سیما وویل: نه زما پلار ته به زه ووایم، هغه به یې واستوي، ځکه چې هغه ډېر خلک پیژني، ما ورته وویل: مالک صاحب که په تا شک وکړي، سیما وویل: زما پلار په ما ولې شک کوي، زه به ورته ووایم چې د عابد دی او خپل کور ته یې استوي، زه غلی شوم، مکتب ته ورسېدو، سیما ښکته شوه او زه بېرته کور ته راغلم، نرګس ته مې ځانته یو خط ولیکلو او کورنۍ ته ځانته، پر سبا ورځ مالک صاحب وویل:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیما راته وویل چې عابد یو څه تحفه کورنۍ ته لیږي، زه هم باید ستا کورنۍ ته یو څه ولیږم، عابده! ته خو ما خپل زوی ګڼلی یې، زما هر څه ستا دي، ستا کورنۍ ته به زه دومره څه ولیږم چې تر ډېره به یې بس شي. احمد شاه هسې هم کلي ته روان دی، هغه به یې ور وړي، سیما پورته شوه، یو بکس یې را واخیست، دروند معلومېدو، مالک صاحب خپلې ښځې ته وویل: په صندوق کې مې پیسې ایښودلې دي، هغه را واخله، پیسې یې را واخیستې، د پیسو په لیدو زه حیران شوم، ځکه چې ما په لومړي ځل دومره پیسې ولیدې، مالک صاحب په بکس کې کېښودې، ما هم له جیبه دوه خطونه را وایستل، ومې ویل مالک صاحب دا به هم پکې کېږدم، د خپلې روغتیا مې کورنۍ ته پکې یو څه لیکلي دي، مالک صاحب وویل:

ایا ته لیکل او لوستل هم کولی شې؟ ما وویل: ګزاره کوم. مالک صاحب خوشاله شو، مالک صاحب سیما ته وویل: بکس د موټر په وروستي سیټ کې کېږده، سیما پورته شوه، بکس یې ورسره واخیست او لاړه، زه هم پورته شوم حبیب الله ته ورغلم یو له کیسه مې ورته وکړه. حبیب الله وویل:

د قسمت کارونه دي، سیما ته هم وو ایه او ته هم فکر کوه، ترڅو مالک صاحب در باندې پوه نه شي، ما وویل ما سیما ته دا خبره کړېده، ترڅو چې ډېر فکر وکړي او زه خو هسې هم ډېر فکر کوم.

وخت تېرېدو. احمد شاه خپل وطن ته لاړ او بېرته راغی، زه یې په لیدو ډېر خوشحاله وم، ځکه چې ما فکر کاوه چې د کورنۍ حال احوال به یې راته راوړی وي، احمد شاه ته مې کلکه غېږه ورکړه، په تلوسه مې ترې وپوښتل:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه زمونږ کلي ته هم تللی وې؟ احمدشاه وویل: هو! ستا کورنۍ مې ولیده، ستا په خبر ورورلو ډېر خوشاله شول.

دوه شپې مې ورسره وکړې، الله ج دې ورسره ښه وکړي، ډېر عزت یې راکړ، بکس یې خلاص کړ، ماته یې په یوه دسمال کې تړلي شیان راکړل، ویې ویل: دسیما لپاره هم ستا کورنۍ څه راکړي دي، ما ورته وویل: ماته یې راکړه، هغه یې هم راکړل، زه خپلې کوټې ته لاړم، خپل دسمال مې خلاص کړ، په دسمال کې بادام، چارمغز او داسې نوره وچه مېوه وه او یو کوچنی او پر لاس جوړ شوی دسمال هم په کې ایښی و.

دسمال مې خلاص کړ، دوه خطونه پکې وو، یو مې کورنۍ رالیږلی و او بل لیک نرګس رالیږلی و، لیک مې پرانېست، نرګس لیکلي وو:

مونږ ټول روغ او جوړ یو، ستا د صحت په هیله، مور او پلار جان دې، زما مور او پلار ټول درته سلامونه نیکې هیلې او ښې پیرزوینې وړاندې کوي، ستا لیکونه د سیما تحفه او د مالک صاحب هغه ډالۍ هر څه تر مونږ را ورسېدل، مونږ له هر څه ستا روغتیا ته ډېر لېواله او خوشحاله یو، د ټولو ډېر یادیږې او هر وخت دې یادوي او د عاګانې درته کوي، د مالک صاحب په رالیږل شویو پیسو مو ټول ضرورتونه پوره شول، الله (جل جلاله) دې ورسره ډېر ښه وکړي مور ورته په هر لمانځه کې دعاګانې کوي او وایي چې عابد زوی ته مې ولیکه، چې ډېره ښه ګوزاره دې ورسره کوي

د پلار جان ناروغي دې هم اوس ښه شوې ده، خو تا ډېر یادوي او ستا د لیدو په هیله شپه او ورځ الله (جل جلاله) ته سوالونه کوي، ستا د خبر د را رسېدو



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مهال دومره خوشاله ۇ، چې د خوښۍ اوښکې یې تویولې، اوس وایي چې ماته دې زړه نه خوري زه اوس ښه یم، سفر په ډاډه زړه کوه، الله (جل جلاله) دې ځولۍ مه تشوه او الله (جل جلاله) دې په هر حالت کې سر لوړی لره.

مور جانه هم زما تر څنګ ناسته ده، دعاګانې درته کوي، نورې خبرې را لنډوم، خدای دې خوشاله لره، د ځان ډېر، ډېر خیال ساته، د خپلې کورنۍ لپاره.

والسلام ستا د لیدو په هیله!!

لیک مې ولوست، زړه مې غوښتل چې والوځم، خپل کلي ته ځان ورسوم او خپله کورنۍ ووینم، شاته مې وکتل سیما ولاړه وه، ما سترګې وچې کړې او پورته شوم.

سیما وویل: عابده! هغه زما امانت دې څه کړو؟ ما دسمال ته اشاره وکړه، سیما دسمال واخیست او پر کټ کېناسته، دسمال یې پرانیست او بېرته یې سره غوټه کړ، سیما وویل: ته ژاړې ولې؟ څه شوي دي، ایا ستا کورنۍ خو ښه ده؟ ما وویل: هو! ښه ده، سیما هیڅ خبره هم نه ده، هسې زړه مې... پر سترګو مې اوښکې راغلې، زړه مې ډک، ډک کېدو د ماشومانو په څېر مې اوښکې تویولې، ژړا مې نه تم کېده، سیما را نږدې شوه، په دواړو لاسونو یې زما اوښکې پاکولې، خو زما له سترګو چینې جوړې شوې وې، سیما هم په ژړا شوه او بیا یې وویل: عابده! که ته همداسې اوښکې تویوې، نو زه به له غمه مړه شم، اوښکې یې را پاکې کړې او اوبه یې راکړې، اوبه مې ترې واخېستې او ومې څښلې، سیما وویل: ستا خو تبه ده پر کټ پرېوتم،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیما را باندې کمپله واچوله، خوب یوړم، چې را ویښ شوم حبیب الله هم کوټې ته راغلی و، زما پر تندي یې لاس کېښود، ویې ویل: ته څنګه یې؟ اوس مالک صاحب هم راغلی ؤ، ستا پوښتنه یې کوله او ما ملک صاحب ته وویل، چې خوبولی دی. سیما را ننوته پریشانه معلومیده، زما د حال پوښتنه یې وکړه، حبیب الله په غصه ورته وویل: چې څنګه وي نو ستا یې پر څه؟ دا هر څه ستا د لاسه کېږي، که زه د اسې خبر وی، نو زندان ته به تللي و، خو دلته به نه راتلو، ځکه د غه کور خو زما د عابد لپاره تا جهنم جوړ کړی دی.

توبه، توبه وایي چې کاڼی ځي د یتیم پر سر لګیږي، هسې خو غمونه کم و، اوس په دې غم هم اخته شو، د سیما له سترګو اوښکې وڅڅېدې، په عاجزانه غږ یې وویل: زه له تاسو دواړو بخښنه غواړم، چې ما زحمت در کړی دی، دا هر څه چې زما له امله دي، نو زه به هیڅکله هم د عابد مخې ته رانشم او ما به هیڅکله هم بیا ونه وینئ، ځکه چې زه د عابد خوشالي غواړم، هسې هم ژمنۍ رخصتۍ را نږدې شوې دي، زه به مې د ترور کره تهران ته لاړه شم.

سیما ډېرې په ورو او له ډېره غمه په یوه لویه ګیله کې چې له مونږ یې لرله، خبرې کولې، ما ورته وویل: نه سیما دا هر څه چې وشول دا د تقدیر لوبه وه، په دې کې ستا هیڅ قصور نشته، زه له تا ګیله نه لرم، بلکې له تا مننه کوم، حبیب الله وویل: سیما ! زه بخښنه غواړم، د عابد په سترګو کې زه یوه زره خفګان هم نه شم لیدلی، د عابد په خفګان زه ویلې کېږم، زما زړه اور اخلي، ځکه چې په ما له ځانه هم ګران دی او د یوه ورور په صفت زما دا دنده ده، چې له مشکلاتو یې بچ وساتم.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بيا هم له تا څخه بخښنه غواړم، هيله ده چې ته خفه شوې نه وې، سيما وويل: زه درته چاى راوړم او لاړه. مالک صاحب کوټې ته راغلو، زه وويرېدم هسې نه زمونږ خبرې يې اوريدلې وي، په کټ کې را کېناستم، مالک صاحب مې پر اوږه لاس کېښود، حبيب الله ته يې وويل: هغه زما موټر چالان کړه، عابد ډېر ناروغ دى دا ډېر وخت کېږي چې رنګ يې ورځ په ورځ ژيړيږي، ترڅو يو روغ ډاکټر ته يې بوځم، ماورته وويل: نه زه ښه يم. مالک صاحب وويل: نه هسې هم سيما به هم بيايم، هغه هم کله ناروغه وي او کله روغه، ذهن يې هر وخت پريشانه وي، په يوه غږ خو درته غږ هم نه کوي او هسې لږ چکر به هم ولګوو، ما هم ورسره ومنله، موټر ته پورته شوو.

حبيب الله سټرينګ ته کېناست او مالک صاحب ور سره په څنګ کې، زه او سيما په وروسته سيټ کي کيناستو، مالک صاحب وويل: سفر مو لږ لوى دى، تهران ته ځو هلته ډېر ښه، ښه ډاکټران شته او هلته مې يوه خور هم اوسيږي، دا ډېر وخت کېږي نه يم ورغلى، يو دوه شپې به ور سره وکړو، لږ ساعت به مو تېر شي، مونږ ټول غلي وو، ما د ځنګلونو، کورونو، سرکونو او باغونو سيل کاوه، موټر په چټکۍ روان و.

په ټوله لاره مالک صاحب او حبيب الله سره خبرې کولې، خو زمونږ ترمنځ خاموشي وه، کله، کله به مالک صاحب وويل: که څنګه زويه! ما به ورته وويل: همداسې ده، په خبره به پوى نه وم، ځکه چې زه جسماً له دوى سره او روحاً له خپلې نرګس سره څنګ پر څنګ ناست وم، د ملا صاحب درس مې لوستو، يوه او بل ته يې تيروو، يو نيم ټکى به له ما هېر شو، خو نرګس به راته ښودلو او ما به هم زده کړ، هو رښتيا څنګه به مې نه زده کولو، زما استازې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرګس راته ښودلي وو، مالک صاحب وویل: حبیب الله یو څه مېوه به له دوکانه را واخلو حبیب الله د سرک یوه څنګ ته له دوکان سره نږدې موټر ودرولو، دواړه ور کوز شول.

سیما ماته وکتل راته وېې ویل: ته بیا د څه سوچونه وهې، چې د پلار جان خبرو ته دې ځواب نه ورکاوه؟ ما وویل: ما هیڅ هم نه دي اوریدلي، پلار جان دې څه ویل؟ هغه دې د کورنۍ په اړه خبرې کولې. نرګس ورته خط را لیږلی و، مور او پلار دې ورته مننه کړې وه، نور هغه لیک ما هم نه دی لوستی، چې څه به یې پکې لیکلي وي، دوی موټر ته را پورته شول، منې او ملتې ورسره وې دوی خپله برخه ترې واخیسته او نوره یې مونږ ته راکړې، سیما زما ترڅنګ نږدې کېښودې، ما ورته وکتل مخ مې ترې واړولو، و مې ویل زړه ته مې نه کېږي، حبیب الله وویل: عابده! ته یې ولې نه خورې؟ ماورته وویل: هسې زړه ته مې نه کېږي. مالک صاحب وویل: ښه ده مخته نور دوکانونه هم شته، بل څه به درته را واخلم، ماورته وویل:

نه مالک صاحب بس همدغه به وخورم، ما مېوې ته وکتل، سیما لاس را وړاندې کړ، په لاس کې یې مڼه وه، په سترګو کې یې د اخیستو هیله په بار، بار کوله، ما نه ترېنه اخیسته، خو چې ورته و مې کتل، له حیا یې سترګې ټیټې کړې، مخ یې له منې څخه هم تک سور و، منه مې ترېنه واخیسته. تهران ته ورسېدو، مالک صاحب وویل: زه د خور لپاره څه تحفه اخلم، خو څه به ورته واخلم؟ په فکر کې شو، بیا یې حبیب الله ته وویل: لږ مخته لاړ شه، بیا چپ اړخ ته وګرځه، هلته د سرو او سپینو زرو دوکانونه دي، څه سره زر به ورته واخلم، خور هم حق لري، دوکانو ته ورسېدو مالک صاحب وویل: تاسو کېنئ



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ ژر راځو، سیما ورته وویل: پلار جانه! زه هم درسره کوز ېږم او دځان لپاره یو څه اخلم، مالک صاحب وویل چې دا سې ده نو راځئ. له موټره رابښکته شوو، حبیب الله موټر ته پاتې شو، یوه دوکان ته ورننوتو، له بنکلو، بنکلو د ېزاینې سرو او سپینو زرو څخه ډک و، مالک صاحب د خور لپاره سره زر واخېستل، د سیما نه خوښېدل، دوکاندار ورته ډېر د ېزاینونه وښودل، خو د سیما په زړه نه لګېدل، دوکاندار بل دوکان ته لاړو، ترڅو نور د یزاینونه هم راوړي، بې اختیاره مې سرو زرو ته کتل، دوه په یو د ېزاین ګوتمې مې را پورته کړې، ومې ویل: څومره ښایسته ګوتمې دي، سیما رانه واخیستې، دوکاندار راغی، نور د یزاینونه هم ورسره و، سیما ګوتمې راکړې، غلي یې راته وویل: ورته ووایه چې دغه یې خوښې شوې، ګوتمې مې ترې واخیستې، دوکاندار ته مې ورکړې، مالک صاحب وویل: تاسو موټر ته درځئ، ګوتمې به زه درورم، موټر ته ورروان شو، حبیب الله وویل: راغلئ؟ ما د هو په مانا سر وخوځاوه، مالک صاحب هم راغی.

موټر ته پورته شو، موټر حرکت وکړ، د سیما د ترور کور ته ورسېدو، مالک صاحب له موټر ښکته شو، د دروازې د هارن ټڼ یې ټینګه کړه، له کور څخه څو شېبې وروسته یو پر عمر پوخ سړی راووت، د مالک صاحب په لیدو یې څېره وغوړېدله او خوشحاله معلومیدو، له مالک صاحب څخه یې غېږه بدله کړه او له مونږ سره یې هم ستړې مه شې وکړه، مالک صاحب مونږ ورته معرفي کړو، دی یې هم راته معرفي کړ، نوم یې ګل خان و او د مالک صاحب د خور خاوند و، یو بل ځوان هلک هم راووتو، له مونږ سره یې روغبړ وکړ، تنګه



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریشـي یې پر تن وه، ږیره او بریت یې خریلي وو، ګل خان وویل: دا مې زوی دی، نوم یې اصف دی، راځئ حجرې ته، اصف به موټر راننباسي.

اصف د کور دروازه خلاصه کړه، موټر ته ور روان شو، تګ یې په ما ښه ونه لګېدو، ځکه چې هلته سـیما وه، له لویې دروازې تېر شـو، حجرې ته ور وګرځېدو، کېناسـتو اصـف راغلو چای یې هم ورسره راوړ، ګل خان پوښـتنه رانه وکړه، څه ناروغي لرې، مالک صـاحب ور وړاندې شو هر وخت یې پر سر بوج وي، پخوا موټر وهلی وو بیا ښه شو.

خو اوس بیا ناروغ معلومېږي او کمزوری شـوی هم دی، چای مو سـره وڅښـلو، ګل خان وویـل: اوس دلته ډېر ښـه، ښـه ډاکټران شـتـه، اوس لـه هندوستان څخه یو پروفیسور راغلی دی، ډېر هوښیار دی او ښه خو داده چې افغاني دی، زمونږ له خلکو سره ډېره ښه ګوزاره کوي

زه غلی وم، مالک صاحب وویل: ښـه ده لومړی به ډاکټر ته ور شـو، چې څه وایي، بیا به لږ ګرځولو ته هم وزګار شو، ګل خان اصف ته وکتل، هله هغه زما موټر را وباسـه، سـیما او مور ته دې ته هم ووایه، چې ځانونه تیار کړي، ترڅو ډاکټر ته لاړ شو. اصف لاړ، مالک صاحب او ګل خان سره خبرې کولې، زړه مې را تنګ شـو، خفه وم، د اصـف خبره ښـه را باندې نه لګېده، کینه مې ورسره پیدا شوه، خو بلاخره له کوره روان شوو او یوه ډاکټر ته ورغلو، مالک صـاحب مې ناروغي ورته بیان کړه، ډاکټر راته نسـخه ولیکله او هدایت یې راته وکړ، ترڅو تشـویش ونه کړم، له ډاکټر څخه را ووتو، مالک صـاحب، ما



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سیما ته دوا د نسخې له مخې واخیسته، د دماغو دوا وه، خو مونږ ته خپله ناروغي معلومه وه.

د ډاکټر تر کتنې وروسته بېرته د ګل خان کور ته راغلو، دوه شپې مو ورسره وکړې، لږ ساعت مو تېر شو، په دریمه ورځ سهار وختي مو بېرته د راتلو اراده وکړه، ګل خان د پاتې کېدو ټینګار کاوه، خو مالک صاحب وویل: خیر نن به لاړ شو، دومره ساعت مو تېر شو، بیا به بله ورځ راشو، ګل خان وویل چې تاسو نه پاتې کېږئ، نه مو را ایساروم، خو سیما به دلته پاتې شي او هسې هم د مکتب رخصتی دي، مالک صاحب هم غلی و، څه یې نه ویل، حبیب الله ما ته وکتل، خدای خبر زما پر زړه به څه تېرېدل، خولې را باندې را ماتې شوې.

غوښتل مې را سره لاړه شي، د حجرې دالان ته مې وکتل، څه مې ویل، په خوله کې مې خبره را وچه شوه، خوشاله شوم سیما د حجرې دالان ته راننوته او چادري یې پر لاس اچولې وه، ګل خان ور وکتل، سیما لورې ته چېرته ځې، ترور دې ویل همدلته پاتې کېږې، سیما په غلا را وکتل ما سترګې ښکته واچولې، ویې ویل: ماما اوس به لاړه شم، د مور به هم راته اند ېښنه وي، ګل خان ورسره نه منله، خو اخېر سیما ورته قناعت ورکړ، رخصت مو سره واخېست، په موټر کې کېناستو، زه خوشاله وم، ځکه چې له بل هجران څخه خلاص شوم، لکه ماهي چې له اوبو را وباسې او بېرته یې پکې ایله کړې، زه نه پوهېدم چې ولې له سیما پرته زنده ګي راته ګرانه ښکارېده، خو اخېر هم په دې راز پوه شوم، د سیما ټول کره وره نرګس ته ورته وو او سترګې خو یې بیخي نرګس ته تللي وې.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـيما هم خولې معلوميده، د څه ځنډ وروسـته كور ته را ورسـيدو، د سيما مور رامخې ته شوه، شكر له مودو راهيسې وروسته دې خوشحاله وينم او بله دا چې له كلي څخه درته ليک هم رارسـيدلی دی، ما په نيولي غږ وويل: ليک چا راوړ؟ د سـيما مور وويل: د احمد شـاه دوی كليوال، احمدشـاه ته وركړی و، ما په بيړه وويل هغه چېرته دی؟ مه وار خطا كېږه، راځه په الماری كې مې ايښـی دی، په ګړنديو ګـامونو ورسـره روان شـوم، ليـک مې را واخيست، خپلې كوټې ته روان شوم، په فكر كې شوم، يا خدايه! ما خو هغه بل ليک هم نه دی لوستلی، چې څه به يې پكې ليكلي وي، بيا بل ليک راغی، ليک مې پرانيست، پر كټ كېناستم، د ليک په لوسـتو مې پيل وكړ، د هرې جملې په لوستو مې رنګ ژېړيدو.

كنټرول مې له لاسه وركولو، بيا مې ليک ولوسـتو پورته شـوم په كوټه كې را وګرځېدم، نه پوهيدم چې اوس بايد څه وكړم، ما څه فكر كولو او څه وشـول، يـا الله خـاورې تـه مو خطر دی، عزت تـه مو خطر دی، ليـک مې را واخيست، بيا مې په لوستلو پيل وكړ، ليكلي يې وو:

السـلام عليكم عـابد جانه! مور، پلار او ټول درته سـلامونه وايي، وروسته له سلامه هيله ده چې پخواني ليكونه درته رسيدلي وي او ددې ليک د رسـېدو پـه هيله، زمونږ پـه خـاوره كې د هر بد حالت را منځته شـوی دی، قتلونه، يو تر بل دښمنۍ، خورې شوې، جنګ، جنجال د واک ته رسيدو پر سر هر څوک سره په جنګ دي او د وينو لښتي روان دي، د روسـانو او مجاهدينو ترمنځ سـخته جګړه روانه ده، په خپل منځ كې هم د خلقي، مجاهد، اشـرار او كمونيسـت پر نومونو سـره وژني، مونږ اوس په امن كې يو لا مو خپلې لمنې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور نه دی اخیستی، تاته انتظار یو، ترڅو راشې، څنګه چې لیک درته ورسېدو، په همغه شپه کې را روان شه، په کابل مه راځه، ځکه چې هلته سخته نښته روانه ده، له بي بي سي راډیو یې وویل او دا یې هم وویل چې لارې هم اکثریت تړل شوې دي، په کومه بله لار راشه، مونږ ټول ستا انتظار باسو ستا د راتلو په هیله، د ځان ډېر خیال ساته وسلام.

ستا نرګس ستا د لیدو په هیله شپې او ورځې سبا کوي، هجر دې ما سوځي او یادونه دې ما ایره کوي، ستا د راتلو په هیله، ستا د مینې تږې، ستا لیونۍ نرګس.

له خولې مې چیغې راووتې ځان زما په اختیار کې نه و، نه پوهیدم چې څومره به مې ژړلي وي، په څه حال به شوی وم، وجود مې دروند و، سر مې درد کاوه، سترګې مې وغړولې، مالک صاحب مې مخته ولاړ و، حبیب الله زما سر پر خپل زنګون ایښی و، سیما وویل: اوبه وڅښه، را نږدې شوه اوبه مې ترې واخیستې.

د سترګو اوښکې یې زما پر مخ را ورېدې، له اوبو مې غړپ وکړ، سیما ته مې ورکړې په سوي او معصومانه غږ یې وویل: لږې نورې هم وڅښه، ور غبرګه مې کړه، له مرۍ مې نه تیرېږي.

حبیب الله وویل: عابده! داسې څه شوي دي چې ته یې دومره وار خطا کړې یې، پورته شوم لیک مې حبیب الله ته ورکړ، په لوستلو یې پیل وکړ، هره شیبه یې رنګ زیږیدو، له لاس څخه یې لیک وغورځېدو، پر کټ کې لکه بت کېناست، سیما لیک په لوړ اواز ولوست، په سترګو کې یې اوښکې ډنډ



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي، پر مخ یې را ماتې شوې، مالک صاحب له کوټې ووت، حبیب الله هم د مالک صاحب لاره خپله کړه، زه لکه یو بې روحه انسان ولاړ وم.

اوس مې هم ښه په یاد دي، سیما مې تر څنګ ولاړه وه، ویل یې: ته به لاړ شې زما د زړه باغ به تالا شي، پاڼې به یې ورژیږي او په یوه سپېره دښته به بدل شي، زه په دې نه پوهیږم چې له تا بغیر به زه یوه شېبه څنګه تېروم، په غېږ کې را ولویده سلګۍ یې وهلې او ګیلې یې راته کولې، په دې وخت کې حبیب الله کوټې ته راغلی و، خو زمونږ هیڅ ورته نه و پام شوی، زما پر مټ یې لاس کېښود، ځان ته مې پام شو سیما مې له ځانه لرې کړه، هغه هم د یوې داسې شېبې په لیدو حیرانه شوه، شاید دا هر څه یې چې وکړل، په اختیار کې یې نه وو، هغه په ځان نه وې پوه شوې.

ګریوان مې د سیما په اوښکو لوند و، په بیړه له کوټې راووتم، بېرته کوټې ته دننه شوم، خپل ضروري شیان مې راټول، چې مالک صاحب کوټې ته راغلو، په ورو او غمجن غږ یې وویل: زویه! دا هر څه د خدای (جل جلاله) له طرفه دي، ته ور باندې صبر وکړه، خدای (جل جلاله) به خیر کړي، او بله دا چې ته هر کله وغواړې لاړ شې، نو زما له طرفه درته اجازه ده، ما وویل: زه همدا اوس غواړم حرکت وکړم، مالک صاحب وویل: سمه ده زویه! مه وارخطا کېږه، زه به همدا اوس ستاسو لپاره موټر را وغواړم، مالک صاحب له کوټې ووت بېرته په خپل کار بوخت شوم، ضرروي شیان مې راټول کړل، په بکس کې مې واچول، د نرګس هغه دسمال مې را واخیست، ترڅو خپلې اوښکې پرې پاکې کړم، له یوې سترګې مې تېر کړ، پر بله سترګه مې له نرم لاس سره یو ځای یو دسمال اوښکې پاکې کړې، پورته شوم سیما وویل: ته ځې؟ ما وویل خامخا



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایدلاړ شم، ښه لاړ شه زما له طرفه زما خور ته سلامونه، وایه او بلدا چې غلې شوه او بیا یې په ژړغوني اواز وویل، چې زه به د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې ستا په انتظار وم.

هغه ګوتمې چې په تهران کې یې اخیستې وې، راکړې، ویې ویل یوه یې ستا او بله یې زما خور نرګس ته ور په ګوته کړه، له کوټې راووتم، حبیب الله هم تیار د موټر تر څنګ ولاړ و، د سیما له مور، مالک صاحب او احمدشاه څخه مو رخصت واخیست، مالک صاحب یو بکس راکړ، ویې ویل: درسره ویې ساته، مهم دی په کار به دې راشي، بکس مې ترې واخیست او موټر ته ور پورته شوم، موټر له کوره ووت، په شا مې ژر، ژر مخ را ګرځولو داسې راته ایسېده، لکه چې له خپله کوره روانېږم، سیما په دروازه کې را پسې ولاړه ده، حالات مې نه شول انځورولی لکه یو خوب چې وینم، ویروونکی او ځوروونکی خوب، حالات مې ورو په ورو خرابېدل، سترګې مې پټېدې او وجود مې راباندې دروند شو.

خوب راغی سترګو ته مې نرګس ودرېده په چیغو، چیغو یې ژړل او ویل یې، هغې درسره چل وکړ، پولیسو ته مو سپاري، د خدای لپاره ځانونه وژغورئ را ټوپ مې کړ، ډرایور مې یو دروند سوک پر سر وواهه، شاته یې پورې وهلم، قرار شه! اوس او به له ورخه تېرې دي، رښتیا یې ویل وجود مې حرکت نه شو کولی، حبیب الله ته مې وکتل، د ټولو غمونو څخه لرې او بې غمه پر سیټ پروت و، ډېره هڅه مې وکړه چې پورته شم، خو د پورته کېدو وس مې په وجود کې نه وه پاتې، سترګې مې پټېدې او پر ځان مې ورو، ورو واکمني له لاسه ورکوله



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهېږم چې څومره وخت به تېر شوی وي، وجود مې درد کاوه، سترګې مې وغړولې توره تیاره وه، له ځایه را پورته شوم، پښه مې پر حبیب الله ولګیده، زګېروی یې وکړ او وخوځېدو، څوک یې؟ ما وویل حبیب الله زه یم، څنګه یې؟ را پورته شو، په ژړا یې پیل وکړ، غبږ یې رانه تاؤ کړه او زیاته یې کړه: یا خدایه! هم دومره مصیبتونه بس نه وو چې یو ځل بیا دې د دغو تورو تمبو شاته واچولو!؟ یا خدایه! دا دې په کوم ګناه نیولي یو؟ ته صبر راکړې، اوښکې مې ورته پاکې کړې، ومې ویل: په دې کې به مو خیر وي، انسان په خپله ښه نه پوهېږي.

مالا خبره نه وه خلاصه کړې چې څلور کسان راننوتل، لاسونه یې شاته را وتړل او له کوټې یې وباسلو، له لمر مې سترګې نه شوې غړولی، یو لوی دهلېز ته یې دننه کړو او بیا یې ژېر زمینې ته ښکته کړو، پر چوکیو یې کېنولو، لاسونه یې شاته د چوکۍ سره را وتړل، دوه نور کسان راغلل افسران راته ښکارېدل، پوښتنې یې را نه پیل کړې، څوک یئ، د کوم ځای یئ، چا دلته رالیږلي یئ، د کوم هېواد یئ، چاته جاسوسي کوئ؟ مونږ ورته وویل: غریب خلک یو، خپلې غریبۍ پسې راغلي یو، د هیچا لپاره جاسوسي نه کوو.

په وهلو، وهلو یې له پښو وغورځولو، خو مونږ د جاسوسۍ خبره ورسره ونه منله، په بار، بار یې تحقیقات راخخه وکړل، پنځه شپې مو په ډېرې سختۍ سره تیرې کړې، په نیمه خیټه به یې ډوډۍ راکوله، د وهلو څخه یې هم سهار بیګاه نه یو معاف کړي، شپږمه ورځ یې سهار وختي سترګې را وتړلې او یوه موټر ته یې ور پورته کړو، موټر ډېر مزل وکړ، له پاخه سړک څخه خام



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرک ته کوز شو ، له اوږده مزل وروسته موټر ودرېد ، له موټر يې را ښکته کړو او موټر حرکت وکړ، سترګې مې خلاصې کړې

حبيب الله ته مې وکتل رنګ يې تک زېړ شـوی و ، لکه په کلونو ، کلونو چې ناروغی وهلی وي، ما وويل: اوس څه کوو؟ حبيب الله له لاسـه ونيوم، څه پورته شـه، لار ورکيه لاره وهه، ما وويل چېرته؟ را غبرګه يې کړه ، په يوه خوا به حرکت وکړو، ښـه په کوم طرف ځو؟ په کومه چې راغلي يو ، په همغه خوا نه ځو، ځکه چې نه غواړم د هغوی ظالمانو مخونه بيا ووينم او دغه ماته د ايران او افغانسـتان سـرحد ښـکاري، په دې خوا به لاړ شـو ، په چوپه خوله ورسـره روان شـوم، لږ مزل مو چې وکړ، حبيب الله په غريو نيولي اندزا وويل: دا څو کاله سفر دغه خواري، مزدوري، دا تکليفونه او زندان؟ موږ د څه لپاره راغلي وو او دا څه را باندې وشول!؟

تش لاس راغلي وو او تش لاس به بيا ځو ، پيسـې يې را څخه واخيستې او د ملنګانو پـه څېر يې په ځنګل کې وغورځولو ، پـه څومره لوی اميد راغلي وو ، مور، پلار، ورونه، خويندې او ټولـه کورنۍ به را ته انتظار وي او کوژدن به مې په سر کې سپين ګني، له يوې خوا زمونږ دې حالت ته ګوره او له بلې خوا دې پښـتو ، دې درنو درنو رواجونو ته، هغه خو به هر سـهار او ماښـام زما د راتلو لارې څارې او زما په انتظار به شپې او ورځې تېروي او ما ورسـره وعده کړې وه، چې ډېرې پيسـې به له ځانه سره راوړم او تا به ناوې جوړوم، خو ته مو اوس حال وګوره که په دې حال مې ويني، نو زړه به يې وچوي، زما خو بيا هم خير د ملګري حال مې وګوره ! چې څه ور څخه جوړ شوي دي



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخ خدایه! څه وکړم، سوړ اسویلي یې وباسه او چوپ شو، ځنګل ورو په ورو ډېرېدو، د ونو او بوټو شمېر یې هم زیاتېدو، ډېر تږی شوی وم، حبیب الله ته مې د اوبو یادونه وکړه، ده وویل: زه هم تږی یم، لږ مخکې به لاړ شو که اوبه مو پیدا کړې لږه دمه به هم وکړو، د اوبو شنهه هار مو واورېدو، حبیب الله وویل: لکه چې وړاندې اوبه دي چې و مو کتل دغونډۍ له څوکو اوبه را بهیدې، کیناستو مخ او لاسونه مو ومینځل او ښې ډېرې اوبه مو وڅښلې، ډېرې رڼې او یخې اوبه وې، پخوانۍ تصویرونه یې را یاد کړل، سوچ پر مخه کړم، د خیال ښاپیرۍ مې د کلي پر شنو او یخو چینو خپلې وزرې رپولې، تېر وخت را په یاد شو، نرګس مې تر څنګ ناسته وه، شنې اوبه بهېدې، ټکنده غرمه وه، نرۍ، نرۍ شمال الوتو او د چینار له څانګو یې خوږ او شاعرانه غږ را ایستو، نه پوهېدم په زړه کې مې یو درد احساسولو، یو خوږ او نه هیرېدونکی درد. نرګس وویل:

ته خبرې ولې نه کوې؟ نن راته بدل ښکارې، اوبه یې را وشیندلې، خو د پخوا په څېر بدې را باندې ونه لګیدې او ما د پخوا په څېر غصه ونه کړه، اوبه مې ورو نه شیندلې، نرګس غلې وه، سترګې مې ورواړولې، هغه هم هیجاني راته ښکاره شوه، په لاس کې یې ونیوم، څه شوي دي؟ نرګس زه نه پوهېږم نن دپخوا څخه په ما ډېره ښه لګېږې، هغه په غصه شوه، ولې پخوا در باندې ښه نه لګېدم؟ ما وویل:

نه لیونۍ داسې نه ده، خو اوس را باندې ډېره ښه لګېږې، ویې ویل: په مطلب دې پوهه نه شوم، د هغې لاس مې پر خپله سینه کلک ونیوه، زړه مې سخت درزېدو، لکه یوه بده پېښه چې شوې وي، نرګس وویل: وی، ستا خو زړه



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر درزيږي او لاس دې هم ګرم دی، لکه چې تبه دې ده، نه تبه مې نه ده، ښه يم. هسې يوه خبره مې کوله: زه نن ډېر ويريږم هسې نه ته له ما جدا شې، زه خو بغير له تا نه يوه دقيقه هم نه شم تېرولی، ته زما د زړه له درزا هېڅ وا نخېستل او ستا زړه هيڅ احساس نه شول کړای، نرګس غلې وه.

لکه چې لږه پوهه شوې وي، ماخبرو ته دوام ورکړ، نرګس زه نن ستا لپاره په زړه کې ډېر ځای لرم او ته زما زړه ګرځېدلې يې، اوس زما زړه وايي، چې زه، زه.... دا کلمه مې ډېره په سختۍ وويله، زه در سره مينه لرم، نرګس له حيا څخه تکه سره واوښته، سترګې يې ټيټې کړې، چوپه وه، بيا يې وويل: دومره لويه خبره دې له ما پټه کړې وه، ايا پر ما دې باور نه درلود؟ ما وويل: نه دا خبره نه ده، هسې ماويل ته خفه نه شې، سترګې يې راپورته کړې، په غېږه کې را ولويده، سلګو واخيسته، په ژړا يې وويل:

ډېره، ډېره مينه درسره لرم، عابد جانه! د (جانه) کلمه دومره خوږه راباندې ولګېده چې بې اختياره مې له سترګو څخه اوښکې روانې شوې، ښه ډېر مو سره وژړل، د مينې او ناز ژاړه وه، ما هيڅکله هم په ژړا کې خوند نه و ليدلی، خو دغې ژړا دومره خوند را کاوه، چې بيا مې تر نن ورځې پورې په هيڅ يو شي کې دومره خوند نه دی ليدلی، خورې ورې زلفې يې زما پر سينه پرتې وې او ګرمو اوښکو يې زما سينه لمده کړې وه، مونږ له دې جهانه تللي وو، ځان ته مو يوه بله دنيا جوړه کړې وه، يوه ښکلې دنيا، يوه داسې دنيا چې هلته يواځې مونږ اوسېدو، خوراک مو د يو بل سترګو ته کتل وو، څښاک مو زمږ اوښکې د يوه او بل په ګريوان تويول وو، هلته يواځې مينه را سره اوسېده او د محبت رنګينې خزانې ډېروونکی غږ مې وا وريدو.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرګس مې له خپلې غېږې لرې کړه، د مينې دنيا مې ورانه شوه، د مالک صاحب زمان خان زوی و او سپی يې تر پړې نيولی و، غږ يې راباندې وکړ: څه کوې په دې سره غرمه؟

نرګس وارخطا وه، ما وويل: ستا څه کار؟ په غصه شو وړاندې راغی له مرۍ يې ونيولم، زما څه کار، ماته دې وويل!؟ پر مخ يې په څپېړه ووهلم، نرګس چيغه کړه، ماته غصه راغله، يو څو سوکه مې په خوله ووهلو، له خولې يې وينې روانې شوې او پر ځمکه را پرېوتو، اپلتې يې ويلې او اخطارونه يې راکول، نرګس مې له لاسه ونيوه او د کور پر خوا روان شو.

حبيب الله را باندې غږ کړ: چېرته تللی يې؟ ووېريدم، ومې ويل: هيڅ، هيڅ هم نه وو، څه حرکت به وکړو، په وطن شپه را روانه ده ګوندې ابادۍ ته ورسېږو، که نه ځيرې کوونکي ځناور به مو وخوري، روان شوو.

سترګه په ډوبېدو وه، ځنګل ورو، ورو تياره کېده او ورځې خپله واکمني شپې ته سپارله، خو مونږ کومې ابادۍ ته ونه رسېدو، تياره زياته شوه، لاره مو نه شوه پيدا کولی، حبيب الله ودريدو، اوس څه کوو؟ دلته خو کوم خوندي ځای نشته چې پنا پکې واخلو او شپه سبا کړو، خو خير؛ ونو ته به پورته شو، ما وويل: پړانګان به څنګه کوو هغه خو په ونو هم پورته کېدلی شي؟ حبيب الله خبره را څخه ونيوه، ونې ډېرې لوړې دي، که د خدای (جل جلاله) رضا وي، نه به مو ويني، د زمريانو، پړانګانو او ليوانو اوازونه مو اورېدل، حبيب الله وويل: لکه چې دې خوا را روان دي، راځه ونو، ته ور پورته کېږو، مرګ او ژوند به مو يو ځای وي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب الله ونې ته پورته شو، زه لا نه وم پورته شوی چې د زمري د پښو ترپا او غرول مې واوریدل، په رګونو کې مې یوه شیبه وینه وچه شوه، حرکت مې نه شو کولای، ځای پر ځای ودریدم، د ژغورلو هڅه مې ونه کړه، له ژوند مې تمه پرې شوه، ځان مې د مرګ په خوله کې ولیده، زمری ډېر را نږدې شوی وو، حمله یې را باندې کوله چې د ټوپک غږ مې تر غوږ شو، زمری مې په پښو کې ولوید، لکه یو خوب چې وینم، لکه یوه معجزه چې پېښه شوې وي، حبیب الله ونې را ښکته شو، کلک یې په غېږ کې ونیوم، ته خو ښه یې کنه؟ ما خبرې نه شوې کولای، حیران وم، له مرګ بچ شوی وم، له یوه داسې مرګ چې بچ کېدل ترېنه معجزه وه، ویرېدونکی غږ را باندې وشو.

عسکر وو، و یې ویل: ځای پر ځای ودرېږئ، وارخطا شوم، نږدې راغلل، کلکه تلاشي یې را نه واخیسته، روان یې کړو، ځان مې بیا یو ځل د تورو تمبو شاته ولیدو، لږ وړاندې لاړو پر سړک سپین موټر ولاړ وو، ورپورته شوو، موټر حرکت وکړ، څراغونه یې روښانه شول، دوی چې مې ولیدل ډېر ورته خوشحاله شوم، ان د خوښۍ نه په جامو کې نه ځایېدم، د افغانستان ملي اردو عسکر وو، یوه ویل تاسو خو ښه یاست؟ ما وویل هو! ښه یو، او به یې راکړې، زیاته یې کړه، موټر در پسې ډېر وګرځېدو، خو اخېر مو دلته پیدا کړئ، خو ښه وه په وخت را ورسېدو کنه زمري به اوس وختي له ستوني تېر کړي وای.

حبیب الله وویل: تاسو له موټر څه خبر شوئ او رښتیا دغه کوم ځای دی؟
عسکر وویل: زموږ کشفي ارګان تاسې لیدلي وئ او بله دا چې دا د افغانستان او ایران ګډه پوله ده، ما وویل: په هېواد کې څه روان دي، عسکر



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: افغانان په خپل منځ کې د نورو په لمسون په یوه او بل نوم سره وژني، ډېر بد حالت روان دی، وطن د ړنګېدو پر طرف روان دی، واک مو د پردیو په لاس کې لویږي، خلک د خپل وطن پرېښودلو ته اړ شوي دي. ځوانان، بوډاګان او ماشومان وژل کېږي.

زمونږ هېواد له سخت ناورین سره مخامخ شوی دی، زړه مې وسوځېده، خپل کلي او کورنۍ مې سترګو ته ودرېده، هغه به اوس مړه وي او که ژوندي، په څه حال به وي وه خدایه !؟ دا څنګه حالت راغلو، شپه به نیمایي ته رسیدلې وي، چې له څنګل ووتو، ډېرې خیمې لګېدلې وې، ډېر پوځ ځای پر ځای شوی و، یوې خیمې ته دننه شو، ناستو خلکو ته مې وکتل، ټول عام خلک وو، ویریدلي ښکاریدل، خلکو په خپلو منځو کې پر روان حالت خبرې سره کولې، یوه به وویل: زمونږ پر کلي سخت جنګ وشو، ډېر کسان پکې ووژل شول، زمونږ پر کلي دومره سخت جنګ وشو، چې هیڅوک هم ژوندي پاتې نه شول، ټول کورونه وران شول، جماعتونو ته یې اور واچاوه، هر چا د خپل کلي بدې خاطرې بیانولې، سهار شو، لمانځونه مو اداء کړل، یو افسر ته مې وویل:

مونږ غواړو خپلو ولایتونو ته لاړ شو، افسر وویل: تاسو د کوم ولایت یئ؟ ما وویل: زه د خوست یم او دا ملګری مې د غزني دی، افسر وویل: پکتیا کې حالت ډېر خراب دی او له درونډ تعارض سره مخامخ شوې ده، هلته تګ له خطره خالي نه دی او اوسیدونکي یې اکثریت کډوالۍ ته اړ شوي دي، حبیب الله وویل: زمونږ کورنۍ به خدای خبر چې په څه حال وي، مونږ باید چې هر ډول وي، هغوی ته ځانونه ور ورسوو، که ستاسو سره څه چاره وي، تر ښاره پورې مو ورسوئ، کنه لار راته وښیئ.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسر وويل: ځو شپې وروسته زمونږ کسان ښار ته ځي، تر ښاره به مو هغه ورسوي او اوس ما پسې راځئ، ورسره روان شو، يو ه موټر ته يې ور پورته کړو، ځو شپې وروسته موټر حرکت وکړ، د هرات په ښار کې يې ښکته کړو او د کابل اډه يې راته په ګوته کړه، اډې ته راغلو، ملي بس موټر ولاړ و او ورغلو. حبيب الله وويل: موټر خو شته خو کرايه نشته، موټر ته ور نږدې شوو، خلک موټر ته ور پورته کېدل، کلينډر ته يې کرايه ورکوله، کلينډر راته وويل: راځئ بيا موټر ډکيږي، ما هيڅ ونه ويل، حيران ولاړ وم.

يو سړي مې پر اوږه لاس کېښود، مخ مې ور واړاولو غږ يې رانه تاو کړه، ته او دلته؟ ما هيڅ ونه ويل، پر مخ يې ښکل کړم، ډېر لوی شوی يې، په خير، ځير مې ور وکتل، ځېره يې اشنا راته معلومه شوه، و مې پېژاند، زمونږ کليوال ګل احمد خان و، په ږيره کې يې سپين ګډ شوي وو، له ځېرې ځخه يې غم اند ېښنه له ورايه ښکاريده، په اوږو يې وو هلم، څنګه ولاړ يې؟ راځه کنه، زه غلی شوم.

حبيب الله ته مې وکتل، ګل احمد خان مو په حالت پوهيدلی و، له لاسه يې ونيولم، زياته يې کړه، زه ستاسو په حالت پوهيږم، راځئ که پيسې نشته نو خدای خو شته، موټر ته ور پورته شو.

موټر ورو ،ورو ډکېدو او حرکت يې وکړ، ټولو لاسونه پورته کړل او د الله (جل جلاله) له لوی دربار يې خپل کلي ته د رسېدو سوالونه کول، ګل احمد خان وويل: لکه چې د خپلې پکتيا د وضعيت ځخه خبر شوی يې، ځکه مو دومره ببره ده او ناځاپه را وتلی يې، ما وويل: هو همداسې ده، خو تا کلي



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښودلی او راغلی يې؟ ګل احمد خان وويل: بچيه دوه کاله کېږي، چې راغلی يم، ما وويل: ښه په کلي کې څنګه حالت وو، کليوال څنګه وو؟ ګل احمدخان ساړه اسويلي وباسل، ښه وو خو غريبي پسې اخيستې وو، ستا په شان تنکي ځوانان به هره ورځ ډلې، ډلې د ايران خوا ته راتلل، د ډېرو به يې واپس مړي راوړل، ډېر به بيا له پولې تېر شول، څه وو ايم، ترخه وختونه وو خو دا دوه کاله کېږي، چې بيا زه هم د کلي له حالاتو خبر نه لرم، ما وويل:

زما مور او پلار څنګه وو؟ د پلار ناروغي مې څه فرق کړی و کنه؟ هو! ښه وو، شپه يې اړوله، کله چې راتلم، نو په ماښام يې کور ته ورغلم ډېرې خبرې مو سره وکړې، ته يې ډېر يادولې مور دې ويل، که و دې ليدو، سلام مې ورته وايه او ورته ووايه، د ځان دې ډېر خيال ساتي او په دعاګانو کې يې تل ياد ساتم، حبيب الله ته مې وکتل، پر سيټ پټې سترګې پروت و، موټر په تېزۍ سره لاره لنډوله لاره ډېره خرابه وه او موټر له دوړو ډک و.

توخي واخيستم سر مې پر دواړو لاسو ونيوه له ستومانۍ خوب نه راتلو ګل احمد خان ته مې وکتل، خوبولی و، شاته مې مخ واړولو اکثريت بې غمه پراته وو، سر مې پر مخکيني سيټ ولګولو د خوب پر ځای سوچ په مخه کړم، خواږه ترخه وختونه مې سترګو ته ښکته پورته کېدل، ماشومتوب، مينه، خندا، ژړا او مسافري ځان را څخه ورک شوی وو.

کله مې د ليونيانو په شان له ځان سره ويل، زه څوک يم ايا هغه پخوانۍ د نرګس عابد جان يم، که د سيما نوکر؟ ايا هغه به ما اوس هم يادوي، ايا زه به ورته اوس هم ياد وم، له ما سره به اوس هم مينه کوي؟ زه او دغه سوچونه وو،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ډېره يې مشغول وساتلم او بيا ترې د خوارہ خوب څپو پر خپله غېږه کې واخیستم او ويده شوم، موټر ولاړ و، کلينډر ناري وهلې راکوز شئ، ډوډۍ وخورئ، بيا په لار کې هوټلونه نشته

ګل احمد خان له مټو ونيوم راځه ډوډۍ به وخورې، ورې شوی به وې، حبيب الله هم ماته کتل، خلک له موټر څخه ښکته کېدل، مونږ هم له موټر ښکته شوو، يو دوه پوړيزه ودانۍ چې له ختو څخه جوړه وه، ور ننه شو، ډوډۍ مو وخوړه او د ماسپښين لمانځونه مو هم اداء کړل، موټر ته بيا ور پورته شو، ورو ورو موټر ډک شو او حرکت يې پيل کړ، په خوب ماړه شوي وو، په ارام مې ساه واخيسته، ګل احمد خان ته مې وکتل، ور زياته مې کړه، د کلي خبرې راته وکړه، د مور او پلار خبرې مې راته وکړه، هو رښتيا هغه زما ماما څنګه دی، ماما ناوې او هغه نرګس څنګه وه، ګل احمد خان وخندل هی هی بچيه!

ماما دې هم ښه و او نرګس خو بيخي ښه وه، سمه دې کوه قاف ښاپيرې ترې جوړه شوې وه، کله، کله به زمونږ کره راغله. ما به ور سره تو کې کولې، ويل به مې لورې اوس خو پيغله شوې يې، پلار ته دې وايم، چې د واده غم دې وخوري او هر څوک په خوله مه وهه، اخېر به يې هم ودوې، نرګس ته به غصه ورغله څه ستا له خولې خو يې نه نيسم له خپل قسمته يې خورم، ته ولې دومره په ما ستړی يې او په ځان درته بوج ښکارم، ما به نوره هم تنګه کړه، زما مېړنې ته به يې ناري کړې، ګوره! کاکا مې هر وخت تنګوي، ګوره که خوله په واک کې نه کړي، نو بيا به يې زه هم خوښه شم، ما به ورته وويل: نو څه به وکړې، زه به بيا دلته په ژوند هم را نه شم او دا ستا څېره به بيا و نه ګورم، ما به



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته خندل او هغې به زما پېښې کولې، څه ووایم د خپلو لونو په شان را باندې گرانه وه.

یوه ورځ مې ورته وویل: ښـه؛ دا چې تـه اوس واده نـه کوې، نو چاتـه انتظار یې، هغه په غصـه شـوه، له واده دې بله خبره نشـته، چېرته یوه زړه در ته وگوره، چې ته په قرار شې له ما خلاص یې ما ور غبرگه کړه، نه مقصد مې هغه عابد و، کله چې زه غلې شـوم، هغه ته مې وکتل، له حیا یې سـترگې پر ځمکه گنډلې وې، مخ یې تک سـور او سـپین واوښـتو څادر یې پر سـر را سـم کړ او وېې خندل، پورته شوه او لاړه، بیا تر ډېره را سره سـترگو پر سترگو نه کېده، لاره به یې را څخه بدلوله او هرې پوښـتنې ته به یې لنډ ځواب را کاوه، په کوم ماښـام چې زه دلته راتلم، سـتاسـو کور ته لاړم، هغه هم همغلته وه، تر ډېره را سره ناسته وه، زمونږ خبرو ته یې غوږ نیولی و او چې کله له کوره راوتم، را مخې ته شـوه سـلگې یې وهلې، په ژړا، ژړا کې یې رخصـت راکړ او بیا یې وویل: تا رښتیا ویل زه همغه چا ته انتظار یم، که ودې لیدو زما سلام ورته وایه او دا ورته هم ووایه، چې یوه پښتنه پېغله دې په انتظار ناسته ده.

زما په سـترگو کې هم اوښـکې راغلې او ترې روان شـوم، گل احمد خان غلی شو، په ډېره یې لاس تېر کړ سوړ اسویلی یې وکړ او دموټر له شیشې یې بهر کتـل، سـترگې مې لـه اوښـکو ډکې شـوې او پر مخ مې گرمې، گرمې د گریوان پر لور تویېدې د نرگس پښـتنې مینې داد را کولو زړه مې غوښـتل، چې والوزم خپل کلي ته لاړ شـم، خپله مور پلار او خپله نرگس ووینم، په غیږه کې به یې ونیسـم او مننه به ترې وکړم چې له کلونو وروسـته یې هم نه یم هېر کړی، مزل ډېر اوږد و، لـه ډېرو سـیمو تېر شـوو، څو موټرونه مو بدل کړل او



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکته پورته شوو، کابل ته را ورسېدو د ډېر بدحالت و، ډلې، ډلې وسله وال کسان ګرځېدل، یوه ډله به چې لاړه بله به راغله بیا به سره مخامخ شول مرګ ژوبله به رامنځ ته شوه.

کابل د جنګ مرکز او د بارودو کور ګرځېدلی و، خلک له یوې سیمې بلې سیمې ته کډوال کېدل هر څوک په غم اخته وو، د چا زوی وژل شوی و، د چا پلار او له څینو په کورونو کې واړه ماشومان پاتې شوي وو، سمه د قیامت ورځ لګېدلې وه، هر څوک د خپل ځان په غم اخته وو، کابل وران شوی و او لا هم په ړنګېدو و، خپل خوست را یاد شو ایا هلته به هم همدغه حال وي؟ نه، نه توبه داسې نشي کېدای دا زه خوب وینم، حبیب الله له لاس ونیوم راځه، لا خپل منزل ته نه یو رسیدلي، خپل کورونه مو وران نه دي لیدلي، خپلې کورنۍ مو د ویر په تغر نه دي لیدلي حوصله وکړه، د ژړا ورځې پاتې دي روان شوو.

حبیب الله وویل: لومړی به غزني ته لاړ شو زمونږ د کور احوال به واخلو، بیا به سیده تا خوست ته ولیږم، ما ورته وویل: سمه ده، نه پوهیدم چې څنګه به موټر ته ختلي وو او څنګه به غزني ته رسیدلي وو، شپه وه د غزني خاوره په واورو پوښلې وه. حبیب الله وویل: شکر خدایه! چې را ورسېدو د حبیب الله دوی کور له ښار سره نږدې و، په پښو روان شوو ځای ځای کورونه وران وو، سوړ باد لګېدو، نیم ساعت وروسته ورسېدو حبیب الله یوې لویې کلا ته، چې لوی او لوړ لوړ دیوالونه یې درلودل، ور وګرځېدو، حبیب الله دروازه ټک، ټک کړه، خو ځواب رانغی په بار بار یې وټکوله، تقریباً تر نیم ساعته پورې ولاړ وو، ما وویل:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دېواله واوره، ده وویل نه پوهېږم؛ ولې څوک نه راوځي زما په نظر خوبولي به وي که څنگه، ځکه چې دروازه یې له هغه خوا تړلې ده او له کلي څخه څوک کډوال شوي هم نه دي، حبیب الله ته مې وویل: زما پر اوږو پښې کېږده او له دروازې واوړه، زه کېناستم حبیب الله مې پر اوږو پښې کېښودې، په ډېرې خوارۍ دروازې ته پورته شو، سره ساه یې واخیسته. حبیب الله د زړه له سوخته چیغه کړه نه! له دروازې هغې خوا ته ولوېدو، زه وارخطا شوم اېخوا دېخوا مې مخ واړوه، حبیب الله ته مې چېغې ووهلې، فایده یې ونه کړه له دروازې مې د اوښتو هڅه وکړه، خو و نه شوه.

له کلا راتاوېدم، ترڅو یو داسې ځای پیدا کړم چې کور ته واوړم او دا معلومه کړم، چې څه پېښ شوي دي حبیب الله ولې چیغه ووهله او ولوېدو، د کلا شاته لاړم، د دیوال سره نږدې مې یوه ونه تر سترگو شوه، ونې ته ور پورته شوم، د دېوال پر سر ډېره واوره، پرته وه په احتیاط مې پښه پرې کېښوده، دننه مې وکتل، حیران شوم ما ویل چې خوب وینم، یو ویروونکی خوب، خو کاشکې خوب وای، په سترگو کې مې اوښکې ډنډ شوې، حرکت مې نه شو کولی، په پښو شل شوم، ملامت هم نه وم، د یوې بشپړې کورنۍ قبرونه مې په یو قطار کې ولیدل.

د سترگو په وړاندې مې پراته وو، له دیواله مې ټوپ کړ، په واوره کې ولوېدم لاسونه مې پر ځمکه ولگېدل، د درد احساس مې وکړ، پورته شوم د کلا دیوالونه یوازې روغ پاتې وو، کوټې یې ورانې شوې وې، لوېې لوېې ژورې کندې بمونو ایستلې وې، د قبرو پر خوا ورغلم ژړا مې پر ستوني کې بنده شوه، لوی او واړه قبرونه وو. ټول څنگ پر څنگ پراته وو، اتلس قبرونه



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو او نولسم يې حبيب الله تر څنګ په بې سده حالت پروت و ، ور ټيټ شوم، په لټ مې واړولو خوله، پوزه او سترګې يې له واورې ډکې وې، مخ مې ورته له واورو صفا کړ سر مې په غېږه کې کېښود ، حيران وم چې څه وکړم.

ملا د سهار د لمانځه اذان وکړ ، په منډه د دروازې پر طرف لاړم، دروازه مې خلاصه کړه، بېرووتم د اذان د اواز پر طرف مې منډه کړه، جماعت لږ لږ و ، ور ورسېدم په تونډی ور ستون شوم، ملا صاحب لاتېين ځانته بل کړی و او په مسئله ناست و ، مخ يې را واړولو په بېړه مې وويل: د خدای لپاره مرسته وکړئ مرسته، ملا صاحب را پورته شو څه شوي دي ولې دومره وار خطا يې؟ ما وويل: حبيب الله په کور کې بې هوشه پروت دی د خدای لپاره مرسته وکړئ هغه مړ کيږي.

ملا صاحب له جماعت را سره راووت، د حبيب الله کور ته په منډو شوو ، نور کليوال هم را سره په لار کې واوښتل له ملا صاحب نه به يې پوښتنه وکړه چېرته ځې؟ هغې به يوا ځې وويل ما پسې راځئ، د حبيب الله دوی کور ته ورننوتو دوی د حبيب الله په ليدو ټول حيران ودريدل، ملا صاحب حبيب الله را کينولو ناري يې پرې ووهلې، خو هغه سترګې نه غړولې کليوالو په څو کسانو ونيوو او جماعت ته يې يوړ، ملا صاحب وويل: په بخاری پسې اور ورته ولګوئ ساړه نيولی دی.

قرانکريم يې را واخېست تلاوت يې ورته شروع کړ ، ډېر کليوال را جمع شول، هر يو د يې پر حالت افسوس کاوه، سترګه په را ختو وه، چې په لمانځو ودريدو يو رکعت ملا نه و اداء کړی، چې حبيب الله په هوش راغی، ناري يې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړې مورې! پلاره! خورې! نه داسې نه شي کېدای، تاسو ژوندي يئ، تاسو نه شئ مړه کېدلی نه! نه! او په منډه له جماعت څخه ووت، زه هم ور پسې شوم د کور پر خوا يې د ليونيانو په څېر منډې وهلې، څو ځايه به يې پښې په اوږه کې ونښويېدې او پر ځمکه به راپرېوت او بيا به پورته شوو.

د کور له دروازې ننوت کله به په يوه قبر پرېوتو کله به په بل، دومره سختې، سختې چيغې يې وهلې، چې د انسان زړه يې پرې کولو، کليوال هم راغلل، دومره سخت سخت ټولو کليوالو وژړل چې تا به ويل د ټولو کورنۍ وژل شوې دي، کور ټول د کليوالو څخه ډک شوی و، ځوانان، سپين ږيري، ښځې، ماشومان ټولو ژړل او فرياد کولو او د حبيب الله د بې کسۍ او بې وسۍ ننداره يې کوله، څو ځله به مې راپورته کړ، په غېږه کې به مې ونيوه، داډګېرنه به مې ورته ورکوله، خو ده به داسې فرياد کولو چې زما به هم اوښې سستې شوې او دده پر حال به شوم، ما ته به يې ويل دا ګوره زما ټوله کورنۍ وژل شوې ده او خاورې مې پر سر شوې.

زه په څومره يوه لوی اميد راغلی وم، ما ويل خپله کورنۍ به راته څومره خوشاله وي، ښه راغلاست به راته ووايي، مور مې او نوره کورنۍ به مې په غېږه کې نيسي، ښکلوي به مې، له ما څخه به هرې خوا تاويږي، خو ته اوس وګوره دا د څو کالو ستونزې، تکليفونه، مزدوري او خواری مې ټولې په اوبو لاهو شوې، ما ويل اوس به مې کورنۍ زما د واده به اړه فکر کوي چې لاړ شم په کورنۍ به مې د خوشالۍ او د واده زيری وشي، خو ته وګوره ښه ورته وګوره! دوی ټول تللي دي، زه يې يوازې پرېښودم دوی ټول وژل شوي دي، زه رښتيا وايم او دوی مړه دي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

را پورته به شو کلیوال به یې یو، یو له ګریوان را نیوه ورته ویل به یې: دا ظلم چا وکړو، ولې یې زما کورنۍ ووژله، خو هیڅ چا هم دومره جرئت نه شو کولی چې د دغه غمجن داستان په هکله څه ووایي، ټولو به یوازې حیران، حیران ورته کتل.

حبیب الله به بیا پر یوه، یوه قبر ور پریوتو ویل به یې دا تاسو چا ووژلی، ولې یې ووژلې اخیر زه مو چا ته پرېښودم!؟ زه ملا صاحب ته ور مخته شوم، ورته ومې ویل: د خدای لپاره دا هر څه څنګه وشول، تاسو خو لږ څه ووایئ، ملا صاحب سترګې وچې کړې او په غرېو نیولي غږ یې دا غمجن داستان داسې پیل کړو، د اختر شپه وه، وروستۍ روژه ماتي مو په یوه ځای سره وکړه.

د حبیب الله پلار وویل: دعا وکړئ، دعا مو وکړه او یو ځل بیا یې د خپل زوی لپاره لاسونه پورته کړل او د خیر دعا یې ورته وکړه، تر ناوخته پورې مو خبرې سره کولې او بیا ټول خپلو خپلو کورونو ته لاړو د شپې یوولس، دوولس بجې به وې چې جیټ الوتکې راغلې څو ځله یې تاوراتاو کړې او بیا یې بمباري شروع کړه، د حبیب الله او د څو نورو کلیوالو کورونه یې پر بل مخ واړول، ټول کلي ویر او غم واخیست او د اختر د لمانځه پر ځای مو تر غرمې پورې جنازې وکړې او د کالیو د بدلولو پر ځای مو شهیدانو ته سپین کفن ور واغوستل، له دې سره یې مخ ته دواړه لاسونه ونیول او په چیغو، چیغو یې وژړل، یو ځل بیا ټولو کلیوالو په ژړا او نارو پیل وکړ.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب الله لکه بت ولاړ و، لکه چې د سترګو چینې یې وچې شوې وې، کلک یې په غېږ کې ونیوم او راته وې ویل عابده! ته لاړ شه د خپلې کورنۍ څنګ ته هسې نه ستا کورنۍ هم زما د کورنۍ په څېر په خاورو کې پرته وي او په غېږ کې را ړنګ شو.

پر څمکه مو څملولو یو کلیوال وویل: زه موټر راولم روغتون ته به یې یوسو، موټر راغی حبیب الله مو ور پورته کړو، موټر مخته او کلیوال د شا له خوا ور پسې څغلېدل. ډېر بد حالت و، روغتون ته ورسېدو، حبیب الله مو له موټر ښکته کړ، روغتون له زخمیانو ډک و، ښکته او پورته مې قدم واهه او په دغه حالت مې فکر کاوه، د ایمرجنسۍ (بېړنۍ) کوټې ډاکټر راووت په بېړه مې پوښتنه ترې وکړه، حبیب الله څنګه دی؟ ډاکټر وویل: هغه ښه دی له مرګه ژغورل شوی دی او اوس پر هوش هم راغلی دی، خو په تأسف سره باید ووایم چې دماغي حالت یې خراب شوی دی او له لاسه یې ورکړی دی، په سترګو مې توره شپه راغله، حبیب الله هم د ایمرجنسۍ له کوټې نه په داسې حالت راووت، چې خوله یې له خندا ډکه وه، له ځان سره لګیا و زه ځم، خپل هېواد ته ځم، خپل کلي ته، خپل کور ته؛ ما ته به مې خپله کورنۍ ډېره خوشحاله وي، کله به یې وخندل او کله به یې سترګې له اوښکو ډکې شوې.

ما تر لاس ونیوه و مې ویل: حبیب الله ته ښه یې؟ لاس یې را نه څنډ وهلو او وې ویل لرې شه لیونیه، بیا مې غېږه ترې تاو کړه، ورته و مې ژړل ځان یې را څخه خلاص کړ او زیاته یې کړه، زه ورک شه زما سره پیسې نشته ته اوس پیسې غواړې که څه کوې د کلینیک له دروازې ووت.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلیوال بې په لیدو ګوته په غاښ پاتې شول، حبیب الله په منډو منډو د کور خواته روان وو او زه ورپسې شاته وم، کور ته ورسېدو په هر یوه قبر به ور پریوت، سلام به یې ورته اچولو او خاورې به یې ښکلولې، ورته ویل به یې زه راغلم تاسو ماته انتظار وئ؟ زه څو ځله ور نږدې شوم له ځانه به یې وشړلم، سپکې سپورې به یې راته وکړې، ورځ له نیمې اوښتې وه، خپله کورنۍ را یاده شوه، فکر مې وکړ هغوی به په څه حالت کې وي، له ځانه سره مې وویل هسې هم دلته زما پاتې کېدل فایده نه لري، زه باید خپل کلي ته لاړ شم

حبیب الله ته مې د ور نږدې کېدو جرئت و نه کړ، ور څخه روان شوم، څو ځله مې مخ ور واړوه او له دروازې راووتم پښې را پسې مړې شوې وې، په سختۍ مې حرکت کاوه، ژړا مې په ستوني کې بندېده، ښار ته ورسېدم او د ګردېز پر لوري مې حرکت وکړ، ډېرې واړو په ګردېز خپله سپینه لمن غوړولې وه، شپه مې په ګردېز کې سبا کړه. په سهار وختي د خوست اډې ته ورسېدم او د خوست پر طرف مو حرکت را وکړ، په ستو کنډو را واوښتو زړه مې درزېدو، څومره به چې را نږدې کېدم هغومره به مې د زړه درزا زیاتېده دوه منده ته را ورسېدو، موټر ودرېدو ځینې کسان ترې ښکته شول. خلک نه ترسترګو کېدل.

یو نیم ساعت مزل به مو کړی وي، چې د خپل کلي خوږه هوا را باندې ولګېده، موټروان ته مې د ودرېدو وویل موټر یې ودراوه ترې ښکته شوم، په پښو مې حرکت پیل کړ، کلي ته نږدې شوی وم، خو زما او د کلي ترمنځ یو لوی خوړ موجود و او د اوبو داسې مست بهیدو، چې د انسان به ورنه ویره کېده، ډېر یوې او بلې خوا ته وګرځېدم، خو د پورې کېدو مې څه لاره پیدا نه کړه،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخوړ په يوه غاړه هم څوک نه ښکارېدل فکر مې وکړ، چې هغه لکه چې يا ټول تللي وي او يا ټول وژل شوي وي.

زړه مې سخت ناقراره و او د اوبو ويره ترېنه ووته، په اوبو د ورګډېدو هوډ مې وکړ، يو ځای اوبه پراخه بهيدې، اوبو ته ور ګډ شوم، تر نامه پورې يې ډوب کړم او ورو په ورو را پورته کېدې، چې اخير يې له ځان سره واخېستم، کله به يې غوټه راکړه او کله به مې سر ترې را وباسلو زياتې اوبه مې له ستوني تيرې شوې، کوشش مې کاوه، ترڅو غاړې ته يې ووځم، خو بريالی نه شوم، حالت مې ورو په ورو خرابېدو اوبو يوې غاړې ته يوړم لکه چې زما په بې وسی يې زړه وخوږېدو، په سختۍ وچې ته ترې را پورته شوم، له حرکته لوېدلی وم، پر مخې څملاستم توخې واخېستم او له خولې مې خړې اوبه رواني شوې.

ځان مې لږ څه را سمبال کړ را پورته شوم، سترګې مې پاکې کړې وجود مې درد کاوه، د کور پر خوا روان شوم، شاته مې مخ را واړاوه له مرګ څخه خلاصېدل راته معجزه ښکارېده، لکه چې وخت مې پوره نه و، کور ته را نږدې شوی وم، له لرې مې پرې نظر ولګېد، لږ څه بدل راته ښکاره شو، ور نږدې شوم ديوالونه يې ځای ځای ړنګ وو، زړه مې ولويدو فکر مې وکړ، چې د حبيب الله د کور حالت لکه چې زما پر کورنۍ هم راغلی دی، پښې را پسې درندې شوې.

د خپلې مور، پلار او د خپلې نرګس قبرونه مې نه شول ليدلی، دومره حوصله نه وه را پاتې، پښې مې د بې وسی پر لويو لويو هټکريو ترل شوې وې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخولې چې ځان ته مې سوچ شو د کور د دروازې او زړه مې د هجر له امله ویني ځخه څو قدمه وړاندې ولاړ وم او د خپل وران کور ننداره مې کوله. د هغه کور چې زه پکې پیدا شوی وم، ما پکې خاپوړې کړې وې او ما ورته خپله کورنۍ او خپله مینه، خپل زړه او خپل ژوند امانت سپارلی و، خو اوس یوازې ړنګ دیوالونه ښکارېدل.

له دروازې دننه شوم له هرې خوا څخه د خپلې کورنۍ او خپلې نرګس بوی راتلو، داسې راته ښکاره شوه لکه همدا اوس چې تللې وي، کوټې ته دننه شوم، چت یې نیم را پرېوتی و، همغه کوټه وه چې ما پکې وروستۍ شپه کړې وه، له خپلې کورنۍ سره یو ځای ما پکې په وروستي سهار خپله نرګس لیدلې وه، ما ترې رخصت اخیستو او هغې غټې معصومې او پاکې اوښکې تویولې او زما په زړه کې یې لارې جوړولې، په خاورو کې مې پښې وغزولې او پر خپل حالت مې داسې وژړل چې ما فکر کاوه چې ټول کاینات ژاړي

له سترګو مې اوښکې د ګریوان پر طرف خپلې قافلې روانې کړې وې چې د سترګو چینې مې وچې شوې، راپورته شوم د کوټې په کونج کې مې الماري تر سترګو شوه، په ړنګو قدمونو ورنږدې شوم، خلاصه مې کړه پر سر یې قران شریف ایښودل شوی و او لاندې یې ډېر کتابونه او کتابچې ښکاره شوې، قران شریف مې را واخیست ښکل مې کړ، څنګ ته مې کېښود کتابچه مې را پورته کړه، خلاصه مې کړه، په ښکلي خط یې پر سر بسم الله لیکل شوې وه او ورپسې لیکل شوي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

السـلام عليكم زما ګرانـه محترمـه او قدرمنه عابد جانه ! زه نه پوهېږم چې زه به دومره بختوره وم کنه، چې دا ليک به ستا تر ګوتو در ورسيږي، خو بيا هم زه په خپله مينه باور لرم او ماته خپل زړه وايي، چې ته به خامخا راځې او ته مونږ هيڅکله هم نشې پرېښودای، خو خدای د وکړي چې زما پر ژوند راشې او همدا اوس راشې.

زما جانه زما روحه ! زه در سره ډېره مينه لرم، تر دې حده که ته نه وې، نو زما مرګ قبول دی، ګرانـه نـه پوهېږم څنګـه يې درتـه ولیکم، تېره ورځ د خان زوی له خپلو کسانو سره راغی، زمونږ د کور مخې ته يې ډزې وکړې او پر ما يې غږ وکړ او دا يې هم وويل چې سبا ته به زه نرګس خپله ناوې جوړوم، نن د دوی په کور کې د ټنګ ټکور پروګرامونه شروع دي او زه په سرو او بې وسو سترګو ژاړم او ستا کمی احساسوم. که ته وای، نو داسې به نه کېدل او زما عزت ته به نقصان نه رسېدو، خو ته زړه مه بدوه که ستا نه شوم، نو د هيچا به هم نه شم او خپله ځواني به تورو خاورو ته وسپارم.

مازديګر مهال هغه راځي، ما پسې به ډولی راوړي خو زه ځان هغوی ته نه سپارم، په لاس کې مې د زهرو جام دی او ستا په انتظار يم که نه راغلې، نو له ستوني يې تيروم او هغوی ته بيا اجازه ورنه کړې، ترڅو خپل ناولي لاسونه زما پر جنازه ولګوي او ګوره تـه بـه لـه خپلې کورنۍ او زما لـه مور پلار څخه ساتنه کوې، نور د ليکلو توان نه لرم، مينه درسره لرم د خدای په امان ليک مې تر پايه ولوست، په ليک باندې ځای ځای د اوښکو څاڅکو داغونه جوړ کړي وو.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې اور واخیست په سترګو مې توره شپه راغله، زه په دې نه پوهېدم چې نرګس یې وړې ده او که هغې ځان وژنه کړې ده، نور مې حوصله ختمه شوې وه، د لیونتوب تر حده رسېدلی وم، را پورته شوم او د کلي د هدیرې په طرف مې منډې وهلې، هدیرې ته ورسېدم چې زیات شمېر نوي قبرونه ایستل شوي وو، خو کله مې چې پر سر لګېدلو تیږو ته وکتل نو ټول د نارینه وو قبرونه وو، بېرته د کلي پر طرف را روان شوم، د هدیرې په بر سر کې مې یو تازه ایستل شوی قبر ولید، په منډه ورغلم دوه تیږې یې پر سر لګېدلې وې.

له خولې مې چیغه راووته او په لویه هدیره کې ورکه شوه، دغه قبر د نرګس د مرګ خبر راکولو پر قبر ور پرېوتم د ژړا او فریاد به درته څه ووایم، د هجر لمبې وې چې له زړه مې پورته کېدې او زما له خولې د چیغې په څېر را وتې، هوس مې بایللی و، ملامت هم نه وم، خپله نرګس مې له لاسه ورکړې وه په ژوند کې له یوې داسې ماتې سره مخامخ شوی وم، چې جبران یې نه درلود. ځانته مې پام شو اسمان ته مې وکتل د ستورو ډک و او دلمر پر ځای سپوږمۍ اسمان ته ښکلا ورکوله او ځمکه یې پر خپله رڼا باندې سپینه پوښلې وه، ورته ځیر شوم په سترګو کې مې اوښکې راغلې.

سپوږمۍ راته داسې ایسېده لکه په اوبو کې یې چې ګورم، د نرګس د وژل کېدو کیسه مې ور باندې بیان کوله او د نرګس د قاتل تپوس مې ترې کاوه، خو هغې هیڅ نه ویل، حبیب الله له ما څخه بښه و، یو یو کلیوال به یې له ګریوان څخه را نیوه او د خپلې بربادۍ داستان پوښتنه به یې کوله، خو ما بد قسمته به یوازې لاسونه اچول، سپوږمۍ او ستوري به مې له غارې رانیول،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو لاسونه به مې په هوا کې ازاد پاتې شول، نه تر سپوږمۍ او ستورو ورسېدم او نه تر نرګس، ځکه چې ستوري او سپوږمۍ په اسمان کې وو او زه به نه ور رسېدم او نرګس د ځمکې لاندې وه، خو هغوی ښه وو، ژوندي وو رڼا یې هم کوله او ما لیدی هم شول، خو نرګس مې تر سترګو وړاندې د تورو خاورو لاندې وه، هغه مړه وه او ما لیدی هم نه شوه، شپه پخه شوې وه، د ماشومانو ژړا مې واورېده سر مې را پورته کړ، د ستړیو مسافرو یو ستومانه کاروان مې تر څنګ تېرېدو ور منډه مې کړه، د یو ځوان راته پام شو، مرمۍ یې راته تېره کړه او د ټوپک خوله یې راته ونیوه، غږ یې راباندې وکړ نږدې مه راځه

زه پر خپل ځای ودرېدم، څو کسان را وړاندې شول یوه وویل: ته څوک یې او دلته څه کوې؟ ما وویل زما نوم عابد دی او د همدغه کلي اوسېدونکی یم، تېره ورځ له ایران څخه راغلم او اوس خپله کورنۍ لټوم. هغې وویل له دې ځایه خو دوه ورځې وړاندې ټول خلک کډوال شوي دي، ما وویل څو ورځې وړاندې دلته واده نه و، هغې ځواب راکړ: هو، د خان د زوی واده و، خو نه پوهېږم لکه چې جګړه یې سره راغله او واده ونه شو، ما ورغبرګه کړه څوک خو ونه وژل شول؟ هغې غوښتل چې څه ووایي، خو تر څنګ ولاړ ځوان یې له لاسه ونیوه لږ یې له ما وړاندې بوتلو څه یې ورته وویل، خو زه پرې پوه نه شوم چې څه به یې ورته ویلي وي، بیا راغلل ځوان وویل: نه، نه هیڅوک هم نه دي وژل شوي، زه هملته وم خدای (جل جلاله) هر څه په خیر تېر کړل، ما ته یې خبرو خوند را نه کړ دروغ راته ښکاره شول.

ومې ویل: تاسو ماته ولې دروغ وایئ؟ ماته هر څه رښتیا رښتیا ووایئ اخېر په هغه ورځ څه وشول؟ په ژړا شوم له ځان سره مې ویل اخیر مې نرګس له



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه ورکړه، ځوان له متهو ونیوم زه، زه قسم کوم چې په هغه ورځ په هغه ناوې باندې هیڅ هم نه دي شوي، ته ربښتیا وایې زما په نرګس هیڅ هم نه دي شوي؟ هو ! زه درته دروغ نه وایم، یقین مې ور باندې راغلو. ځوان احساساتي ښکارېدو ویې ویل: که له مونږ سره ځې، نو درته خوشالیږو که نه ځې نو مونږ ډېر لرې روان یو له غرونو به تېرېږو، بیا مونږ ته اجازه راکړه، خو پام دې وي دلته وسله والې دلې ګرځي، که و دې وینې نو سمدلاسه دې وژني.

هغوی ته مې رخصت ورکړ، قبر ته راغلم دعا مې ورته وکړه، په زړه کې مې لږ څه امید را پیدا شو فکر مې وکړ، کېدای شي نرګس ژوندی وي او داد کوم بل چا قبر وي ترې روان شوم.

ژر ژر مې مخ ور اړولو او د قبر سره مې ډېرې هیلې او ارزوګانې ښې شوې، کلي ته را ورسېدم سیدا د خان کور ته لاړم، د پخوا په څېر نه وو پاتې شوی، هغه غرور یې اوس ختم شوی و او په یوه ورانه او ویرونکي کنډواله بدل شوی و.

هرې خوا پکې وګرځېدم، د اسونو تبیلې ته ورننوتم، توره شپه وه، څه مې نه لیدل آس وشنېدو، وویرېدم او په احتیاط سره مخته تلم. پر آس مې لاس ولګېدو، تیار زین کړی ولاړ و له تبیلې مې راویستو، سپین رنګ یې درلود، ډېر غټ و، توره او کلاشینکوف یې هم تر ملا تړلی شوي و، ور پورته شوم تو پک مې اوږې ته واچولو حرکت مې ورکړ. د قلعې له لویې دروازې ووتم، وسله وال کسان د کور پر طرف را روان وو، څنګه یې چې ولیدم سمدلاسه یې ډزې را باندې شروع کړې له آس څخه مې ځان وغورځاوه، جنګ



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې ورسره شروع کړ، هغوی ورو ورو را نږدې کېدل او زما مرمۍ هم په خلاصېدو وې، تو پک مې وغورځاوه او آس ته ور پورته شوم، دوی چې د تېښتې په حالت ولیدم، رامنډه یې کړه او سختې ډزې یې را باندې شروع کړې.

د آس واګې مې په لاس کې ټینګې کړې زور مې ورکړ آس پر دوو پښو ودریدو او دومره تېز له دوی لاړم، چې یوازې ګرد یې ورته پرېښود او زه یې ترې وژغورلم، ځای ځای به مې کلي وال ولیدل چې د پاکستان پر لور به روان وو، ما به ترې پوښتنه کوله چې زمونږ د کورنۍ په اړه څه راته ووایئ، خو هیچا هم معلومات نه درلودل، ملامت هم نه وو هر څوک په خپل غم اخته وو. د سهار رڼا په خپرېدو وه او شپې خپله لمن ټولوله، د دره ګي په لویه ډنده مې اودس وکړ، هملته مې لمونځ اداء کړو او د لوی خدای (جل جلاله) څخه مې سوله، نرګس او خپله کورنۍ یو ځای وغوښتل او پر آس مې پښه واړوله.

د خپلې کورنۍ د پیدا کېدو هوډ مې وکړ او د سرحد پر لور مې حرکت پیل کړ، وسله وال کسان به د مسافرو د تېرېدونکو لارو پر سر ځای ځای ولاړ وو، له مهاجرو څخه به یې پیسې سره او سپین زر لوټل، په هیچا یې هم زړه نه سوځېدو. په پوښتنو پوښتنو مې دوه شپې او ورځې لالهانده ورپسې تیرې کړې، کله چې نا امیده شوم د میرانشاه پر لور مې حرکت وکړ، پر ټولو مهاجرینو وګرځېدم، خو خپله ورکه مې پیدا نه کړه. په دې لټه چې خپله کورنۍ پیدا کړم، د پښتونخوا هیڅ سیمه مې پرې نه ښوده، هر یوه کلي ته مې سلام ور واچاوه د هر چا خوله مې بوی کړه، خو مایوسۍ ترڅې حده ورسولم، چې لیونتوب ته نږدې شوی وم، ملامت هم نه وم، ځکه دوه کاله پر لپسې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګرځېدم، يو نا معلوم او بې پيانه مسافر وم، ډول ډول خلک مې په دې دومره وخت کې وليدل له چا څخه خپل بچيان ورک شوي وو، له چا څخه وژل شوي وو او ځينو خپل د وجود غړي له لاسه ورکړي وو.

دا هر څه به خامخا کېدل، يو دروند انقلاب تېر شوی وو، شپه مې پېښور کې وه، پر سهار مې د ميرانشاه په لور حرکت را وکړ، په دې اميد را روان شوم چې زمونږ کليوال هملته ډېر زيات او سېدل، ما ويل که خدای (جل جلاله) کول، زما کورنۍ به هم هملته پيدا کړم، سخته ګرمي وه، ځای ځای به له آس څخه ښکته کېدم دمه به مې کوله او بيا به مې حرکت کاوه، له ډېر مزل وروسته را ورسېدم په پوښتنو، پوښتنو مې ځان سترې کړ، غرمه وه د يو کور له خوا څخه تېرېدم په کور کې د واده مراسم وه، له آس څخه را ښکته شوم د کور مخې ته ډېر خلک ناست وو.

په خپلو منځو کې يې خبرې کولې، آس مې پر ونه وتړلو، نږدې ورغلم له ټو کسانو سره مې سترې مشې وکړه او ورسره کيناستم. پوښتنه مو سره وکړه ځانونه مو سره معرفي کړل، مهاجر وو د خوست څخه راکډه شوي وو، يو سپين ږيری له حجرې راووت، ټول خلک ورته پورته شول له يوه يوه سره يې سترې مشې کوله، ډېر مېلمه پال سړی ښکاريدو، ټولو ورته مالک صاحب ويل، ښکلی سړی ښکارېدو. سپينه ږيره، سپينو جامو او توري لونګۍ يې وجود ته لا ښکلا او روب ور بخښلي وو، وار تر ما را ورسېدو، ګرمه سترې مشې يې راسره وکړه ويې ويل:



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې مسافر یې سترې راته ښکارې حجرې ته درځه لږ به دمه شې او ډوډۍ به دې هم نه وي خوړلې، ما د هو په معنا سر وخوځاوه، مالک صاحب د نورو سره سترې مه شې کوله، کله چې وزګار شو مخ یې را واړوه، زیاته یې کړه ځوانه راځه چې حجرې ته لاړ شو. ور روان شوم بیا مې ورته وویل: مالک صاحب هغه آس هم زما دی، مالک صاحب وویل: غم یې مه کوه ته زما مېلمه یې هغه به هم تابیلې ته په مزدور باندې بوځم، روان شوو حجرې ته ورسېدو او کېناستو، لویه حجره وه له مېلمانو ډکه وه، بالښت ته مې ځنګ ولګاوه، داسې راته ښکارېده لکه د مالک صاحب کریم، په حجره کې چې ناست وم، ذهن مې مصروفه شو سر مې پر بالښت ولګاوه سترګې مې پټې شوې

نرګس مې په ذهن کې غږونې کولې، راته ویل یې ژوند له بېلا بېلو پړاوونو ډک دی، کله غم کله ښادي، کله ژړا او کله خندا، خو انسان باید له حالاتو سره مقابله وکړي او خپل ځان ورته تسلیم نه کړي. خپل هغه هدف ته خان ورسوي چې په لټه یې راوتلی وي، هو بله دا خبره چې ته به هم ما نه هېروې، زه ستا په انتظار شپې او ورځې سبا کوم او زه باور لرم، چې ته ما نه پرېږدې، د مقصد خبره مې دا کوله چې ته اوس خپل هدف ته را رسیدلی یې، ته به خپله ورکه پیدا کړې، یوازې اوس حوصله وکړه، چا را باندې غږ کړ، لاسونه دې ومینځه، را پورته شوم، خوب مې لیدو یو ښکلی خوب و، لاسونه مې ومینځل، ښه ډوډۍ یې تیاره کړې وه، ډوډۍ مې وخوړه او هلک دسترخوان ټول کړ.

مالک صاحب حجرې ته راننوت، ماته یې وکتل زیاته یې کړه: آس دې تبیله کې تړلی دی او واښه هم ورته اچول شوي دي، نن همدلته پاتې شه زما د



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی واده دی، شپه را سره وکړه، بیا چې هر چېرته ځې نه دې را ایساروم، زه غلی شوم په لیدلي خوب مې سوچ کاوه ما ویل: هغې راته دا خبره ولې وکړه چې ته خپل هدف ته رسیدلی یې او خپله کورنۍ به پیدا کړې، ایا زما کورنۍ همدلته اوسیږي !؟ زما مور، پلار او زما نرګس، حیران وم چې څه وکړم د ماسپښین اذان وشو، جماعت ته لاړم لمانځونه مو په جمع سره اداء کړل، قرانکریم مې را واخیست او د سورت یاسین تلاوت مې شروع کړ.

په سترګو کې مې اوښکې راغلې او زړه ته مې یو ډول سکون حاصلېدو، وروستي لس سورتونه مې هم ولوستل او د لوی خدای (جل جلاله) څخه مې د خپلې کورنۍ د پیدا کېدو دعاګانې وکړې، له جماعت راووتم، د واده په لور ورغلم، په ناوي پسې موټر ورغلل او ناوي یې په ډېر خوند او خوشالۍ سره په سره ډولۍ کې راوړه، د مازدیګر دوډۍ لپاره یې ښه ترتیب نیولی و، زیات مصارف یې کړي وو او ډېرو خلکو پکې ګډون کړی و.

د ډوډۍ مراسم تېر شول شپه شوه، ټوله شپه مې په سوچونو تېره شوه په ذهن کې مې ډول ډول اند ېښنې را تېرېدې، په سهار مې یو خپل کلیوال ولید ډېر ورته خوشاله شوم، کلک مې په غېږ کې ونیو، سترګې مې په اوښکو لمدې شوې، کور ته یې بوتلم، د مالک صاحب له کلي څخه یو کلی لرې یې اړولي وو، په حجره کې کېناستو چای یې راوړو، زاړه مورکۍ یې هم د سترې مشې لپاره حجرې ته راغله، ور پورته شوم، د مور مینه مې پرې راغله، په دوارو مخو یې ښکل کړم، ما یې هم لاسونه ښکل کړل.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګو ته يې پړونی ونيو، په سلګو شوه، اوښکو يې په کونځې مخ کړښې جوړې کړې، زما سر يې په خپله سينه کلک ونيوه، ماته يې هغه شپه را ياده کړه، په کومه شپه چې زه له کوره په يوه داسې سفر روان وم، چې تر اوسه پورې هم پای ته نه و رسېدلی او مور مې کلک په غېږ کې نيولی وم، نرګس د ماشومانو پر څېر چيغې وهلې او ما داسې ژړل لکه، د غېږې ماشوم چې څوک د خپلې مور له غېږې په زور جدا کوي، سليم له مټ څخه ونيوم وې ويل: خدای (جل جلاله) به هر څه سم کړي، بس دې نور مه ژاړه، ځان مې را سمبال کړ، اوښکې مې پاکې کړې، کيناستو بالنبست ته مې تکيه ولګوله او د زړه څخه مې لږ بوج کم شو.

د سليم مور ته مې وکتل، د حال احوال پوښتنه مو سره وکړه، ويې ويل: زويه! ډېر لوی شوی يې، که سليم راته نه وای ښودلی، نو فکر نه کوم چې پيژندلی مې وای او رښتيا اوس خو مې سترګې هم کار نه کوي، نظر مې خراب شوی دی، د قديم زوی مرګ خو مې له ژوند څخه وويستلم، ظالمان دې خدای تباه او برباد کړي، هر چاته يې خپله برخه غم ورکړ، له سترګو يې بيا اوښکې راغلې، ما ورته وويل: قديم دې خدای (جل جلاله) وبخښي او ژوند د مرګ امانت دی، مونږ ټول به يوه ورځ مړه کېږو، سليم چای راوړ او پيالې يې ډکې کړې، په خبرو، خبرو مو چای سره وڅکلو، د سليم مور وويل: ستا د کورنۍ څه پته ونه لګېده؟ ما د نه په مطلب سر وخوځاوه، هغې وويل: مونږ هم ورپسې ډېر خفه يو او هر څوک چې راځي پوښتنه يې ترې کوو، خو خدای (جل جلاله) خبر دی، چې څمکه ولې دوه ځايه شوه او هغوی پرې ډوب شول، ماته يې مخ را واړوه خفه شوه، لکه چې ځان ته يې پام شو، هسې نه زما پر خبرو مايوسه او خفه



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي وي، ما ورته وويل: کله چې هغوی کډه کوله تاسو په کلي کې وئ؟ بوډۍ سر وخوځاوه، هو ! ما بيا وويل:

د واده له مراسمو او د جنګ څخه چې په هغه ورځ پېښ شوي و، لږ څه خبر شوم، غواړم د خپلې کورنۍ د بربادۍ او د نرګس د ارمانونو د رژېدو کيسه تکي په تکي واورم، بوډۍ ځان يوې او بلې خوا کاوه، پرې پوه شوم چې نه غواړي ما خفه کړي او کيسه راته وکړي، ويې ويل: چای وڅښه در څخه سوړ شو او زه هم کور ته ځم، سر مې درد کوي، په ډاډ مې ورته وويل: اوس له غمو سره بلد يم او بله دا چې که هر څه شوي وي اوس هسې هم شوي دي، خو زه بايد پوه شم چې دا هر څه ولې او څنګه وشول؟ بوډۍ په خپل ځای ښېرته کيناسته، سترګې يې له لاو ښکو ډنډ ښکاريدې خوله يې پرانيسته:

پسرلی و، خو هيڅوک يې پر خوند نه پوهېدل، هر سهار به ځينې کليوال د جان محمد حجرې ته تلل، هغې يوه لويه سرميزي راډيو درلوده، په اووه بجو به يې د (بي بي سي) راډيو خبرونه نيول، ټول به چوپ ورته ناست وو، خبريال به هره ورځ يو بد خبر اورولو، ويل به يې: نن پلانی ولايت تسليم شو او پلانۍ سيمه يې ونيوله، د مړو او زخميانو شمېر به له سلګونو يوه ورځ هم کم نه و او زمونږ تر لمنې هم را ورسېدو، خو د مالک صاحب عزيز خان په اور کې به هره ورځ سوځېدو، يوه ورځ يې د کلي په منځ کې زوی ډزې وکړې او نارې يې کړې چې د قدرت الله لور نرګس نور زما په نامه شوه.

ټولو کليوالو له بې وسۍ هيڅ ونه ويل او خفه، خفه خپلو کورنو ته لاړل، ستا پلار راغی د مالک عزيز خان زوی ته يې بې غيرته، بې ايمانه او بې



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرمه وويل او له غصې سور سور اوښتو، کليوالو را نيولی و، د عزيز خان زوی ادم خان يوازې ورته خندل او ويل يې بې چاره ملامت نه دی، ځوان زوی يې ورک دی، له ايران يې راتلل امکان نه لري، اوس به خامخا وژل شوی وي

په ملنډو يې د افسوس کلمه له خولې راووته، ورځ تېره شوه، څو ورځې وروسته يې خپله ژبه لا پسې اوږده کړه، ويل يې سبا به زما او د نرګس واده وي، دا خبره په ټول کلي داسې بده ولګېده چې توبه وباسه، د عزيز خان په کور کې د واده بندوبست او مجلسونه پيل شول، سبا شو ټول ويرې اخيستي وو، هيڅوک هم له کورونو نه وتل، هر چا په خپل کور کې وير کاوه، ماسپښين عزيز خان ډولې د قدرت الله د کور مخته ودروله، له ډولونو او سورنيو سره ولاړ وو.

ناڅاپه ډزې شروع شوې، ډولونه غلي شول، د واده ګډون والو چيغې پيل کړې، يوې او بلې خوا يې منډې وهلې، د کور مخته د عزيز خان مشر زوی، په وينو کې لوند پروت و، درندې ډزې کېدې، قدرت الله او ستا پلار په مورچو کې ناست وو او بې دريغه ډزې يې کولې، يو نيم دوه ساعته به نه وي تېر شوي، چې ستا پلار او قدرت الله د خپل عزت پر سر خپل روحونه غزرائيل ملايکې ته وسپارل او شهيدان شول.

عزيز خان ډېر په غصه و، د خپل زوی جنازه يې پورته کړه او کشري زوی ته يې وويل: راځه! ستا د ناوې ډولې به همدا نن او همدا شېبه پورته کوم، کور ته د ننه شو، ستا او د نرګس مور عزيز خان تر پښو لاندې کړې، هغوی ژړل او د لوی خدای (جل جلاله) څخه يې د هغوی د بربادۍ غوښتنه کوله. عزيزخان



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوټې ته دننه شو، منډه یې کړه او د نرګس څخه یې د زهرو ډک جام ونیوه، په ځنګ کې ور سره کیناست، ویې ویل: نه، نه نور مې تر دریو ورځو په تا اوبه او خواړه بند کړل او ته به نه څه خوري او نه څه څښې، قسمت بیل شی دی، د یوه په خوله کې شخوند په نصیب نه وي او بل یې ترې اخلي، جام یې پر سر واړاوه، نرګس ورته رډ رډ کتل سوړ اسویلی یې وباسلو.

عزیز خان وویل: دا څنګه اوبه وي !؟ حالات یې په خرابېدو شول، له کټ را وغورځېدو، په کوټه کې رغړیدو، چیغې یې وهلې، معده مې سوری شوه، مړ کېږم، څو دقیقې وروسته یې په ډېره سختئ ساه ورکړه، زنکدن یې ډېر سخت و، خدای (جل جلاله) دې مسلمان له داسې زنګدن څخه ساتي، د نرګس د ډولۍ پر ځای د عزیز خان جسد له کوره ووت.

کلیوال را جمع شول، ستا پلار او ماما یې له څوکیو راکوز کړل، غسل یې ورکړ، کفن یې ور واغوستل، مور دې، نرګس او د نرګس مور داسې ژړل چې ځانونه یې وژل.

ماز دیګر مولوي صاحب دوه جنازې وکړې او دوو قبرونو باندې خاورې واوښتې، ټول کلي ویر او ژړا اخیستی و، پر سبا چې خبر شوو ستا مور، نرګس او د نرګس مور خپل کلی پرېښودلی و او یوه نامعلوم لوري ته د خپل عزت د ساتلو په خاطر تللې و، کلیوال ورپسې ډېر وګرځېدل، خو پیدا یې نه کړل

د پلار او ماما مرګ مې په زړه کې اور بل کړ او د انتقام د تندې ماتول یې غوښتل، بوډۍ غلې شوه، ځانته مې پام شو، ګریوان مې په اوښکو لوند



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي و، له ډېرې ژړا مې سترګې خوږېدې، سلیم اوښکې پاکې کړې، ما وویل مور جانې!

آس مې د مالک صاحب په کور کې تړلی دی، له سهار راهیسې ترې راغلی یم او ورته ویلي مې هم نه دي. پورته شوم بوډۍ وویل: ښه ده اوس لاړ شه، خو دا کور خپل کور وګڼه او ما خپله مور، آس دې همدلته راوله، زه ترې ساتنه کوم، زمونږ مالداري هسې هم کمه ده او بله دا چې ته اوس استراحت ته ضرورت لرې، د کلونو، کلونو مزدورۍ او د کورنۍ بېلتون وهلی یې، په ځان دې باید ډېر پام وکړې، د خپلې کورنۍ لپاره، د خپلې نرګس لپاره. هغې درته کلونه، کلونه انتظار کړی دی، ښه اوس لاړ شئ، ترې راووتو، د سلیم مور د خپلې مور په څېر مینه راکوله، د مالک صاحب تر کوره پورې ما او سلیم سره هیڅ و نه ویل.

د حجرې مخې ته څو کسان په کټونو کې ناست وو، سلام مې ور واچاوه او کیناستو، یو ځوان را پورته شو، سترې مشې یې راسره وکړه، ویې ویل: زما پلار دې څو ځله پوښتنه وکړه، ویل یې چې راشي ماته یې حجرې ته راوله. چو په خوله ور پسې روان شوم، سلیم هم راپسې و. حجرې ته دننه شوو، له مالک صاحب سره څو نور سپین ږیري هم ناست وو، تو کې ټکالې یې سره کولې، حجره لویه وه، زه د دوی خواته کېناستم، دوی مې خبرو ته سره پرېښودل، د ځوانۍ خاطرې یې بیانولې، چې ښه سره ستړي شول، سپین ږیرو رخصت واخیست او لاړل.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالک صاحب را باندې غږ کړ: راځه هلته ولې ناست يې، ورغلم څنګ کې ور سره کېناستم مالک صاحب وويل: چېرته تللی وې؟ ما وويل: دا سليم نومېږي او زما کليوال دی سهار مو سره وليدل او له ده سره کور ته لاړم، زه غلی شوم، مالک صاحب په خير، خير راته کتل زياته يې کړه:

له پرون راهيسې دې چې وينم، ښېره دې له ډېرو غمونو او رازونو راته ډکه ښکاري او رښتيا ستا نوم؟ ما وويل:

نوم مې عابد د خوست ولايت يم، ملک صاحب وويل: ډېر ښه دلته دې څنګه را پيښه کړې ده؟ زه غلی شوم ملک صاحب را څخه په چل چل د ژوند د خبرېدو پوښتنې کولې، سليم وويل: ملک صاحب عابد په تنکۍ ځوانۍ کې ايران ته مسافر شو. سليم همدا سې کيسه پسې وغځوله، خو ما يې کيسې ته غوږ نه نيوه، ځکه چې زه ډېر پر خپل برخليک...

نرګس مې سترګو، سترګو ته کېده، د هغې مينه، معصومتوب، ښکلا او هغه له مينې ډک ليکونه، چې ايران ته به يې راليږل او زما حوصله به يې زياتوله، نه پوهېږم چې څومره وخت به تېر شوی وي. سليم وښوروم پر خپل حال شوم، ملک صاحب خبرې کولې او زما پر حال يې افسوس کاوه، سترګې يې را واړولې ويې ويل: عابده! دا خپل کور وګڼه ته زما د زوی په شان يې، له لومړي نظر چې مې ليدلی يې په زړه کې مې خوا خوږي در سره پيدا شوه او بله دا چې د سليم خبرو خو ډېر زړه ته راتېر کړې، ته به نور هيچېرته هم نه ځې، له



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ سره به اوسې، زه د ټر دوستان لرم او د پښتونخوا په هره سیمه کې خپل خپلوان لرم.

ټولو ته به زه ستا د کورنۍ د پیدا کېدو ووایم، هغوی به یې ضرور پیدا کوي، په دې سره د ملک صاحب زوی د ډوډۍ سره یو ځای راغی لاس ته یې اوبه را واچولې دسترخوان یې هوار کړ، ډوډۍ مو سره وخوړه، د ملک صاحب زوی ته مې وویل: چې هغه زما آس څنګه دی؟ هغې وویل: پرون ښه و، خو نن نه پوهېږم، نه څه خوري او نه څښي، لکه بت ولاړ دی، زما په فکر ته یې یادېږې، ملک صاحب موسکی شو، زوی ته یې وویل: را ویې باسه، د خوړ پر لور لږ چکر ولګوئ آس به هم وګرځوئ او ستاسو به هم لږ ساعت تېر شي.

هلته ډېرې ښکلې اوبه بهېږي او شنه وابښه هم شته، آس له سهار څخه څه نه دي خوړلي چې لږ موړ شي، د ملک صاحب زوی کور ته لاړ، مونږ له حجرې بهر راووتو، څو شیبې وروسته د ملک صاحب زوی له دروازې را ښکاره شو، رسۍ یې په لاس کې نیولې وه آس یې بهر را وباسلو، څو قدمه وړاندې ورغلم لاس مې ور باندې تېر کړ، سر یې ټیټ نیولی و، ورمېږ مې ور باندې وګرولو، ګیله من راته ښکارېدو، پړی مې په لاس کې واخیستو ترې خلاص مې کړ او مخکې روان شو.

آس له شا غلی، غلی را پسې روان و، خوړ ته ورسېدو، د ملک صاحب خبره رښتیا وه، په خوړ کې شنې اوبه بهیدې او پر غاړو یې شنې ونې، ښکلې وابښه او بېلابېلو ګلونو خپلې غوټۍ سپړلې وې او د خوړ غاړې ته یې یو شاعرانه او جذاب رنګ ور بخښلی و، د خوړ پر غاړه د یوې لویې ونې سیوري



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته کېناستو او د بهیدونکو اوبو له شوره مو خوند اخیستو، ځای ځای خلک خوړ ته را کوز شوي وو، چا پکې لامبو وهله او چا پکې ماهیان نیول، ډېر ښکلی تصویر یې زما زړه ته راکولو، خو ما یو کمی احساسولو، چې کاش دلته دې ښکلي منظر ته یوازې نه وی راغلی، که څه هم دوه کسان را سره وو، هغوی را سره د غم په لرې کولو کې مرسته کوله او د خوړ د اوبو او ښلابښلو ګلانو خوا ته به یې متوجه کولم او صفتونه به یې راته کول، خو زه کونږ شوی وم، په دې شپو ورځو کې د لیونتوب تر حده رسیدلی وم.

ډېر نا امیده شوی وم، خو کله چې هغه خوب را یاد شو، چې سیما راته ویلي وو، ته لږه نوره هم حوصله وکړه، خپله ورکه به پیدا کړې اوس خپل هدف ته رسیدلی یې، نو لږه حوصله به مې پیدا شوه، تر ډېره د خوړ په غاړه ناست وو او ماز دیګر د ملک صاحب د کور پر خوا را روان شوو.

لږ مې حالت ښه شو، شپې او ورځې تیریدې، لس دوولس شپې وروسته مې زړه ډېر تنګ شو، نه پوهېدم چې څه وکړم اخیر مې پریکړه وکړه، چې یو ځل به خامخا خوست ته ځم، د خپل پلار قبر به وګورم، د خپل کور او کلي څخه به هم لیدنه وکړم، له ملک صاحب څخه مې رخصت واخیست، آس هم خپله ستوماني ایستلې وه، ور پورته شوم، د سهار ستر ګه لا نه وه راختلې چې حرکت مې وکړ، ځای ځای به مې دمه کوله او ورو، ورو خپل کلي ته نږدې کېدم او اخېر د کلي خواړه هوا تر سپوږمو را ورسېده، خو د خوښۍ پر ځای مې د غم احساس وکړ او سترګو ته مې د اوښکو بهولو بهانه جوړه شوه، زړه مې راته ویل چې ته ولې ورځې !؟



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک به تسلي درکړي، بدون له درده؟ له غمه ته نور هیڅ هم نه شې ترلاسه کولی، د کور رنګ دیوالونه به درته خپل ماشومتوب او خپله نرګس دریاده کړي، د پلار قبر به د مور او پلار مینه، د هغوی ناز او د هغوی ګرانښت دریاد کړي، په سوچونو کې وم، آس په ارامۍ مزل کاوه، لکه چې ستومانه شوی و.

له لرې مې پر خپله هدیره سترګې ولګېدې، ورو ،ورو ور نږدې کېدم، په هدیره ولاړې ونې ټولې وچې شوې وې، لکه چې په انسانانو پسې خفه شوې وې او له غمه وچې شوې وې د هدیرې لوی ډنډ چې هر وخت به له شنو اوبو ډک و، اوس پکې د الوتونکو لپاره هم اوبه نه وې.

له آس ښکته شوم ټولو قبرونو ته مې دعا وکړه، اخېر د پلار قبر ته ورغلم، د سلیم مور راته ویلي وو، چې د نیکه ترڅنګ یې ښخ دی، قبر ته مې وکتل نږدې وه چې زړه مې وچوي، د پلار قبر مې ولیدو، قبر دومره زوړ شوی و، چې تا به ویل د پېړیو، پېړیو قبردی، دوعا مې ورته وکړه، د قرانکریم څو ایتونه مې پرې تلاوت کړل، قبر مې له سره ور باندې تازه کړ، خاوره مې ور باندې واچوله او لرې غره ته لاړم، سپین کاڼي مې راوړل، ور باندې و مې اچول، همدا شان د نورو اقرباوو قبرونه مې هم لږ سره سم کړل، د پلار د قبر پر لور راغلم ژړا نه راتله.

د غمونو او دردونو سره اوس عادت شوی وم، خو زړه مې بې دربغه چیغې وهلې، زه هم حیران وم کېدای شي دا د غمونو یو بل پړاو وي، وروستی پړاو، ورځ مې هملته تېره کړه، د ماښام په تیاره کې په ویره، ویره خپل کور ته



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړم، په کلي کې هیڅوک هم نه وو، لوی، لوی چینارونه، توتان او داسې نورې ونې چې زمونږ د کلي ښکلا یې یو په دوه کړې وه، ټول وچ شوي وو، په لارو کوڅو او کورونو کې ځنګلي واښه شنه شوي وو.

کلی په یوه ځنګل بدل شوی و، کور ته د ننه شوم آس مې وتاړه، یوې او بلې خوا ېکې ګرځېدم، د ماشومتوب تت تصویرونه به یو، یو زما او ښلنو سترګو ته درېدل او زه به یې کله وژړولم او کله به مې بې دریغه وخندل، له آس مې زین ښکته کړ، له بل هر ځای خپل کور راته خوندي ښکاره شو، فکر مې وکړ، چې همدلته به شپه وکړم، له کوټو داسې ښکارېده چې په دغه دوو کلو کې ورته چا سر هم نه دی را ښکاره کړی، فکر ته مې هغه الماري او هغه کتابونه راغلل، په بېړه کوټې ته دننه شوم، الماري په همغه ځای په دیوال کې ځای پر ځای شوې وه، ور نږدې شوم، لاسونه مې لړزېدل په سختۍ مې د الماری دروازه خلاصه کړه، په کتابونو خړ ګردونه پراته وو، یو، یو مې له ګردونو پاک کړ، ښکلول به مې، ما به ویل دا به نرګس په لاس کې نیولي وي، لوستلي به یې وي، د لاس لیکنې به مې لوستلې، په سترګو پورې به مې نیوې، او ښکې به مې ورته تویولې، سپوږمۍ او ستورو را سره ښه ملتیا کوله، په رڼا یې ټوله خمکه سپینه ورځ ګرځولې وه.

دیوال ته مې ډډه ولګوله، کتابچې یې ټولې له ښکلو، ښکلو لیکنو ډکې کړې وې او د ژوند ډېرې شېبې یې د مینې په خیالي نړۍ کې د خپل محبوب سره تېرې کړې وي.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای، ځای به یې له هجر سر تکولی و، اوښکې به یې د کتابچې پر پاڼو توی شوې وې او د لیکنو ځینې برخې به یې رنګې کړې وې، شاعرانه خبرو به یې له دې جهانه کوم بل جهان ته بوتلم

ځای ځای به یې دومره ښایسته لنډۍ لیکلې وې چې د یوې حیاناکې پښتنې د مینې اظهار به پکې شوی و.

کاغذ لیکلی ترینه واخلئ
د اوسنی زمانې یار دی تګ به وینه

د بېلتون زور راته معلوم شو
په میړې پښه نه ږدم چې یار به یې پاتې شینه

زما د زړه بازار دې وران کړ
په دې وران شوي بازار بیا راشه مینه

که فکر بند په زولنو کړم
چې رانه خلاص شي برابر جانان ته ځینه

ستا په راتلو زما باور دی
تر زنګدنه انتظار درته کومه



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا شان ادبي ټوټو، لنډو کیسو او شعرونو به یې د یوه لوړ شخصیت ځرګندونه کوله، په همدې کې خوب په خپله غېږه کې اخیستی وم او بل جهان ته یې ویوړم، خوب مې لیدو نرګس په ډېرو مشـکلاتو کې وه، مخې ته راغله لاس یې راکړ، غړېو نیولې وه په غېږ کې را ولوېده، پـه سـلګو کې یې راته وویل: ته بیا ولې دومره لرې را څخه لاړې؟ زه خو درته انتظار وم چې سـهار یا مازدیګر به دروازه را ټکوې، خو ته بیا خپله لار بدله کړه، نه پوهېږم تر کومه به را پسـې سـرګردانه ګرځې، نور راشـه ژر کوه ما پیدا کړه، هجر دې نه شم زغملی او دا سختې شیبې به تر کومه را باندې تیرېږي !؟

خیر دی یو ځل راشـه له دې سره یو دم را ویښ شـوم، شـپه وروستۍ برخې ته رسـیدلې وه، په فکر کې شوم، یو ځل سـیما راته په خوب کې راغلې وه، چې ویلي وو: اوس خپل منزل ته رسـیدلی یې او اوس نرګس پـه خوب کې راغله چې لـه ما ولې دومره لرې لاړې یا خدایه ! دا څه معنا لري؟ ایا نرګس او زما مور د ملک صـاحب په کلي کې اوسېږي؟ خو بیا ولې ملک صـاحب راته ونه ویل؟ ځان سره مې پریکړه وکړه چې همدا اوس باید روان شـم او هملته یې پوښـتنه وکړم، کېدای شـي ملک صـاحب ته معلومات نه وي او هغوی یې نه وي پېژندلي، پورتـه شـوم ټول کتـابونـه کتابچې هر څه مې په خپل ځادر کې واچول پر آس مې زین برابر کړ او ځادر مې هم ور باندې وتاړه.

د سهار په خړه کې له کوره ووتم او د ماشومتوب د خاطرو ډک کور مې یوازې پرېښـود، ترې روان شـوم ژر، ژر بـه مې مخ ور اړولو، داسـې راتـه ښـکارېده لکه چې نرګس تـه مخ ور اړوم او ایران ته په لوی سـفر روان وم،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

حواس مې را ټول کړل، سفر ته مې دوام ورکړ، د سهار لمونځ په قضا کېدو و، چې د خوست ښار ته ورسېدم، داسې مناسب ځای راته پیدا نه شو، چې لمونځ پکې وکړم، وړاندې مې وکتل پر مېخانیک مکتب مې سترګې ولګېدې، ور روان شوم دروازه یې په بمونو الوزول شوې وه.

له دروازې ور ننوتم ژر، ژر مې لمونځ اداء کړ، خدای (جل جلاله) ته مې لاس ونه پورته کړل او خپلې کورنۍ او خپل هېواد ته مې د لوی خدای (جل جلاله) څخه امن وغوښتو، د اسمان په لور مې وکتل، په لوی چنار د سهار زیړ لمر ولګېدو او یوه ښکلې توتکۍ له یوه ښاخ څخه بل او له بل څخه بل ته ټوپونه وهل، داسې چغارې یې کاوه، چې د انسان زړه یې سوری کولو، یو چا مې د شا له خوا پر اوږه لاس کېښودو، مخ مې ور واړولو پورته شوم و مې نه پیژندو، په غېږ کې یې ونیوم، زیاته یې کړه:

لکه چې و دې نه پیژندم؟ نه و مې پیژندې، زما د سفر ملګری محمد نور یې، ولې به د هغه سفر ملګري هېروم، چې سفر مې ور سره تېر کړی دی، خو زه نه پوهیږم چې دا ولې په مونږ داسې حالات راغلي دي، اخېر ولې خدای (جل جلاله) په کوم ګناه نیولي یو؟ له غېږې مې بېل شو، سره کېناستو، د مسافرې خاطرې مو سره یادې کړې، اوښکې مو سره توی کړې، د ایران په اړه مې ور څخه وپوښتل، د سیما پوښتنه مې ترې وکړه، محمد نور له ملک صاحب سره په کارخانه کې کار کاوه، د سیما په هکله یې څه نه راته ویل، خو اخېر مې مجبور کړ، محمد نور وویل: ته چې راغلې نو سیما ډېره سخته ناروغه شوه،



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټرانو يې ناروغي نشوه معلومولی، اخير يې ناروغي يوه داسې ناروغي جوته شوه، چې.....

ما وويل: څه د څه شي ناروغي يادوې؟ ته ولې چوپ شوې ولې څه نه وايې؟ محمد نور په پرېشانه غږ وويل: هغه د کينسر په ناروغۍ اخته شوې وه، هره ورځ به يې له بلې ورځې بدتره وه او له څو مياشتو وروسته به يې يوازې ستا نامه ډېره اخيسته، هيڅ يې نه خوړل او د ژوند ورځې يې په ختمېدو شوې وې او داسې ورځ هم راغله، چې هغې خپله ساه ستا د نامې په اخيستو او (لااله) په ويلو سره خپل رب ته وسپارله، هغه غلې شو.

زه حيران وم، د سيما په مرګ مې له زړه څخه سرې وينې بهيدې، چوپ وم، هيڅ مې نه ويل، بې کسي او بې وسي مې سترګو ته اوښکې راوستې او د ګريوان پر لور يې لارې خپلې کړې، محمد نور وويل: ژاړه مه، دا به د لوی خدای (جل جلاله) رضا وي، زياته يې کړه: ډېر خوشحاله شوم چې سره و مو ليدل، زه نور څم محمد نور لاړو. د پورته کېدو نه وم، لاس مې ورکړو او لاړ په سوچونو کې ډوب شوم، د سيما مينه، سپېڅلتيا، ښکلا هر څه راته يو، يو ياد ته راتلل، چې ناڅاپه د ټوپک ډز شو، د سوځېدلو تعمېرونو پر طرف مې وکتل، وويريدم او ورو، ورو ور روان شوم. دهلېز ته ننه شوم، غلی، غلی مخکې لاړم، يو کس له بل د خزانې په اړه پوښتنې کولې، هغې زګېروي وهل او دډېيا هم په مرګ ګواښه، پښه مې په تيږه ولګېده له خولې مې چيغه ووته، پر ځمکه را پرېوتم، ژر پورته شوم، ترڅو مې څوک ونه وينې او يوې کوټې ته ننه شوم، يو څوک په منډه په دهليز کې را روان وو، زړه مې بې واره درزيده



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

له وداني څخه په منډه ووت، په احتياط له کوټې راووتم، داسې من شـوم، چې نور څوک نشته مخکې لاړم، زګيروي مې واوريدل، يو ځوان پرمخې پر ځمکه په کوټه کې پروت و، په لټې مې را واړاوه.

په ليدو يې حيران شـوم، څېره يې اشـنـا راته معلومه شـوه، اخېر مې وپيژندو، هغه څوک و چې زما ارمانونه يې رژولي وو، زما کورنۍ يې برباده کړې وه، زمـا نرګس يې ژړولې وه، اوس پـه خپلو وينو کې لـت پـت پروت و، غصـه مې ورته راغله، غوښـتل مې چې هملته يې ووژنم، خو د څه ويلو اراده يې لرله، ما ورته وويل: ووايه! څه وايې ايا اوس دې را باندې زړه يخ شو، چې زما ژوند او زماکورنۍ دې راتـه برباد کړل؟ پـه سـختۍ يې وويـل: مـا، مـا وبخښـه، يوه خبره درته کوم، زمونږ د کور د تابيلي په لر کونج کې زما پلار د سرو زرو خزانه ښخه کړېده، هغه در سره واخله، خپله کورنۍ دې پيدا کړه او ما، ما وبخښـه، له دې سره يې په خوله وينه راغله، سر يې کوږ شو او له دې فاني نړۍ يې سترګې پټې کړې.

يو چا د شا له خوا د ټوپک پر کونداغ ووهلم، پر ځمکه پرېوتم، د پورته کېدو هڅه مې وکړه، خو بې واره ګوزارونه يې را باندې وکړل، ورو، ورو مې خپل مغزه لـه لاسـه ورکول، ګډ وډ حالات راباندې راتلل، ځمکه را باندې ګرځېده، اسمان را رڼګيدو او پر ځان پوه نه شوم. او مورې زما خوارې مورې، په ما ګرانې مورې! زما د زړه درمانه مورې! زما د سـترګو توره! مورې سـتا په ليدو مې هر څه ياد ته راغلل، مغزه مې پر ځای شول، سترګو مې رڼا وليده، په غيږ کې يې د يوه ماشوم غوندې ورولوېدم، دومره په چيغو، چيغو او د زړه



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

t.me/Maaher786

له زوره مې وژړل، چې تا به ويل د کوټې ديوالونه به وغورځوي، د مور په غېږه کې تر ډېره پروت وم، بيا مې خپلې خويندې په غېږه کې ونيوې، ومې ويل زه وايم چې خوب وينم خو شکر خوب نه دی.د لاتين رڼا تته شوې وه، د مور شاته مې يو څوک احساس کړل، چې ورو ، ورو يې ژړل، زړه مې ودرزيدو، غوږونو مې ژړا ماغزو ته ورسوله او اشنا ورته معلومېده، ځای په ځای ودرېدم، په زوره مې يو دوه قدمه واخېستل، يو څوک پورته شول، دنګه ځواني، حياناکې او غټې سترګې. په ليدو مې نور صبر و نه شو کړای، هغه نرګس وه، زما مينه، زما ژوند ، زما هر څه او زما د ماشومتوب ملګرې کلکه مې په غېږه کې ونيوه او په څو دقيقو کې مو د کلونو خواله سره وکړه او ټولې ګيلې مو له زړونو ووتې.



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کتاب د ماهر-MAAHER چینل څخه ښکته کول شوی

Scanned with CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**